# د موضوعاتو فهرست

عنوان ـــــــــــــــــــــــــــــــــ مخ

دموضوع ارزښت او د انتخاب لاملونه ........................................................................ ح - ط
سريزه..................................................................................................................م- س
دبند تاريخچه........................................................................................................2
داسلام له نظره دجنګي بنديانو پيژندنه او دهغوی حقوق ........................................................6
په اسلام کي دجنګي بنديانواحکام.................................................................................... 15
په اسلام کي لومړني جنګي بنديان.................................................................................... 22
په اسلام کي دجنګي بنديانو امتيازات اوحقوق..................................................................... 25
په اسلام کي دتبا دلي تاريخي سير .................................................................................... 29
په اسلام کي دجنګي بنديانو د آزادولو طريقي اوحقوق........................................................... 32
جنګي بنديان دنړيوالوحقوقوله نظره .................................................................................. 36
د جنګي بنديانو وضعه او حالت........................................................................................ 41
جنګي جنايتکاران........................................................................................................ 46
دجنګي بنديانو مجازات اود اسارت پای............................................................................... 61
داسارت ( بنديتوب ) پا ی................................................................................................ 64
په روانه نيمه پيړۍکي د جنګي بنديانو سره د نړۍديو شميرهيوادونودچلند نموني........................ 66
دعربو اواسرائيلو دجګړو بنديان........................................................................................ 67
دکوريا دجګړې بنديان.................................................................................................... 68
دهند اوپاکستان دجګړې بنديان......................................................................................... 69
د ايران اوعراق دجګړې بنديان ........................................................................................ 70
په افغانستان کی د بنديانو اوسنی حالت............................................................................... 77
په عراق کی د جنګی بنديانو اوسنی حالت.........................................................................107
پـــايلـــه .................................................................................................................120
اخځليکونه ................................................................................................................122

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دبند تاریخچه

بند په هرشکل او هر هدف چی وی آساساً یو ډول فزیکی او نه غوښتونکی محدودیت دی.

نو ویلی شو چی بند یا حبس دتاریخی لحاظه چی په یونانی او کتاب (پیدایش) چی دا د تورات د بابونو څخه د یو نوم دی په معمولی ډول دیوی پراخه مجموعی په ډول د هغه مجازاتو لپاره استعمالیږی چی د شخص آزادی پکی محدوده کیږی.

په پخوا وختونو کی بند عبارت ؤ له: دمحکی لپاره په موقتئ ډول نیول یا هم د نورو عملونو لکه: شخص دومره وهل چی تر مرګه په ورسید، د عضاؤ قطع کول، د آزادی محدود کول، د خوراک او څښاک څخه لیری ساتل حتی د مرګ تر حالت پوری .....) ددی لپاره چی موضوع پراخه نشی نو دمختلفو پیړو په تیریدو سره بند ته یو ځغلنده نظر اچوؤ:

## یونان (آتن):

(هوید) یو یونانی شاعر ؤ چی (۷۰۰) کاله مخکی له میلاد څخه یی یوه مهمه شیوه بیان کړله چی عبارت ده له:(توانایی زیستن مطابق قانون وعدالت است که انسان را انسان کره است).

همدغه قانون ؤ چی زئوس هغه د بشریت لپاره بنسټ وګرځولو، هغه دا چی ماهیان، وحشی حیوانات، پرنده ګانو یو بل ته د ژوند کولو طمعه لری ځکه دوی نظم لری پس زئوس هم عدالت د بشر د پرمختګ یوازنی دلیل وګڼلو چی دا د انسانانو په ژوند کی ډیره زیاته (ثروت) دارائی ده.

## پخوانی مصر:

په یونانی تاریخ کی راغلی دی چی لومړنی زندنان چی منځته راغلی ؤ د (۱۷۸۶ څخه تر ۲۰۵۰) ترمنځ دی؛ فرعونیانو د خپلی بادشاهی دعمومی نظم دساتلو لپاره یوازنی او پاکه وظیفه بللی وه؛ همدارنګه فرعونیان او دهغوی خادمان نه ظالمان ؤ اونه هم مستبد چی د پادشاهی د میانه روی لپاره یی عمومی نظارت کولو خو بند یا حبس یی دهغه جزاء ګانو لپاره استعمالولو چی هغه به دومره خطرناکی وی چی له مرګ سره به پیوسته کیدلي.

## پخوانی اسرائیل:

د مصر او بین النهرین په شنو منطقو کی مختلفی قبیلی د شپنو او تاجرانانو وی چی دغه قبیلی د قبیلوی رئیسانو په واسطه رهبری کیدلی ژبه (سامی) اونور کړه وړه یی دهمدغه ځای د اوسیدونکو څخه چی ددغه ځای اوسیدونکو مصری اوبابلی خدایان نه پریښودل خو وروسته یوکس د دوی څخه شرقی طرف ته وتښتید چی فلسطین ته ورسیدل نو د دوی قبیله دیو خپل واکه مذهب خاوندان شول ددغه مذهب تهداب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د الله(ج) اويهودی قوانينو چی د موسی(ع) د دين په قالب کی يی اچولو ۆ جوړ کړ؛ ديهودو دتاريخ اصلی منبع مقدس کتاب (عهد عتيق) يعنی تورات دی.**

**په تورات کی (۱۷) ځايه د بند يادآوری شوی ده چی ددغه جملی څخه يی (۱۲) د بيدون د يهودو له قبيلی څخه په نورو قبيلو کی صورت نيولی دی چی دغه دبند مختلفی نوعی د مختلفو مواردو په باره کی منځته راغلی چی دغه قبيلی په مصر او آشور کی وی.**

**لومړنی دجرم نمونه چی په يهودی تاريخ (تورات) کی ثبت شوی هغه د (آدم(ع) او بي بي هوا(ع)) سرکشی دخداي(ج) د آمر څخه ده، دوهمه د هابيل قتل دی د قابيل په واسطه چی دغه دواړو ډلو سرکشو ته الله(ج) جزاء ورکړله.**

## <u>اروپا په منځنينو پيړيو کی:</u>

**غربی اروپا تر دولسمی پيړی پوری هيڅ قوانين نه درلودل، په آلمان کښی زندان موجود ۆ خوپه کمه اندازه به د مجازاتو په عنوان ورته اشاره کيدله همدارنګه په د آيتاليا په لمباردی اود اتمی پيړی په اوايلو کی د ليوتپراند په پادشاهی کی قانونی رواج ومومند.**

## <u>روم:</u>

**د روم ښار د ايتاليا دمرکزی ښارونو له جملی څخه دی ددغه ښار جوړيدل له ميلاد څخه ۷۵۳ کاله مخکی صورت نيولی دی چی دغه ښار د ميلاد څخه (۵۰۹) کاله مخکی د پادشاهانو پواسطه اداره کيدلو او وروسته يی يو جمهوری ډوله شکل اختيار کړ چی په سر کيی دوه قاضيان ۆ او دغه قاضيانوته به يی (کنسول) ويل او دغه کنسول د ډيرو نورو فرعی قاضيانو درلودونکی ۆ چی هغه ته به يی (پراتور) ويل او دغه قاضيانو به اصلی حقوقی قضيی انجام کولي.**

**په (۴۵۱) ميلادی کال کی يی د( الواح دوازده ګانه ) په نامه حقوق جوړ او چاپ کړل په دغه حقوقی منبع کی يی حبس د بدو کارونو او خطرناکو اعمالو لپاره د (ارګاستولوم) لومړنی منبع منځته راوړله او همدغه خبره په تاريخ کی (ليوی) کړی ده چی دغه کار په (۳۵۸) مخکی له ميلاد څخه صورت نيولی دی .[1]**

*([1]) تاريخچه زندان، ليکنه : جمعی از پژوهشگران، ترجمه اوتحقيق ـ محمد رضاګودرزی بروجردی، ص۶۰،۴۴،۳۸،۳۵،۲۹ ، نشرميزان۲۰۸ تهران کتابخانه ملی آيران.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام له نظره بند:

**مونږ پوهيږو چې دانسانانو ترمنځ هميشه جنګونه اوتيري يو پربل واقع شوي او واقع كيږى چې ددې جنګونو په ترڅ کې هميشه انسانان وژل شوي ،زخمي شوي،اوبنديان شوي  اودا اسيران يا بنديان چه د دوه دښمنو ډلو دجنګ په ترڅ کې ديوي خوا جنګيالي دمقابل طرف دجنګياليو لخوا ژوندي نيول کيدل هميشـه مظلـوم اوبـې دفـاع ؤ لـه هغـوى  سره دنيوونکـو لخـوا چلنـد د تـاريخ  پـه مختلفـو پړاوونـوکي توپيردرلود داسلام دمبـارک دين لـه راتګ نـه مخکـې ددا ډول افرادو وضـع اوحالـت نهايت خـراب ؤ اود نيوونکـو لـه خـوا بـه ورتـه ډيـري شـديدي جزاګـانی ورکـول کيـدي لکـه پـه اورکـې سوځول،دپوسـتکي ويستل،دنوکانو ويستل ،اعدامول، پـه غلامـي نيول،اولـه ملـک نـه تبعيـدول . ددا ډول جنايـاتو يادونـه پـه قرانـکريم اود تـاريخ پـه معتبرو کتـابونوکي شـويده الله (جل جلالـه) دبـروج پـه سـورت کـې ددې جنايـاتو ځنـي نمونې يادوي اوفرمايي:**

) [illegible] ([1]

---

[1]) *قرآنکريم – البروج سورة، ۸-۴ نمبر آيت.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: مړه دي وي دخندق انسان سوځونکي هغه وخت چې دخندق تر څنګ ناست ؤ او په هغه کې دمؤمنانو دسوځولو او شکنجې ننداره کوله هغوی له مؤمنانونه دانتقام اخيستلو لپاره بله بهانه نه درلوده بغير له دې چې هغوی په حميد او عزيز خدای (جل جلاله)باندې ايمان رواړی ؤ.**

**په دې ايت شريف کې الله (جل جلاله) ديهودانو بعضي اقوامو ته اشاره کوي چې دوخت له مؤمنانوسره چې په غالب احتمال دنجران مسيحانو سره يې دا ظلم کړی ؤ.**

**پخوا نه يواځې داچې ددښمن دنيول شويو جنګياليو سره دا ډول چلند کيده بلکې دمغلوب طرف ټول اموال، ښځې، ماشومان او بوډاګان به هم له دا ډول چلند سره مخامخ ؤ يهودانو دا ډول مظالم ظاهراً دتورات داحکامو پر آساس ترسره کول په تورات کې لولو (( هرهغه څه چې په ښار کې وو لکه ښځې، نارينه ، ماشومان حتی دهغوی حيوانات هم مونږ تر تورو لاندې ووژل )) . خو داسلام مبارک دين دجنګي بنديانو او د نورو کسانو ترمنځ تفکيک وکړ او ددښمن په مال، ښځې اوماشوم باندي يې تيری کول حرام وګرځاوه اوجنګي بندي ته يې يو سلسله حقوق او امتيازات ورکړل خو په کفري نړۍ کې حتی د۱۹ پيړی تر نيمايي پورې دجنګي بندي سره ظلم او زياتی روان وو چې ښه مثالونه يې تر اتمې ميلادي پيړۍ پوري دکليسا په حکم دجنګي بنديانو او هغو کسانو په اورکې سوځول دي کوم چې دپاپ دعقيدې ضد نظرياتو باندې متهم ؤ همدارنګه دمسلمانانو سره دمسيحيانو تګلاره دصليبي جګړو په ترڅ کې ښه روښانه ده چې دبيت المقدس په يوځلي محاصره کې دمسلمانانو پنځوس زره تنه (۵۰۰۰۰ ) ښځې اوماشومان په شهادت ورسول چې په تاريخ کې ددې ظلمونو تفصيل په ډير ښه ډول سره راغلی کوم چې عيسويانو به له جنګي بنديانو خصوصاً له هغو بنديانو سره کول کوم چې دبلې عقيدې پيروان به وؤ.[۱])**

**او بيا په دې وروستيو وختونو کې دلومړي او دوهم جهاني جنګ په دوران کې داروپايانو برخورد له جنګي بنديانو سره خصوصاً د نازي المان درهبرانو چلند چې له ټولو جنګي بنديانو او يهودانو سره يې ترسره کړل دهغوی په تاريخ کې دننګ اوشرم ټکي دي چې په هيڅ ډول دغربي نړۍ چارواکي دجنګي بنديانو لپاره د حقوقو په ورکړه قايل نه ؤ؛ يو عالم چې (ګرسويس) نوميږي او په غرب کې ورته د بين المللي حقوقو پلار ويل کيږی کله چې له ده نه و پوښتل شول چې آيا جنګي بندي ته بايد حقوق ورکړل شي او که نه؟.**

---

*[۱] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۴۹ ـ ۵۱، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب يې بالکل منفي ؤ اويې ويل چې جنګي بندي ته بايد دزخم دتړلو اوپټۍ حق هم ورنه کړل شي .

خو بيا وروسته دمللکرملتونو سازمان په منځ ته راتک او د دولتونو ترمنځ ديولړ تړونونو او موافقو تر لاسليک وروسته په ( ١٩٤٩ م ) کال کې له جنګي بنديانو سره دچلند په اړه دجنيوا بين المللي کنوانسيون تصويب شو چې په نتيجه کې داسلام دمبارک دين داصولو او قوانينو نه په استنباط جنګي بنديانو ته ځيني حقوق ورکړل شول او دهغوی په وضع او حالت کې ورسره نسبي بدلون راغی خو لا هم هغه ډول حقوق چې جنګي بندي ته اسلام ورکړي په نړيوالو تړونونو او کنوانسيونونو کې نه ترسترګو کيږی دا چې داڅه ډول حقوق دي چې داسلام مبارک دين جنګي بنديانو ته ورکړي او جنګي بنديان څوک دي نو بايد مونږ لومړی داسلام له نظره جنګي بنديان وپيژنو او وروسته به يې بيا په حقوقو بحث وکړو.[1]

---

*[1]) ارفعی، عاليه، ومحمود مسائلی، جنگ وصلح ازديدگاه حقوق و روابط بين الملل، ص ٢١۴-٢١۶، چاپ دوم، تهران: وزارت امورخارجه مؤسسه چاپ و انتشارات، ١٣٧٣ هـ ش.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبند یا اسارت تعریف:

اسارت په لغت او اصطلاح کې اسارت او اسر مصدر د«أسَرَ» دی چی د تناب او یا بل څه پواسطه قید کول او محکم بسته کولو په معنی دی نو ځکه بندی کس ته هم له همدی امله چی هغه بندی او په محبس کې وي آسیر ویل کیږي.[1]

یوه ډله علماء بیا اسیر هغه کس ته وایی چی بندی او تر تسلط لاندی وي هغه که په ظاهری قیدونو وي او یاهم په عرفی وعدو او قانونی الزاماتو سره وي نوځکه دغه د اسیر دلفظ اطلاق په بنده، زندانی اوهر هغه څوک چی تر نظارت لاندی وي کیږي. [2]

اسیر په فقهی اصطلاح سره په هغه کفارو باندی اطلاق کیږي چی د مسلمانانو سره په جنګ کې نیول شوي وي. [3]
او د کوچنیانو او ښځو لپاره د اسیر لفظ نه بلکې د سبی لفظ په کار وړل کیږي. [4]

په قرآنکریم کې د اسیر لپاره مستقیم او کنایی الفاظ عبارت دی له : «أُسری» ؛ «اَسری»؛ «تَأسِرونَ»[5] ، «اَسیرا»[6]، «فَشُدُّوا الوَثاقَ» [7] او همدارنګه فعل «خُذوهُم».[8]
په پخوانیو ادیانو ملتونو کې : په پخوانیو ملتونو او ادیانو کې هم اسارت ته اشاره شوي چی پدی باره کې قرآنکریم فرمایی:
د جنګی اسیرانونیول د انبیا (ع) په وخت کې هم موجود ؤ چی پدی باره کې قرآنکریم د انفال سورت په ۶۷نمبر آیت کې فرمایی : 👌♦👓 📫☒🔔♍❧ 📷⅋✡☐💾🖝♐♍ ✍ 📖❒♌

---

[1] ) لسان‌العرب، ج۱، ص۱۴۰ .
[2] ) التحقیق، ج۱، ص۸۳.
[3] ) الفقه‌الاسلامی، ج۸، ص۵۹۱۰.
[4] ) الموسوعة الفقهیه، ج۲، ص۱۵۴۱۵۵ .
[5] ) داحزاب سورت، ۲۶نمبر آیت.
[6] ) دانسان سوره۸نمبر آیت.
[7] ) دمحمدسورة، آیه۴ .
[8] ) دالنسار سورة ۸۹نمبر آیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



[illegible] [1]

**ژباړه : يو نبی له دا مناسب نه دی چی هغه  سره د قیدیان پاتی شی ترڅو چی هغه په وطن کښی دښمن نابود نه کړی .**

**اسارت په بنی اسرائیل کې: پدی باره کې قرآنکریم د بقری سورة په (۲۴۶نمبر آیت) کې الله (ج) فرمائلی دی:**

[illegible] [2]

**ژباړه: دا څنګه کېدای شی چی مونږ به د الله په لاره کښی جهاد نه کوؤ سره ددی چی مونږ دخپلو کورونو نه وویستلی شو او د اولاد نه جدا کړی شو.**

**همدارنګه بل ځای  الله (ج) د قرآنکریم د بقری سورة په (۸۵نمبر آیت ) کې فرمائی:**

[illegible] [3]

**ژباړه : اوکه هغه خلق قیدنان نشی  او تاسو ته را شی نو د هغوي د خلاصی د پاره فدیه ورکوي حال دا دی چی هغوي د کورونو نه ویستل د سره په تاسو حرام وؤ، آیا تاسو د الله د کتاب ځنی حصی منئ او د ځنو نه انکار کوئ.**

## د اسیر دنیولو دجواز ثبوت:

---

[1] ) دانفال سورة ۶۷نمبر آیت.
[2] ) د بقری سورة ۲۴۶ نمبر آیت.
[3] ) دبقری سورة، ۸۵نمبر آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکریم ډیر داسی علتونه او مواجبات یاد کړی چی هغه عبارت دی له:

جنګ: مسلمان کولای شی چی د کافرانو سره په جګړه کي هغه وخت چی په کافرانو باندی غالب شی نو دوي ته ددی جواز شته چی کفار د اسیر په ډول ونیسی دلیل یی په په لاندی آیت شریف کي روښانه شوي دی:

☎✂❐⇖❷☒▦☒📪 ♦✖⇦♉🔔⅄✎♋✂ ⓿⚐🡐☞⓪⇚◑♦♌ ✂♦❶♎✉♦▫
✎✂♦❶♎◑ ✂♐□☹⍓○ ⇚☢♋♦🔔▩♒❷♌♋✂ ⌘☢⬃❸✽➢♦▫
☎✂❐❻⑨→⌖♦▫ ⬄📪➔➚❑←☺🡐☞☪♦③▫✡❐🕮
[1] ⮘♐⮙ ♦📪♋❐⚐◆❑⬂♌♋✂

ژباړه : نو هرکله چی کافرانو سره مو مقابله راشی نو څتونه تری نه پریکوئی تر دی چی هغوي په ښه شان سره ووژنئ نو (باقی) په ښه شان سره قید کړئ.

په پورتنی آیت شریف کي د (▫♦⌖→⑨❻❐✂ ✂♋♌⬂❑◆⚐❐♋📪♦) لفظ د دښمنانو د اسیر نیولو کنایه ده.[2]

دهغه مواردو دلیل چی په هغه کي اسیر نیول منع دی:

قرآنکریم څو ځایه یادونه کړی چی په هغه کي دبندیانو (اسیرانو )نیول منع دی او هغه په لاندی ډول دی :

1 - مخکي له پوره کامیابی څخه :

قرآنکریم پدی باره کي داسی دلیل وړاندی کړی دی چی الله (ج) فرمائی : 👌♦♋ 📪☒🔔♍♓
▤❽◆❸⬄▪❐🕮 ▦🕐⇖🕮♦✎ ♦♌❑➚▤♦③ ♌❐🕮 ✍♍♐⇚💾❑✡♉♌
. [3] ⮘♉♐⮙ 🗐 ⮘⮟⬀❻☞❀♋✂ ❼♎✖ ♓⮫♉②⬃⌖⇖③ 🗐♐✹☹⍓○

ژباړه : یو نبی له دا مناسب نه دی چی هغه سره د قیدیان پاتی شی ترڅو چی هغه په وطن کښی دښمن نابود نه کړی .

د دغه حکم مفهوم هم د محمد سورت په (۴نمبر آیت) کي راغلی چی وروسته له ( اثخان) څخه کولای شی چی کافران د اسیر په ډول ونیسی لکه چی فرمائی:

---

[1] ) د محمد سورة، ۴۷نمبر آیت.
[2] ) المیزان، ج۱۸، ص۲۲۵ .
[3] ) د انفال سورة، ۶۷ نمبر آیت.

☎✁❒⬉❷⊠▦⊠✍ ♦✖⇦♋🔔⅄✎♋✁ ❶⚐⬅☞⓿✍◑♦♌◉ ✁♦❶⚐✉♦▫
✎✁♦❶⚐◑ ✁⚘❒☹⍓❍ ✍☢♋♦🔔⊠♒❷♌◉♋✁ ⌘☢⬃❸✸➤♦▫
☎✁❒❻❾➔⌖♦▫ ⬄✍➔➚❑⬅☺⬅☞☪♦③▫✡❒📖
✁♋◉♌⬂❑◆⚐❒♋✍♦ ✍⚘✍ [1]

ژباړه : نو هرکله چی کافرانو سره مو مقابله راشی نو ځټونه تری نه پریکوئی تر دی چی هغوي په ښنه شان سره ووژنئ نو (باقی) په ښنه شان سره قید کړئ.

## د (☎✁❒❻❾➔⌖♦▫ ✁♋◉♌⬂❑◆⚐❒♋✍♦) ځخه کنایه څه شی ده:

دجنګ په میدان کې د ښنو د تینګولو د ځای ځخه په د ښمن باندی د کامیابی کنایه ده.

په قرآنکریم کې پدی آیت شریف کې د کلی قانون او نظامی تکتیک په ډول پیغمبر(ص) ته او همدارنګه هر نظامی قوماندان ته فرمان ورکوي چی د جنګ په حالت کې او یا هم د بشپړی کامیابی د اطمنان ځخه مخکې خپل وخت د اسیرانو په نیولو تیر نه کړئ.

ځکه چی اسلامی لښکر به د اسیرانو په نیولو مشغول شی او د اسلامی لښکر د دقدرت دضعیفه کېدلو سبب به وګرځی.[2]

پورتنی آیت هم د آسیر د نیولو په وخت او زمان باندی دلالت کوي (چی کله کامیاب او اطمنان یی حاصل شو) چی زیاته برخه ئی چی ورته اشاره کړی د فشدوا الوثاق اخری برخه نیولی ده او دغه آیت یی په دی ډول معنا کړی دی: نو هرکله چی کافرانو سره مو مقابله راشی نو ځټونه تری نه پریکوئی تر دی چی هغوي په ښنه شان سره ووژنئ نو (باقی) په ښنه شان سره قید کړئ.

خلاصه یی دا ده چی دجنګ ځخه وروسته کافران بندیان کړی ځکه چی که مجاهدین په نیولو مصروف شی نو جنګ (جهاد) به ورځخه پاتی شی.[3]

---

1) دمحمد سورة، ۴ نمبر آیت.
2) جامع‌البیان، مج۶، ج۱۰، ص۵۵.
3) الفرقان، ج۹-۱۰، ص۲۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو ځينو بيا دا ورته قيد آيښی چی (⌑♦➢✽❸⬀✇⌘ ✃⌠⌡❷♒⊠🕭♦⌠✇🖘) پدی سورت کښی داسی معنی لری چه - ژباړه : نو هرکله چی کافرانو سره مو مقابله راشی نو څټونه تری نه پريکوئی تر دی چی هغوي په ښه شان سره ووژنئ نو (باقی) په ښه شان سره قيد کړئ.**[1]

1) التفسیر الکبیر، ج۲۸، ص۴۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسلام له نظره دجنګي بنديانو پيژندنه او دهغوی حقوق

داسلام دمبارک دين داصولو په آساس اسير ياجنګي بندي هغه چاته وويل: کيږی چې دجنګ په ميدان کې ونيول شي نه داچې ددښمن د تسلط لاندي ټولو افرادو اواشخاصو باندي چې دمسلمانانو په تصرف کې راغلي اطلاق وشي.

رسول (صلی الله عليه وسلم) دمکي دفتحي په ورځ مسلمانانو ته وفرمايل : پوهه شئ چې هيڅکله په زخمي کس بريد ونکړئ هغه کسان چې تښتېدلي دي تعقيب يي نه کړئ اوبنديان ونه وژنئ په يوه بل حديث شريف کې رسول (صلی الله عليه وسلم) ددښمن دماشومانو، بډاګانو، ښځو او هغه راهبانو وژل منع کړي کوم چې په صومعو کې په عبادت مشغول وي.

په قرانکريم کې دجنګي بندي يا په مجموع کې دبندي لپاره داسير کلمه استعمال شوي ده لکه الله (جل جلاله) چې دانفال په سورت کې فرمائي : (مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى)الايه(٠)

اويالکه د دهردسورت په اته ويشتم ايت کې چې فرمائي : نحن خلقناهم و شددنا اسرهم (دهرسورة،٢٨).

همدارنګه په ځينو نورو ځايونو کې هم په قرانکريم کې داسير کلمه راغلي ده نو داچې ددي کلمي معنی اومفهوم به څه وي پدي مطلب دپوهيدو لپاره مونږ دځينو اسلامي علماؤ نظريات او رايې دلته رانقلوو ترڅو واضح شي چې اسير چاته وويل: کيږی .(١)

## د اسيرمفهوم داسلامي فقهاؤ له نظره:

داسير کلمه دفاعل په وزن سره مشبه صفت ده چې له ( اسر ) نه اخستل شوی چې دتړلو اوپه بند کې داچولوپه معنی ده اومفعولي معنی يي تړل شوی ده .

ددهردسورت د ٢٨ ايات اصطلاح ددې معنی ښه ښکارندويه ده لکه چې متعال خدای(جل جلاله) فرمائي: نَحْنُ خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَا أَمْثَالَهُمْ تَبْدِيلاً .(٢)

---

٠) قرآنکريم – سورة الانفال، ٦٦نمبرآيت.

١) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ٧٠- ٧٢، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشګاه (سمت)،١٣٧٧ هـ ش.

٢) قرآنکريم – سورة دهر، آيت نمبر٢٨ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : مونږ انسان پیداکړ اودهغوی اعضاؤ ته مو یو له بل سره محکم ارتباط ورکړ اوهرکله چې مونږ اراده وکړو هغوی به یوله بله بیل اونور به د هغوی جانیشین وګرځوو.

دمخکنـي ایـات نـه دا را معلومیږي چې کولای شو هرهغه چاتـه چې تړل شوی وي داسیر کلمـه وکاروؤ اوهغه څوک چې محبوس وي هم داسیراصطلاح ورته قابل داستعمال ده.

اود فقهي په اصطلاح کې اسیردفرد یا افرادو په معنی ده کوم چې په جنګ کـې د فـاتحو ځواکونـو لـه خوا نیـول شـوي وي اود خپلـي جبهـي شـاتنی برخـي تـه یـي انتقـال کـړي وي او دا پـه دې خـاطر چې پـه پښـوا وختونو کې به یي معمولاً نیول شوي افراد په طناب یاپیړي تړل ترڅو دفرار یابل هرډول مقاومت امکان له هغوي نـه واخیستل شي اوبیا ورسته لږ لږ داسیر کلمـه دهر هغه فرد لپـاره کـوم چې پـه جنګ کـې نیـول شوي وي که څه هم دهغوی تړلوته حاجت هم نه وي په کار یوړل شوه .

هغه څه چې دلته دتوجه وړدي هغه دادي چې ظاهراً داسیرپه اصطلاح کې د شخص تړل مهم ګڼل کیږی په دي معنی چې دا اصطلاح دهغو افرادو لپاره استعمالیږي کوم چې دجنګ او مقاومت توان ولري اود هغوی نیونـه قید اوبند ته ضرورت ولري أما دهغه افرادو لپاره چې نیونـه یي قیداوبنـد تـه ضرورت نـه لـري لکـه ښځي، ماشومان اوبډاګان چې دجنګیالیو ډلو له شکست نه ورسته ددښمن په اختیارکي لویږي اود(سبایا) اطلاق پري کیږی د اسیر اصطلاح ورته نه کارول کیږی نو په دي آساس ویلاي شو چې اسیر اصطلاح د اسلامی حقوقو له نظره، د بین المللی حقوقو اوهغه څـه چې دجنیواپـه کنوانسیون کـې داسیرلپاره قبولـه شوي مشابه او ورته اصطلاح ده چې مونږ دزیاتي توضیح لپاره داهل سنتو علماؤ نظریه او رایه پـه جدا ډول مطالعه کوؤ .

## د اهل سنتو علما ؤ نظر:

داسیرداصطلاح په اړه داهل سنتوله جملي نه دڅو مشهورو علماؤ نظریات لولو:

1. خلیل نحوي وایي: اسر فلان فلان شده وثاقا وهوماسور واسر بالاساری بالرباط وکل شئً مماتبین طرفاهما فشدت احدهما بالاخر فقد اسرتهما ...............

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: داچې وويل: کيږی يوچا بل څوک ونيوه يعني هغه يي په قيداوبند کې وا چاوه نو اسير يعني تړل شوی په بندکي او هرهغه شی چې دوه طرفه يي يو د بل سره فاصيله ولري او دواړه طرفونه يې يوله بل سره وتړل شي په حقيقت کې اسيريا بندي شويدی.**

2. **دراغب په مفرداتو کې راځي : الاسر اشد بالقيد وسمي الاسير بذالک ثم قيل لکل ماخوذ ومقيد ان لم يکن مشدودا.**[1]

**ژباړه: داسير مصدر دتړلو اوقيد په معنی ده اواسيرته لـه دي رويه اسيروايي، ولي ورسته ورسته په تدريج سره هربندي شوي يانيول شوي کس ته اسير وويل شول که څه هم په بندکي نه وي اچول شوي .**

3. **په دارالمنجد کې راغلي دي :سبا العدو اسرۀ والغالب تخصص الاسر باالرجال وسبايا باالنسا.**

**ژباړه: سبي هم داسير په معنی ده؛ مګر غالباً دناريـنه ؤ لپاره د اسير اصطلاح او د ښځينه وو لپاره دسبي ياسبايا اصطلاح کارول کيږی .**

---

[1]) *الراغب الأصفهاني، الحسين بن محمد بن المفضل المعروف أبو القاسم، من كتاب الاف، ج۱ ، ص۷۶.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې دجنګي بنديانواحکام

په اسلام کې جنګي بنديان هغه که داسلام اوکفرترمنځ جنګ کې نيول شوي وي اوکه دمسلمانانو دداخلي ياخپلمنځي جګړو په ترڅ کې ونيول شي دخاصواحکامولرونکي دي چې مونږيې په جدا جدا مطاله کوو.

* هغه بنديان چې داسلام اوکفرپه جنګ کې نيول شوي وي: په اسلام کې دجنګي بنديانواحکام اوله هغوي سره دچلند طريقې مونږ دقرانکريم داياتونو نبوي سنتو اواصحابو کرامو له تګلاري نه معلومولاي شو دانفال دسورة ٦٧ ايات دکفارو داسارت جريان له مسلمانانو سره او دهغوي عا قبت دارنګه بيانوي الله(جل جلاله)فرمائي :

(مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (67) لَّوْلاَ كِتَابٌ مِّنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (68) فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلاَلاً طَيِّبًا وَاتَّقُواْ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (69) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّمَن فِي أَيْدِيكُم مِّنَ الأَسْرَى إِن يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّا أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (70) وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُواْ اللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (71)([1])

ژباړه:هيڅ پيغمبرحق نلري ددښمن بنديان ونيسي ترڅوئي په هغوي خپل تسلط کاملاً نوي ټينګ کړی تاسو ددنيا ناپايداره ګټه غواړئ مګرالله (جل جلاله) تاسوته آخرت غواړي او الله حاکم اوقادرذات دی کچيری دخدای (جل جلاله)پخوانی فرمان نه وو((بي له خبرتياهيڅ امت ته مجازات نه ورکول کيږی)) پدي خاطرچې اسيران مونيولي ؤ تاسوته به شديده جزا درکول شوي وه ای پيغبره! هغه اسيرانوته چې ستاپه لاس کې دي ورته ووايه کچيری الله تعالی ستاسوپه زړونوکي نيکي وګوري يعني پاک نيت ولری له هغه څه نه به بهتردرکول شي کوم چې له تاسو نه اخيستل شوي اوتاسوته به بخښنه وکړي اوالله (جل جلاله)ژوندی اومهربان ذات ده، اوکچيری هغه له تاسوسره د خيانت نيت ولري لکه چې له الله سره ئې پخواهم خيانت کړی ؤ نوالله به تاسو پرهغوی کامياب وګرځوي خدای (جل جلاله)دانا اوحکيم ذات دی.

لکه څرنګه چې وينوددي آيات لحن چې مخاطب ئي پيغمبراوجنګي بنديان دي ډيرترحم اوشفقت ورپکښې نغښتی دی اودا په حقيقت کی داسلام د چلند او رويش له جنګي بنديانوسره بې له دي چې دهغه آخرنی مکلفيت په نظرکي ونيسي عادلانه معرفي کوي.

---

[1] ) قرآنکريم، سورة انفال،۶۷-۷۱آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدارنګه دمحمد سورت په څلورم ايات کې الله (جل جلاله)فرمائي :**

**فَـإِذَا لَقِيـتُمُ الَّـذِينَ كَفَـرُوا فَضَـرْبَ الرِّقَـابِ حَتَّـى إِذَا أَثْخَنْتُمُـوهُمْ فَشُـدُّوا الْوَثَـاقَ فَإِمَّـا مَنًّـا بَعْدُ وَإِمَّـا فِـدَاءً حَتَّـى تَضَـعَ الْحَـرْبُ أَوْزَارَهَا..([1]).**

**ژبـاړه: ای هغوكسانوچې ايمـان موراوړی كلـه چې لـه كفاروسره پـه جګړه كې مخـامخ شي پـه پيل كې يواځې په دي ماموریاست چې دهغوی غاړي ووهی ترهغه وخته چې هغوی موكلك ونيول يعني ماتي مو وركړه نوبيادهغوی بندي كولوته اقدام وكړی اومحكم ئي ونيسی نوپس بياهغوی بې له بدلي (عوض) نـه آزاد كړی اويـا د هغوی دآزادی پـه مقابل كې فديـه واخلی، ترڅو چې داجنګيـالي خپلـه وسله پـه ځمكـه كيـږدی پـدي آيـات كـې الله(جل جلالـه)دمسـلمانانو كـړنلاره پـه جنـګ كـې اولـه جنګـي بنديانوسـره دهغـوی چلنداوكړنه په ډيرښه ډول بيانوي اوله جنګي بندي سره هيڅ نوع غيري انساني چلند لكه وژل يـا دهغه په غلامي نيول چې دهغه وخت رائج رسم ؤ ،اشاره نده شوي اوخپلو پيروانـو تـه يـي لـه بنـديانو سره ددا ډول اعمالو د ترسره كولو اجازه نده وركړي بلكه تنها ويل: شوي چې دجنګ په پاي كې هغوي ونيسي اوبيا يي بې له كومي بدلي آزاد كړي اوياكـه مـو خوښـه شـي دفديي پـه مقابل كې آزادي وركړي ،اودا پـه حقيقت كې دجنګي بندي په ګټه دي اول حالت يعنـي بـې لـه كومـه عوضـه اوبـدل نـه دجنګـي بنـدي آزادول خومعلومه خبره ده چې يو څوک له چاسره جنګيږ ي او بيادهغه لـه خوا ونيـول شي اوبـي لـه كوم تـاوان اوبدل نـه آزاد شي نوتردي لوي احسان فكر نـه كيږی چې له جنګـي بنـدي سره دي دهيچالـه خوا اويـاهيڅ قانون له خوا شوي وي نوځكه ويلاي شو چـې دا دجنګـي بنـدي پـه ګټـه ده؛ دوهم حالـت يعنـي دفدئي پـه مقابل كې دجنګي بندي آزادول هم دجنګي بندي په ګټهٔ دي چې تفصيل به يي ورسته راشي .**

**په پورتني آيات كې له جنګي بنديانو سره دچلندپه باره كې دمسلمانانو لپـاره ځـانګړي دستور بيـان شـوي دي ولي دقرآنكريم په دي آيات كې پدي تاكيد شوي دي چې له اسيرانو سره ښـكني كـول لـه هغـو اعمـالو څخه دي چې دالله تعالي دخوشحالي باعث ګرځي ددهر دسورت په اتم ايات كې پدي اړه الله(جل جلالـه) دا ډول فرمائلي:**

---

([1]) *قرآنكريم، سورة محمد،۴نمبرآيت.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**( وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا (8) إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاء وَلا شُكُورًا (9))([1])**

**ژباړه : دالله (جل جلاله) نیک بندګان خپل محبوب خواړه خاص دالله (جل جلاله)لپاره مسکینانو یتمانو اواسیرانو ته ورکوي اود بدلي اومنني انتظارنه کوي .**

**له پورته آیات شریف نه په واضیح ډول ځرګندیږي چې اسلام له جنګي بندیانو سره نیک چلند ته خپل پیروان هڅوي او په قرآنکریم کې داسي نور ډیر آیاتونه شته چه له بندیانو سره د نیکي فضائل بیانوي همدارنګه دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم) عملي کړنلاره په تقریباً (اتیا غزاګانو اوسریو) کې چې له کفاروسره ئي ترسره کړي دي هیڅکله ئي جنګي بندي په دي دلیل چې دده یا د اسلام په خلاف ئي په جنګ کې برخه اخیستي نده وژلی اونه ئي هغه په غلامي نیولی چې له دېنه د جنګي بندیانو په باره کې داسلام دمبارک دین کلي کړ نلاره معلومیږي .**

**رسول (صلی الله علیه وسلم) د بدردغزا بندیان چې دمسلمانانو سرسخت مخالفین هم ؤ بغیر له دوه نفرو نورټول یاد فدئي په مقابل اویابي له فدئي ورکولونه آزادکړل اوهغه دوه نفره چې ترنیول کیدلو وروسته ووژل شول هغه یو(عقبه بن ابومعیط) ووچې له مسلمانانوسره ئي مخکي له هجرت نه اووروسته ډیرظلمونه کړي ؤ اویوجنایتکارانسان ؤ.**

**دمثال په ډول یوه ورځ رسول (صلی الله علیه وسلم) په (دارالندوه )کي په لمونځ بوخت ؤ چې عقبه ئي په غاړه پښنه کیښوده اودخولي ناړي ئي پري واچولي.**

**اودویم کس چې ووژل شوهغه (نضربن حارث) ؤچې په مکه کې دمسلمانانو دشکنجه کولومسؤل ؤ بایدوویل شي چې دادواړه کسان دداډول جرایمومرتکب شوي ؤ چې دجنګ له صحني نه ئي خارج ترسره کړي ؤ اودا ډول اشخاص د ننۍ نړۍ دقوانینو په آساس هم قابل د مجازاتو دي اومحاکمه کیږی، حتی دجنیوا بین المللي کنوانسیون هم دا ډول اشخاص جنګي جنایتکاران بولي،او دهغوی په مقابل کې دمناسبو مجازاتو تطبیق لا زمي بولي او له جنګي بندیانو څخه ئي جداکوي .**

---

[1] ) قرآنکریم، ددهرسورة، ۴نمبرآیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردې ځایه مونږ دجنګي بندیانو په اړه د قرآنکریم احکام اود پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) کړنلارې ته په مختصر ډول اشاره وکړه خوداچې ددې احکامو په رڼاکي داسلامي فقهاؤ رائي اونظرونه دجنګي بندي په اړه څه ډول دي؟ په دي اړه دومره ویلاي شوچې اسلامي فقها اهل سنت دبندیانودوضعي مراعاتول اودهغوی دمادي اومعنوي اړتیاؤ پوره کول ترممکنه حده لا زم بولي. ولي دجنګي بندیانو په اړه داسلامي حاکم داختیاراتو په رابطه سره اهل سنت علماءاختلاف لري چې نظریات یې جدا لولو.[1]

**داهل سنتوعلماؤرائي:** داهل سنتوبعضي علماء لکه حسن بصري، عطا،او سعید بن جبیرپه معتقید دي چې له دي ډول بندیانوسره دچلندمرجع دمحمدسورت څلورم آیات دی؛ کوم چې الله (جل جلاله) فرمائي ((فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً)) یعني هغوي دمنت یا فدیي په مقابل کې آزاد کړی.

ولي داهل سنتو اکثراً علما پدې نظر دي چې اسلامي حاکم اختیار لري هر څه چې بهتر وبولي کولای شي هغه که د فدیې په مقابل کې دبندي آزادول وي یابغیر له فدیې اویاد هغه په غلامي نیول اوپه هغه صورت کې چه ایمان رانه وړي حاکم دهغه د وژلو صلاحیت هم لري. دامام احمد ابن حنبل پیروان معتقید دي هغه څوک چه آسماني کتاب لرونکي هم نه وي اودغلامي وړهم نه وي نو دآزادي دعدم امکان په صورت کې په اعدام محکومیږي .

**اوماوردي لیکي :** امام داسیرانو په مورد کې ددي لاندي څلوروصورتونو نه دهغه بنه اوبهتر په انتخابولو کې اختیار لري:

1) وژل.

2) په غلامي نیول.

3) دمال یااسیرپه مقابل کې آزادول.

4) له هغه سره نیکي کول اوعفوه ورته کول .

البته وژل یواځي دهغه بندیانو لپاره جائزبولي لکه چې مخکي ورځخه یادونه وشوه کوم چې په جنایاتو متهم وي .

[1] ابراهیمی، محمد. اسلام وحقوق بین المللی عمومی، ص ۷۰ ـ ۷۴، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه بنديان چې دمسلمانانو په خپل منځي جګړو کې نيول شوي وي:

لکه چې مخکې هم وويل شول پورته ذکرشوي تول دهغه جنګي بنديانو په موردکې ؤ چې دمسلمانانو اوکفارو تر منځ په جګړه کې، له کفارونه دمسلمانانو په لاس نيول شوي، ولې هغه بنديان کوم چې دمسلمانانو په منځ کې په داخلي جګړو کې ونيول شي که څه هم له فقهي نظره دبحث وړموضوع ده خوله اصحابوکرامو(رضی الله عنهم) نه په دي رابطه زيات روايات راغلي دي چې دهغوي په آساس مسلمان بندي که چيرې دجنګ له جبهي نه خارج دکومو جرايمو لکه: قتل اونورو مرتکب شوي نه وي نونه يې وژل جائز دي اونه ورڅخه فديه اخستل کيږی بلکه بايد بي له فديې آزاد شي.

د مثال په ډول علامه مجلسي روائت کوي چې: حضرت علي (رضی الله عنه)مالک اشتر(رضی الله عنه) پدي مامور کړ چې دشام له يوه اوسيدونکي ( اصبغ بن ضرار) چې د وديده بان دلښکر مشرؤ مقابله وکړي مالک هغه بي له مقابلې ونيوه خوکله چې مالک(رضی الله عنه) وليدل دهغه حکم وژل ندي نوله حضرت علي (رضی الله عنه) نه ئي وغوښتل چې هغه زماپه خاطر وبخښه نوحضرت علي(رضی الله عنه) وفرمائل هغه مي ستاپه خاطرعفوه کړ او ورپسي ئي زياته کړه مالکه! هر وخت چې دي بندي ونيوه هغه مه وژنه ځکه چې نه له آهل قبله اسيرنه فديه اخستله کيږی او نه هغه وژل کيږی ديو بل روايت له مخې دصفين دجنګ بنديان هم ددواړو طرفونو له خوا بي له کومه عوض نه آزادشوي ؤ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخو داصحابوكرامو(رضى الله عنهما) تګلاره وه اوپه هغه وخت كې دامام په مقابل كې دسركشي اوبغاوت واقعات هم دومره نه واقع كيدل، ولي ورسته چې دمسلمانانو تر منځ خپل منځي جګړي اوبغاوتونه راپيداشول، نو اسلامي علماو هم د دا ډول بنديانو په رابطه بيلابيل نظريات ارايه كړل، دشعيه علماؤ له جملي نه شيخ طوسي په دي رابطه ليكي : هر فرد يادله چې دعادل امام په مقابل كې قيام وكړي اوبيعت ونكړي اودهغه فرامين ونه مني امام كولاى شي دهغوي په خلاف اقدام وكړي؛ ولي هغه څوک چې دجابر اوظالم حاكم په مقابل كې بغاوت كوي په هيڅ صورت دهغوي په خلاف اقدام كول جائز ندي او ليكي دمسلمانانو دقانوني حكومت په خلاف سرغړونكي يابغاوت كونكي په دوه ډوله دي يوهغه دي چې ورسته له ماتي اوتيت اوپرک كيدونه ملا تړي ونه لري اوبيا د بغاوت هڅه ونه كړي، اوبله ډله هغه دي چې له ماتي خوړلونه ورسته بيا د راتوليدلو هڅه كوي او د يوچا ملا تړهم ورسره وي د اولي ډلي په خلاف نشي كيداي چې زخميان يي ونيول شي اوفراريان يي تعقب شي اواسيران يي ووژل شي؛ خودوهمه ډله له ماتي خوړلو نه ورسته هم تعقبيداي شي ،زخميان يي نيول كيداي شي اواسيران يي وژل كيږى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهل سنتو علماؤ له جملي نه حنبلي فقهاد دا ډول بنديانوپه رابطه داسي نظرلري چې: دمسلمانو دداخلي جګړوبنديان عموماً آزاديږي، او داهم جائزه ده چې دجګړي تر پايته رسيدو پوري دي محبوس کړاي شي مګردا په هغه صورت کي چې دچادوژلو مرتکب شوي نه وي اوکه يي چيرى ځوک وژلي وي نوپدي صورت کي دځينو علماؤ په نظر بايدقصاص کړاي شي؛ اود ځينو نورو په نظر بايد ديت ورکړي اوپه دي هکله دښځي اونارينه ترمنځ تو پيرته هم قائل ندي، خو د امام ابوحنيفه دپيروانو نظر بياداسي دى چې: ددښمن جنګيالي په هغه صورت کي چې د بيا ټوليدني اوسرکشي امکان ورنه ليدل کيږى نو دمسلمانانو امام کولاى شي چې هغه په توبه باندي مجبورکړي اوکه توبه ونه باسي نو وژل يي هم جائزدي ولي هغه چې نظامي ملاتړ ترشاه نه لري هغه نه وژل کيږى، اوبغير له ښځو، ماشومانو او بوډاګانو نه نورو ته مجازات ورکول کيږى، خوهغه کسان چې دمجازاتو مستوجب ندي سمدستي آزاديږي او يا که چيرى مصلحت ددي ايجاب وکړي نو يوڅه موده په توقيف کي ساتل کيږى؛ اوددي نظرطرفداران دامام شافعي پيروان دي ځکه دسمدستي آزادي په صورت کي دهغوي دبيا راټوليدني اوجګړي د ادامي امکان موجود دى، په دي رابطه دابن قدامه دخبرومتن داډول ده :(هغه وخت چې باغيان مات شي نو فراريان يي نه تعقيبيږي ، زخميان او بنديان يي نه وژل کيږى).اوس که داسلام دا دريځ له مسيحي ټولنو اوبين المللي قوانينو سره مقايسه کړو نو داسلام دقوانينو برتري دهغوي په قوانينو په ډيرښه ډول ثابتيږي، ځکه چې په نوروټولنوکي بنديان هغه که په خپلو مينځو کي اويائي له نورو ټولنو نه نيول نو له ډول ډول مجازاتوسره به مخ کيدل اوپه غلامي نيول خو يومرسوم اومعمول کارؤ، خو يوازي دمنځنيو پيړيو په جريان کي چې هغوي کوم قوانين دداخلي جګړود تنظيم لپاره جوړول نودا ماده يي ورکي ځاي په ځاي کړه چې يوازي په هغه صورت کي چې اسير اواسيرکونکي لوري دواړه مسيحان وي نو بايد اسيرپه غلامي ونه نيول شي اوپه قوي احتمال په دي تصميم نيونه اونوروکي هم داسلام له جنګي قوانينو نه متاثره شوي ؤ.[1]

[1] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۸۳ـ ۹۰ ، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې لومړني جنګي بنديان

کله چې پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) دمکي دمشرکينو دشر نه دخلاصون په نيت دمديني منور په لور هجرت وکړ نو هلته پري دبيلابيلو قبيلو خلک راټول شول او اسلام يې قبول کړ، دسلام دين ورځ په ورځ پراخيدو اومسلمانانو قوت ورسره زياتيده داحالت نه دمکي اونه دمدني مشرکينو ته د تحمل وړؤ. هماغه ؤ چې مسلمانانوخصوصاً پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) ته يې ډول ډول مشکلات راپيداکړل اودمکي قريشو ورته دا اخطار ورکړ، چې په دي مه ډاډه کيږئ چې يثرب ته لاړئ نوله مونږ نه به خلاص شي ،ډيرژربه موږ هلته درشو اوپه خپلو کورونو کې به مو له منځه يوسو، داخبره پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) له پخو اوباوري سرچينو نه معلومه شوي وه چې کفار دشراو فساد پخه اراده لري، نوځکه به دخپلو ملګرو په منځ کې وده کيده اويابه هم ګرده شپه ويښ ؤ ، داسي ښکاريده چې کفار په هيڅ ډول دزور له ژبي څخه اوښتونکي نه ؤ ، نو خداي تعالي مسلمانانو ته له هغوي سره دجنګ اجازه ورکړه ، اودحج دسورت دا آيات شريف نازل شو:(اذن للذين يقاتلون بانهم ظلمو ان الله على نصرهم لقدير)([1])

ژباړه: هغو کسانو ته چې نور ورسره جنګ کوي دجنګ اجازه ده ځکه دوي مظلوم دي ببشکه الله ددوي د ملاتړ توان لري .

*([1]) قرآنکريم، دحج سورة، ۳۹نمبر آيت.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې لړکي ځيني نور آياتونه هم نـازل شول چې لـه كفـارو سره يـي دمسلمانانو جګړي تـه جـواز وركـاوه هماغه وه چې مسلمانانو پـه عملي نظامي تحركاتو لاس پـوري كړ اولـه كفـارو سره يـي يوشمير سري اوغزاګاني ترسره كړي ،د سريو نه يوه هم د( نخله ) سريه وه كوم چې د رجب په مياشت كې دهجرت په دوهم كال چې له( ٦٢٤ ميلادي) كال سره سمون خوري، دعبدالله بن جحش(رضی الله عنـه) پـه مشري ددولسو تنومسلمانانو له خوا ترسره شوه ،په دي سريه كې عبدالله بن جحش(رضی الله عنـه) د پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) له خوانه نخله نومي ځاي ته د قريشو ديوكـاروان دمخنيوي لپـاره ليږل شـوي ؤ، خـو كلـه چې عبدالله بن جحش(رضـی الله عنـه) دې ځـای تـه ورسيده نـو درجب دمياشتي اخرنـی شپه وه ،سحرتـه كاروان تلونكي ؤ ، اوددوي له لاسـه ووت اوكـه يـي حملـه كولـه نـو پـدي مياشت كې جنګ كول حرام ؤ، بالاخره عبدالله له خپلو ملګرو سره ترمشوري ورسته په كـاروان بريـد وكړ يـو تـن يـي ورڅخـه وواژه او دري تنه نوريي له ځان سره مدني ته بندي راوستل نـودا داسـلام پـه تـاريخ كـي لومړني جنګـي بنـديان ؤ، رسول (صلی الله علیه وسلم)دابنه ونه بلله ځكه په دې مياشت كې هغه له جنګ نه منـع كړي وه، هماغـه ؤ چې كاروان اوبنديان دعبدالله ابن المغيره دوه زامن (عثمان او نوفل) او دمغيره آزاد شـوي غلام (حـاكم بن كسيان) ؤ آزاد كړل اود وژل شوي كس خپلوانو ته يې ديت وركړ، اونـور زيـات بنـديان چې مسلمانانو له كفارو څخه نيولي ؤ،هغه د بدر دغزا په ترڅ كې ؤ چې دهجرت په دوهم (٢) كال د روژي د مياشتي په اوه لسم(١٧) د جمعي پـه ورځ د مسلمانو اومكـي دقريشـو تـرمنځ دبـدر پـه ميدان پيښـه شـوه دا غـزا د مسلمانانو په بشپړ بري او دقريشو په بشپړي ماتي سره پايته ورسيده، له كفارو نـه د وژل شـوي كسـانو نه علاوه اويا(٧٠) تنه جنګي بنديان هم ونيول شول، اوله ځان سره يې مديني ته راوستل ، مديني تـه تـر رارسيدو ورسته پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) دبنديانو په اړه له خپلو اصحابو سره مشوره وكړه، ابوبكر صديق (رضی الله عنه) وويل:

ای دخدای(جل جلاله) رسوله دغه ټول زمونږ دكاكازامن، قوميان او وروڼهٔ دي زمـا نظر دا دی چې دعوض په مقابل كې به يې خوشي كړو، يو خوبه مونږ دكافرانو په مالونو ځانونه ماړه كړو اوله بلـي خـوا كيـدای شي خداي تعالي همدوئ ته لاربښونـه وكړي دوی به زمونږ مټ وي، پيغمبر(صلی الله علیه وسلم) عمر(رضی الله عنه) ته مخ را واړاوه او ورتـه يې وويل دخطاب زويه ستا څه نظرده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر(رضی الله عنه) وايي چې ماورته وويل سوګند پـه الله تعالی دی چې زه د ابوبکر خبره نـه تائيدوم فلانـی ماته په لاس راکړی (( نوموړي دعمر (رضی الله عنه)خپل ؤ ))چې سريې له تنـې نـه جداکړم علـي تـه عقل بن ابي طالب په لاس ورکړي چې سر يې والوزوي اوحمزه ته فلانی پـه لاس ورکړی چې اورميږ پـري مـات کړي ،ترڅو دخدای(جل جلالـه)د ښمنـانو تـه څرګنده شي چې زمونږ په زړو نـوکي دهغوي لپـاره هيڅ ځـای نـه شته اوزمونږ په لاس کې دقريشو مخوري اوغټې ستې دي نوعمر(رضی الله عنـه) وائي: چې رسول (صلی الله عليه وسلم) دابوبکرخبر ومنله اوزماخبري ته ئې هيڅ توجه هم ونـکړه.

ياده دي وي چې داکوم عادي بنديان هم نه ؤبلکـه دجنـګ دمجرمانومشـران اوجنايتکـاران ؤ بايد جزا ئـي ليدلي وه ټول جنګي قوانين آن ترداي چې دننـی نړی قوانين هم دا ډول بنـديان محاکمـه کوي چې جزائـي اعدام يااېدي حبس دی؛ پـه هرصورت پـدي خـاطرچې دابـوبکر صـديق دنظر پـه رڼـاکي لـه مشرکانو سره خبره شوي وه نود هرجنګي بندي په بدل کې له دريو زرو (۳۰۰)درهمونـه نيولي بيـا ترلسو (۱۰۰۰۰) زرو درهموپوري تاوان واخيستل شو،اوهغه کسانو چې مال ئي نه درلود خوباسواده ؤ نـو ورسره تړون وشو چې دمسلمانـانو ماشومانوته به ليک لوست ورزده کـوي او بيابـه آزادېږي. ديوروايت لـه مخـي چې دوه ماشومـانوتـه دليک پـه ورزده کولوهربندي آزادي ترلاسه کولای شوه،او ځينونورو چې نه باسواده ؤ اونـه ئي هم مال درلود نو بي له کوم عوض نـه آزاد شول چې پـه هغوی کې (المطلب بن حنطب، صيغي بن ابي رفاعه او ابوعزت الجمحي) شامل ؤ.([1] ).

---

[1] ) مبارکپوری، صفی الله. الرحيق المختوم (سپيڅلی نبوی سيرت)، ژباړونکی: جانباز سرفراز، دريم چاپ، پيښور محله جنګی پشاور،۲۰۰۸م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې دجنګي بنديانو امتيازات اوحقوق

**داسلام مبارک دين جنګي بنديانو ته يوشميرامتيازات اوحقوق ورکړي اوخپل پيروان دي ته را بولي چې له جنګي بندي سره احسان اونيکي وکړي پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: استوصوا بالاسری خيراً.[2]**

**ژباړه:زماسپارش دبنديانوپه اړه اوله هغوی سره دنيکي په باره کې ومنئ،همدارنګه په يوبل حديث شريف کې راځي : ثلاثة في ظل العرش.......رجلً اطعم المساکين والاسری.**

**ژباړه: دري تنه به په ورځ دقيامت دالهی عرش ترسيوري لاندي وي له هغوي نه يوتن هغه ده چې بيچاره ګانواواسيرانوته ئي ډوډۍ ورکړي وي .[3]**

**الله (جل جلاله)هم په قرانکريم کې له اسيرانو سره نيکي ته اشاره کوي اود دهرسورة په اتم ايات کې فرمائي:**

**(وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا)[4]**

**ژباړه: دخدای (جل جلاله)نيک بنده ګان خپل خواړه مسکينانو، يتيمانو اواسيرانو ته دالله (جل جلاله)د رضالپاره ورکوي.**

**نوله اسيرانو سره ښه سلوک کول اود امکان تربريده د هغوي د ژوند اړ تياوي پوره کول اسلامي امرده .**

**اوس کچيری خپلي موضوع ته را وګرځو چې په اسلام کې جنګي بنديانوته کوم امتيازات اوحقوق ورکړل شوي له هغي جملي نه به حقوق وروسته مطالعه کړو خو دامتيازاتو له جملي يوهم دتبادلي امتيازده چې داسلام مبارک دين جنګي بنديانو ته ورکړی چې په لا ندي ډول لوستل کيږی.[5]**

---

[2] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۹۰ ، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشګاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

[3] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۹۰ ، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشګاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

[4] ) قرآنکريم ـ دهرسورت، ۸نمبرآيت.

[5] ) مبارکپوری، صفی الله. الرحيق المختوم (سپيڅلی نبوی سيرت)، ژباړونکی: جانباز سرفراز، ص۷۹ دريم چاپ، پيښور محله جنګی پشاور،۲۰۰۸ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امتيازات:

په قرانكريم كې الله (جل جلاله) د محمدسورت په څلورم ايات كې فر ما ئي :

(فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً ....([1])

ژباړه كله چې مشركان ونيسئ نويائي داحسان له مخي خوشي كړئ اويائي دتاوان په مقابل كې.

له دي مبارک آيات نه داجوتيږي چې جنګي بندي بايد آزاد كړل شي اودا آزادي هغه په دوه طريقوترلاسه كولای شي:

1. بې له عوض يابې له تبادلي.
2. دبدل يا فديې ياتبادلي په مقابل كې.

دا دواړه حالات په حقيقت كې دجنګي بندي په ګټه دي اودهغه لپا ره سترامتيازات ګڼل كيږي چې لـه هغي جملي نه لمړنئ امتياز يعني بې له تبادلي دجنګي بندي د آزادولو امتياز مخكي تشريح شوی بنـاً دلتـه ئې له لوستلونه ډډه كوو خوپه دوهم امتيازيعني دجنګي بنديانو په تبادله باندي يوڅه رڼاچوو نو مونږ اول د تبادلي ډولونه لولو.

[1] ) قرآنكريم، دمحمدسورة، ۴نمبرآيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تبا دلې امتیاز:

**په اسلام کې دجنګي بندیانو تبادله په دوه ډوله ترسره کیږی:**

**الف: دمال یافدي په مقابل کې .**

## ب : دبندي په مقابل کې.

**چې هریو په جدا ډول مطالعه کوو:**

**<u>الف ـ دمال په مقابل کې</u> :داپه دي معنی ده چې داسیر متبوع دولت یایي کورنی یوه اندازه پیسي دهغه نیونکو ته ورکوي اوپه نتجه کې جنګي بندي آزادیږي لکه: پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) چې دبدر دغزا ځیني بندیان په دي ډول آزادکړي وُ نو دا ډول تبادله ځکه دجنګي بندي لپاره امتیاز ګڼل کیږی چې په زیاتره وختونو کې داعمل دجنګي بندي له وژل کیدو نه دمخنیوي سبب ګرځي ځکه زیاتره سرتیرو به جنګي بندیان پدي خاطر نه وژل چې هغوي فکر کاوه که یي وهم وژني نوکومه ګټه ددوي لاسته نه ورځي، خوکه هغه ژوندي ونیسي له ځانه سره یي وساتي اوبیایي دفدیې په مقابل کې آزاد کړي نو له دي لاري به یو څه مالي ګټه لاسته راوړي بناً دمادي حرص له وجهي هغوي بندیان نه وژل ،اوژوندي به یي ساتل، نواوس که فکر وکړو چې دجنګي بندي آزادول فرضاً یوغیري جایز عمل وبولو، اوکه داطریقه عملي شوي وه نو په جګړو کې به همیشه دبریالیو یاقدرتمندو ډلوله خوا ماتي خوړلي جنګیالي وژل کیدل ځکه به غیرله وژ لو نه به هغوي ته بله کومه لاره اصلاً پاته نه وه، بناً ویلاي شو چې دا ډول تبادله دجنګي بندي لپاره یو امتیازدی چې داسلام مبارک دین هغوي ته ور کړی دی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب ـ دجنګي بندي تبادله دجنګي بندي په مقابل کې:** دوهم ډول دتبادلي داسي دى چې يو طرف دجګړي دخپل جنګي بندي په مقابل کې چې له مقابل طرف سره بندي دى ،جنګي بنديان آزادوي او دا رويش داسلام په اوايلو کې لا رايج ؤ، اسلامي فقهاؤ داسي فتوأ ورکړي چې دمسلمان اسير د آزادو لو لپاره دتبادلي ترسره کول واجب دي. په دي ډول تبادله کې داسيرانو تعداد هم په نظرکي نه نيول کيږى بلکه هرڅومره بنديان چې له خپلو دښمنانو نه مسلمانانو نيولي بايد ټول آزادشي، اوپه مقابل کې يي له دښمنه خپل ټول بندي اسيران ترلاسه کړاي شي، دا ډول تبادله هم دجنګي بندي لپاره يو امتياز دى، ځکه دبنديانو له وژلو نه مخنيوى کيږى اودجګړي هرلوري کوشش کوي چې بنديان ونه وژني اوله ځان سره يي ژوندى وساتي ترڅو پري خپل ملګري چې له دښمن سره بنديان دي راخوشي کړي، اوپه نتيجه کې ددواړو طرفونو دبنديانو دوژلو اوځوروني نه مخنيوى کيږى، بايد ووايو چې دجنګي بنديانو تبادله واقعاً دمثبتو نتايجو لرونکي ده ، چې داسلامي بين المللي حقو قو په بيانولو کې مهم رول لوبوي، نو په دي آساس ديته تر جيح ورکوؤ،چې داسلام په تاريخ کې دجنګي بنديانو دتبادلي يوڅو نموني ذکرکړو. [1]

---

[1] ) مبارکپورى، صفى الله. الرحيق المختوم (سپيڅلى نبوى سيرت)، ژباړونکى: جانباز سرفراز، ص۹۷-۹۹، دريم چاپ، پيښور محله جنګى پښاور،۲۰۰۸م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې دتبا دلې تاریخي سیر

**داسلام په تاریخ کې دجنګي بندیانو لومړني تبادله د(نخله) په سریه کې دنیول شویو بندیانو تبادله وه ، دمسلمانانو له جملې نه (عتبه بن غزوان ،سعد بن ابي وقاص ) دخپلې اوښې په پیداکولو پسې وتلي ؤ چې دمکي مشرکینو ونیول اودمسلمانانوله لوري په دي سریه کې عثمان اونو فل چې ورڼه ؤ اویوبل تن حاکیم بن کسیان نیول شوي ؤ،دمکي مشرکنو لـه پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) نـه غوښتنه وکړه چې دهغوي بندیان دي ورته دمالي فدیې په مقابل کې آزاد کړل شي ، خو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) هغوی ته وویل چې زه لـه ستاسو نـه مادیات نـه غواړم بلکـه غواړم چې دخپلو بندیانو دآزادولو پـه مقابل کـې زمـا دوه یـاران آزادکړی، نو بیاهغو ي هم داسي وکړل نوپه دي ترتیب دمسلمانانو اوکفارو ترمنځ دجنګي بندیانو لومړني تبادله تر سره شوه .[1]**

**دجنګي بندیان دوهم ځل تبادله دمسلمانانو اوکفارو ترمنځ دبدردبندیانو تبادله وه دا بند یان دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم) له خو ا تو ل یادمالي فدیې په مقابل کې آزاد شول اویابي د مال اوتاوان له ورکړي نه آزاد شول ،یواځې یوتن اسیر چې دبن عقیل له قبیلې څخه ؤ باقي پاته شو.**

**هغوي دبني ثقیف له قبلي سره تړون درلود اوددي قبیلي لـه خوا بیا دوه تنـه مسلمانان بندیان شوي ؤ پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) دغه اسیر له ځانه سره وساته اوبیایي له خپلو ملګروسره تبادله کړ، دجنګي بندیانو دریـم ځـل تبادلـه داسلام پـه تـاریخ کـې، دهوازون لـه جنګ نـه ورسته کوم چې د مسلمانانو اومکي دمشرکنو ترمنځ وشو ترسره شوه ، ابن ماجه په خپل کتاب کې لـه سلمه بن الاکوع نـه روائت کـړي دی چه: دهوازون په جنګ کې دعربو یوه ډیره ښکلي نجلي زمالاسته راغلـه کلـه چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) دمدیني په بازار کې ولیدم نو یي راته وفرمائل : الله (جل جلاله) هغه تا تـه هبـه کړه ، نـو ماهغه پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته بخشش کړه خو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) هغه مکي ته ولیږلـه اولـه هغـه مسلمانو اسیرانو سره چې په مکه کې دکفاروپه بندکي ؤ تبادله کړل شوه ، لـه دي نـه وروسته د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) دحیات په دوران اوبیاله هغه وروسته دراشیده اواموي خلفاؤ په دور کي تاریخ دجنګي بندیانو په اړه څه ندي لیکلي .**

---

*[1] مبارکپوری، صفی الله. الرحیق المختوم (سپیڅلی نبوی سیرت)، ژباړونکی: جانباز سرفراز، ص۲۸۹ ، دریم چاپ، پیښور محله جنګی پښاور،۲۰۰۸ م.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم داسلام اوکفر ترمنځ نوري جګړي هم شوي دي ، اوزيات بنديان مسلمانانو نيولي دي ولي جنګي بنديان ندي تبادله شوي ،اوداسي فکر کيږی چې دابه د لاندي دوه دلايلو په آساس وي .

په ډيرو جګړو کي لکه څنګه چی دمسلمانانو قوت زيات شوي ؤ اوهميشه مسلمانان بريالي کيدل اوکفارو ورڅخه بنديان نه شواي نيولای .

داچې داسلام لمن شا او خوا سيمو ته خوره شوه ،نو څوک نه وؤ چې له مسلمانانو سره مقابلي ته راوراندي شي ، يواځي دروم امپراطوري وه چې له مسلمانانو سره به هميشه په جګړه کي وه، اومسلمانان هيڅ وخت ديته حاضر شوي ندي چې هغوي په رسميت وپژني او يالا آقل له هغوي سره دجګړي دختم اومتارکي تړون لاسليک کړي ترڅو ورسته دجګړي دختم څخه نوبت دجنګي بنديانو تبادلي ته ورسيږي ، نو په دي آساس دپيغمبر (صلی الله عليه وسلم) نه ورسته دراشده خلفاؤ په دوران کې اوبيا له هغوي نه ورسته داموي خلفا ؤ په دوران کي، دجنګي بنديانو تبادله له کفاروسره نده ترسره شوي ځکه اسلامي پوځ تل کامياب ؤ اوکوم مسلمان له کفاروسره نه ؤ بندي اوهم دښمن په داسي شرايطوکي قرارنه درلود چې دجنګي بندي دتبادلي غوښتونکی شي، خودعباسيانو په دوره کې دجنګي بنديانو تبادله له روميانو سره چې کله به ورسره د جنګ او کله دسولي په حالت کې ؤ ترسره شويده او مشهور تاريخ ليکونکي (مسعودي په خپل کتاب (التنبيه و الا شر اف ) کي ددې تبادلو دقيق تاريخ او دبنديانو تعداد ليکلي چې مونږ ورنه په لاندې ډول يادونه کوو:

<u>لمړی تبادله</u> :دهارون الرشيد د خلافت په دوران کي د نوموړي او دروم دپاچا فقفوربن استراق ترمنځ دروم د درياب په غاړه په (کال ۱۸۹ هـ )تر سره شوه په دې تبادله کي ټول هغه بنديان چې روميانو له مسلمانانو څخه نيولي وو تبادله شول چې تعداد يي (۳۷۰۰) تنه ؤ.

<u>دوهمه تبادله</u> : دا تبادله هم دهارون الرشيد په دوره کي وه چې په (ثابته تبادله) باندې مشهوره ده ځکه چې پدې تبادله کي ( ثابت بن نصر) ددې کار لپاره مامورشوي وؤ او پدې تبادله کي دهغه نارينه ،ښځو او ماشومانو تعداد چې آزاد شوي و( ۲۵۰۰ )تنه ؤ.

<u>دريمه تبادله</u> : داد ارفاقان تبادله ده چې د واثق باالله د خلافت په دوره کي ترسره شوه هغه مسلمانان چې پدې تبادله کي آزاد شول( ٤٣٦٠ ) تنه ښځي او نارينه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**<u>څلورمه تبادله</u>** : دا تبادله په (کال ۲٤۱ هـ ش) د متوکل بالله د خلافت په دوره کې ترسره شوه چې دروم باچا پدې وخت کې (میخایل بن توفل ) وؤ هغه مسلمانان ښځې او نارینه چې پدې تبادله کې آزاد شول تعداد یي (۲۲۰۰تنه ) ته رسیده او رومیانو له مسلمانانو نه علاوه (یوسل او څو تنه) نصرانیان هم د اسلام دقلمرو نه بیولي وو چې دهغوي د آزادي په مقابل کې یی د مسلمانانو څخه خپل بندیان واخستل .

**<u>پنځمه تبادله</u>** : دا تبادله هم دمتوکل په دوره کې په کال (۲٤۲هـ) ترسر شوه او دمسلمانانو د اسیرانو تعداد چې آزاد شول ( ۲۳٦۰) تنه ښځې او نارینه وه .

**<u>شپږمه تبادله</u>** : دا تبادله د معتصم با الله په دوره کې په کال (۲۸۳هـ ش) ترسره شوه او هغه مسلمان اسیران چې آزاد شول تعداد یي (۲٤٥۹)تنه ښځې او نارینه وه .

د عباسیانو د سلسلې تر پاي ته رسیدو وروسته هم کله کله دکفارو او مسلمانانو ترمنځ جګړې کیدلي او بندیان هم سره تبادله کیدل .

تر دې ځایه کوم څه چې مونږ و لوستل دکفارو او مسلمانانو ترمنځ د تبادلې په اړه وؤ ، نو مونږ ویلاي شو چې د جنګي بندیانو تبادله د اسلام او مسلمانانو لخوا په نړۍ کې رایج شوي ده چې بیا وروسته وروسته کفري ټولنو هم د اسلام نه په الهام اخستلو په خپل منځ کې د جنګي بندیانو د تبادلې په اړه یو لړ تړونونه لاسلیک کړل او قوانین یي رامنځته کړل چې ددې تړونونو او موافقو په آساس د یو شمیر هیوادونو ترمنځ چې په هغه کې ځیني اسلامي هیوادونه هم شامل ؤ جنګي بندیان تبادله شوي چې تفصیل به یي وروسته راشي، او په اسلام کې د جنګي بندیانو دآزادولو لپاره خاصې طریقې ټاکل شوي، اوهم ورته ځانګړي حقوق په نظر کې نیول شوي چې په لاندي ډول لوستل کیږی.[1]

---

[1] ) ابراهیمی، محمد. اسلام وحقوق بین المللی عمومی، ص ۹۹-۱۰۳ ، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې دجنګي بنديانو د آزادولو طريقې اوحقوق

په اسلام کې دجنګي بنديانو يا اسيرانو دآزادولو لپاره مشخصې طريقې ټاکل شوي چې دهغوپه آساس جنګي بنديان آزادېږي ، همدارنګه د دا ډول افرادو لپاره يوشمير حقوق په نظر کې نيول شوي چې بايد ورکول شي چې مونږ يې په لاندې ډول لولو.

## دبنديانو دآزادولوطريقې:

په اسلام کې عموماً د جنګي بنديانو او دښمنو ډلو د افرادو د آزادې نوعيت په څو مختلفو طريقو منځته راتلای شي چې په لاندې ډول دي:

<u>لومړی ـ د قرارداد او تعهداتو له مخې</u>: کوم څه چې د اسلامي دولت او غير اسلامي دولت تر منځ په قرارداد يا موافقه کې راغلي وي دهغه دموادو په آساس استناد کيږی که داسې پيښه شي چې مخالف طرف د قرارداد مواد نقض کړي د اسلامي دولت په نزد مربوطه قراردادونه او تعهدات ملغا تلقي کيږی . اوکه په قرارداد او تعهداتو باندې ولاړ پاتی شول نو دهغوي افراد او بنديان بيرته ورکول کيږی ددې موضوع په اړه د ((هجرت دشپږم(۶) کال د حديبې)) تعهدنامه ډيره مشهوره ده چې رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) دمکې له کفارو سره لاسليک کړي وه او ددې تړون مطابق دمکې دقريشو هغه نارينه اشخاص چې مسلمان شوي ؤ رسول اکرم(صلی الله عليه وسلم) بيرته هغوي ته اعاده کړل څرنګه چې په دې تړون کې يواځې نارينه شامل و نو ځکه ښځې اعاده نه شوې .

<u>دوهم ـ په يو اړخيز ډول</u> : ددښمن د اسيرانو او يرغملو آزادول په يو اړخيز ډول لکه څرنګه چې رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) د بدر په غزاکې ددښمن ځيني اسيران بې له کوم تاوان ورکولوپه يو اړخيز ډول آزادکړل اوهمدارنګه د حنين په غزاکې ددښمن شپږ زره (۶۰۰۰)تنه نيول شوي بند يان د رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) له خوا په داسې حال کې چې يوه يوه جوړه جامې يې هم ورته ډا لی کړې پدې ډول آزادشول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



<u>دريم - د زور لـه لارې</u> : كه د اسلام هر اړ خيز تلاشونـه دخپلـو يرغملـو د خلاصون لپـاره چـې د دښمن په لاس كې لوېدلي ګټور ثابت نشي او د هغوي د وژلو خطر موجود وي په هغه صورت كې چې مسلمان يرغمل وژل شوي وي يا وژل كيږی نو دزور او قوت استعمال لازمي امر دی لـكـه: كلـه چـې رسـول اكـرم (صلى الله عليه وسلم) عثمان (رضى الله عنـه) د حديبي دقرارداد لـه لاسليک نـه مخكي دمكي كفاروتـه دخپل استازي پـه حيث وليږه خو قريشو هغه نظر بند كړ په عامو خلكو كي دا آوازه خپره شوه چې عثمـان(رضى الله عنـه) ئـي وژلی كله چې دا خبره رسول اكرم (صلى الله عليه وسلم) ته راورسيدله نو ئي وفرمايل د عثمـان د وينـې بدل اخستل فرض دي خو وروسته دهغه دمرګ آوازه غلطه ثابته شوه .

<u>څلورم - د پيسو پـه ذريعـه</u> : دمسلمان بنـدي آزادول د پيسو پـه مقابل كې د بنـدي د آزاديـدو د طريقو څخه يوه طريقه ده ، (جرجي زيدان د لبنان مسيحي عرب) پـه خپل كتـاب (( د اسلام د تمدن تـاريخ ))كې ليكي چې مسلمانانو به خپل اسيران د پيسو پـه بدل كې آزادول او لـه( ۱۸۹ هـ ق نـه تـر ۳۳۵هـ ق )كـال پورې تقريباً ديرش (۳۰)ځلـي دمسلمانانو لـه خوا د دښمن څخـه خپل بنـديان د پيسو پـه مقابل كـې آزاد كړاي شول ددې آزاد شويو بنديانو تعداد تقريبـاً پنځوس زره(۵۰۰۰۰) تنـو تـه رسيدو او دمسلمانانو د غمخوار حضرت محمد مصطفی (صلى الله عليه وسلم) هغه غوښتنـه عملي شوې وه كوم چې فرمايي :

(( زندانيان آزادكړي او دمحتاجانو غوښتنې پوره كړي )) ترديې ځايه پورې مونږ هغه امتيازاتو تـه اشـاره وكړه كوم چې جنګي بنديان تـه د اسلام مبارک دين وركړي همدارنـګه د اسلام پـه دين كې جنګي بنديانو تـه يو لړ حقوق هم وركړل شوي چې په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نيول كيږی.[1]

[1] ) قندهاری، محمد نادر ايوبی. حقوق، ص ۲۸۱-۲۸۴ ، چاپ اول، لاهور: اكرم پرديس لاهور،۱۴۲۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلام کې دجنګي بندیانوحقوق:

**داسلام په حقوقي نظام کې جنګي بندیان اصولاً دلاندي حقوقودموجودیت څخه برخمن دي :**

### 1. جنګي بندیانوته شکنجه او آزار ورکول منع دي.

**دیوروایت له مخي دبن قریظه په جنګ کې بندیان لمرته ناست وُپیغمبر(صلی الله علیه وسلم) خپلو یارانوته وفرمایل: بندیان سیوري ته ورسوی ترڅوخوب او آرام وکړي دلمراوتوري تودوخه یوځای پري مه راولی.**

2. **جنګي بندیان کولای شي دآزادي دلاسته راوړلو لپاره دځیني شیانوپه مقابل کې چې پیسي اوکارهم ورپکښي شامل ده اقدام وکړي.**

**کچیری جنګي بندي پیسي یابل څه دخپلي آزادي دمعاوضي لپاره ونلري نوداسلامي دولت له لوري دڅو مختلفوحالا تو په ترڅ کې دهغوي دبلاعوضه آزادي تصمیم نول کیږی.**

**په اسلام کې اصلاً دجنګي بندیانود بي قیدوشرطه آزادي توصیه شوي اوحضرت رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) پخپله هم داسي اقدامات کړیدي لکه دبدر اوحنین دغذاګانو بندیان چې ئې بي له کوم بدل نه آزاد کړل چې تفصیل ئې مخکي تیرشویده.**

**ترهغه وخته چې جنګي بندیان دمسلمانانو په اسارت کې وي بایدورته کافي خوراک څښاک تهیه کړي اودهغوي دآرامتیا لپاره زمینه برابره کړي،پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) به هم پدي ټکي ډیرټینګارکاوٌ،مولانا شبلي نعماني لیکي:**

**همداعلت وُ چې اصحابوکرامو به په ساده ډوډۍ ګزاره کوله مګراسیرانوته به ئې تردي ښه خواړه تهیه کول،اودښځینه بندیانو په رابطه ئې لازیات تاکیدکړیدی ترڅوله هغوي سره ښه چلند وکړای شي پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) د(حاتم طایي) لورته چې په بندیانوکي راوستل شوي وه د مسجد په یوګوښه کې په ډیرعزت سره ځای ورکړ او ورته ئې وویل کچیری ستاسي له ښا ر نه څوک راغلل تابه ورسره ولیږم هماغه وو چې څو ورځي وروسته ئې دهغي دسفر ساز او سا مان برابرکړاویمن ته ئې ولیږله، په یوبل حدیث شریف کې رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمائي: چاچې دمور او دهغي داولاد ترمنځ په بندکي بیلتون راوستي الله (جل جلاله)به دقیامت په ورځ د هغوی او د دوستانو په مینځ کې بیلتون راولي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که په جنګي بنديانو کې د ژبې او علم څښتنان موجود وي د هغوي دموٌقتي استخدام او مسلمانانوته د درس په ور زده کولو سره هم آزادئ ترلاسه کولای شي .**

**داسلام په حقوقي نظام کې د جنګي بنديانو او جنګي مجرمينو ترمنځ فرق شته نوځکه تر تسليمي وروسته هر جنګي بندي جنګي مجرم نه ګڼل کيږی؛ د جنګي مجرم سره اړونده قاضي حساب کوي او د جرم په تناسب ورته مجازات ورکول کيږی او د نننی نړی د قوانينو غوښتنه هم داشان ده .**

**که داسې وي چې دجنګي بنديانو تعداد زيات وي اوجهاد هم په نورو محاذونوکي نه وي ختم شوی اواسلامي دولت يادمحاذ اعلی قومنداني هم د دښمن د ټولو اسيرانو بل خصوص د ځوانانو د خوشي کولو نه دا خطر احساس کړي چې بيا به د دښمن د صفوفو سره يوځاي شي نو پدې وخت کې اسيران تر خلع سلاح وروسته په توقيف خانه کې ساتل کيږی .**

**تردي ځای مونږجنګي بنديان يااسيران داسلام داصولواوقوانينوله مخې وپيژندل،له هغوي سره دچلندطريقي مو ولوستلې اوهم پدي وپوهيدو چې دي ډول بنديانوته په اسلام کې کوم حقوق په نظرکي نيول شوي، خوداچې دننی نړيوالو ياد بين المللي حقوقوپه آساس جنګي بنديان څوک دي اوکوم حقوق ورته ټاکل شوي دابه په لاندي ډول ولولو:** [1]

---

[1] قندهاری، محمد نادر ایوبی. حقوق، ص ۲۷۷ ـ ۲۸۰ ، چاپ اول، لاهور: اکرم پردیس لاهور،۱۴۲۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګي بنديان دنړيوالوحقوقوله نظره

دجنګي بنديانومسئله د نړيوالو حقوقو دډيرو پخوانيو موضوعاتوله جملي نه يوه موهمه موضوع ده له هغه وخت نه چي دانسانانو ترمنځ جنګونه رامنځ ته شوي دی، نو دهغه مسلحو قواوؤ افراد چي په جګړه کي ښکيل وي اود مقابل طرف لخوا ونيول شي دجنګي بندي په عنوان مطرح کيدل؛ له هغوي سره دچلندطريقي دبشري تمدن اوتفکرپه بدلون سره دتاريخ په مختلفو پړاونوکي بيلابيل مراحل طی کړي مثلاً: په پخوا وختونوکي دا ډول بنديان اکثراً دنيونکولخوا وژل کيدل، يابه په شاقه کارونو ګماريدل اويا به هم دغلامانو په شان په بازارونوکي خرڅيدل اودجنګي بنديانو اطلاق نه يواځي په هغه کسانوکيدل کوم چي به په جګړه کي ښکيل ؤ بلکه دمغلوب طرف ماشومان، ښځي، اوسپين ږيري باندي هم چي دبريااليو ځواکونو دافرادوپه لاس ورتله دجنګي بندي اطلاق پري کيده اوبد چلند به هم ورسره کيده، خو دوخت په تيريدو دتمدُن په پرمختګ او د انساني ټولنو دتفکر په پراخي سره دبشر حقوقو ته توجه وشوه اوديو لړ انقلابونومنځته راتګ ددي باعث شو چي په نړي کي جاهلانه رسوم اوقوانين لغوه شي اودجنګي بنديانو مسئلي ته توجه وشي نو په همدي آساس له اتلسمي ميلادي پيړي نه ورسته دجنګي بنديانو دوضعي دبهبود اوجګړي دقوانينو دتنظيم اوترتيب لپاره يو لړ کوششونه شروع شول اوددولتونو په خپل منځ کي دروابطو د تنظم لپاره يولړعام قواعد رامنځته کړل چي دهغوی په آساس دجنګي بنديانو اوعامو وګړو ترمنځ تفکيک وشو، نو داچي دبين المللي حقوقو له نظره جنګي بنديان څوک دي اوکوم ډول تعريف شوي دي په لاندي ډول يي تربحث لاندنيسو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دجنګي بنديانو پيژندنه :** مونږ وويل چې دجنګي بنديانو وضع اوحالت داتلسمي ميلادي پيړۍ ترپايته رسيدو پوري ډيرخراب ؤ بلاخره ددې پيړۍ په اواخروکې دجنګي بنديانود پيژندنې اووضعې دبهبو دلپاره يولړکوښښونه پيل شول اوددې کارلپاره دجينوا يواوسيدونکي چې هانري دونان نوميده ملاتړلې وه؛ نوموړی چې دسالپورينو(دفرانسې اواتريش ترمينځ دجګړې ) ليدونکی ؤ اوهم يې دجګړې داسيرانو دوژلوغمګيني صحنې په خپلوسترګوليدلې وې دخپل مشهور کتاب ( unsoureinc (Desaliferino) په نشرولوسره ددې غوښتونکی شوچې يوه بين المللي موسسه دې دجنګي بنديانو دپيژندلواود هغوی دوضعې دښه والی لپاره جوړه شي (دونان) دا دمورد نظرتولنه په ۱۸٦۳ م کال په جينوا کې تشکيل کړه چې تقريباً ټولواروپايي دولتونو ورپکې ګډون وکړ بيادې په تعقيب دجنګي بنديانودوضعې دښوالی اودهغوی دتعريفولولپاره دنړی ددولتونو ترمينځ مختلف کنفرانسونه دايرشول اوکنوانسيونونه رامينځ ته شول چې وروستنی يې د۱۹٤۹ م کال دجنګي بنديانوسره دچلندپه اړه دجينوا نړيوال کنوانسيون دی خودا چې په دې ټرونونواوکنوانسونونو کې جنګي بندي چاته وويل: کيږی اوڅوک کيدای شي چې جنګي بندي وګڼل شي دابه په لاندې ډول ترمطالعې لاندې ونيسو.

**د نړيوالو ټرونونوله مخې :** د۱۹۰۷ م کال دلاهې دصلحې ټرون جنګي بندي داډول راپيژني : ((جنګي افراد عبارت دي له ټولوهغوکسانونه کوم چې په دولتي منظمو ځواکونوکې شامل وي همدارنګه هغه داوطلبان کوم چې منظم سازمان ولري اودهغوی تشکيلات، فعاليتونه اوسازمانيدل دعاملې قوې دقوماندان لخوا رهبري شي مشخص علايم ولري اوپه علني ډول يې دوسلې ګرځولوته اقدام کړی وي نومعلومه ده په هغه صورت کې چې دا ډول افراد دمقابل طرف دځواکونوپه وسيله ونيول شي نوجنګي بندي ګڼل کيږی))

نوپه دې آساس ويلای شوچې جنګي بندي صرف ددښمني قوې سرتيري، رتبه لرونکي افسران ،کارکونکي اوهغه څوک چې له هغوی سره کمک کوي داواطلبان کوم چې منظم تشکيلات ولري او هغه افرادکوم چې وروسته له نيولونه تخريب کاراوجاسوس قلمدادشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجګړې پـه ډګرکـي دامریکـا دفوځونـو لاربښود پـه خپلـه ٤٩ مـاده کـې جنګـي بنـدي داسـي تعریــفوي : ((جنګـي بنـدي یومسـلح دښـمن ده اویاپـه داسـي وسـلي مجهـزدی کـوم چـي ددښـمني ښـکارندویه وي اودفعالواهدافو دترسره کولولپاره یې اقدام کړی وي اوونیول شي هغه که دجګړې لپاره دتیاری په مرحله کې وي اویادجګړې په میدان کې ټپي شوي اوپه شفاخانه کې تسلیم شي اویاپه عمومي تسلیمي کې تسلیم شوي وي)) همدارنګـه دامریکـا دفوځونـوود لاربښود ٥٠ مـاده ځینـې نـورافراد هم دجنګـي بندیانوپـه کټـه ګـوري کـې راولـي ( ټـول هغـه افرادچـي دجګـړې لـه یـوه طرف سره همکـاري وکـړي لکـه ځواکونوتـه دسازاوسامان برابرول هغه که دهرهدف لپاره وي او ونیول شي جنګي بندي ګڼل کې . [1]

**دجنیواکنوانسیون لـه مخي:** د١٩٩٤م کال داګست ددولسمي نیټي دجنیوا نړیوال کنوانسیون په خپله څلورمه ماده کې جنګي بندیان دا ډول تعریفوي:

**الف-** په جګړه کې دښکیلوډلودوسلوالو ځواکونـو غړي همدارنګـه ددعوا طلبـواو چرکـي ډلـو غـړي کـوم چې دیادو وسلوالو ځواکونو یوه برخه وي .

ب – د نوروچرکي اوداواطلبوډلوغړي کوم چې د مقاومت په نهضتونو کې سره راټول وي اودجګړې پـه ښکیلو طرفونو پوري اړه ولري اوله خپلي خاوري په خارج یا داخل کې عملیات وکړي کـه څـه هم خپلـه خاوره یې اشغال شوي وي کوم چې دوي وریکي جنګیږي خو دا لاندي شرایط بایدولري:

1. دیوه نفر رئیس یاقوماندان تر رهبري لاندي فعالیت وکړي اوهغه باید ددوي داعمـالو مسؤلیت پـه غاړه واخلي .
2. ځانګړي اوثابتي نښاني ولري چې له لري فاصلي نه دپیژندلو وړوي .
3. خپله وسله په ښکاره ډول وکرځوي .
4. خپل نظامي عملیات دجګړي له قوانینو اورسمو سره مطابق ترسره کړي .

ج- دهغو منظمـو مسلحو قـواووغړي چـې ځـان پـه داسـي دولـت یـامرجع پـوري تړلـی بـولي کـوم چـې داشغالګرهیواد له خوا په رسمیت پیژندل شوي وي .

---

[1] ) ارفعی، عالیه، ومحمود مسائلی، جنګ وصلح ازدیدګاه حقوق و روابط بین الملل، ص ٢١٥ -٢١٨ ، چاپ دوم، تهران: وزارت امورخارجه مؤسسه چاپ و انتشارات، ١٣٧٣ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د- هغه افراد چې دمسلحو قواو مرسته کوي بغير له دي چې له هغوي سره عملاً په جګړه کې برخه واخلي لکه دنظامي الوتکو غيري نظامي کارکونکی، دجګړي د ډګر خبريالان دتدارکاتوغيري نظامي مامورين اودهغو خدماتي اوکارګري ډلو غړي کوم چې دمسلحو ځواکونو د اسوده ګي اوهوسايني لپاره کارکوي په دي شرط چې مسلحو ځواکو ورته ددي کار اجازه اوځانګړي کارتونه ورکړي وي .**

**و- دبحري قوي اوتجارتي کشتيو کارکوونکي له هغي جملي نه دکشتۍ قوماندان چلوونکي اودهغوي مرستيالان .**

**هـ-داشغالي سيمو اوسيدونکي چې خپلي خاوري ته له ورغلي دښمن سره دمقابلي لپاره راوتلي وي ،بي له دي چې دمنظمو ځواکونو په څير سازمان اوتشکيلات ولري ،خو په دي شرط چې خپله وسله په ښکاره ډول وګرځوي ،اودجګړي رسوم رعايت کړي ،داپورته کسان چې مونږ ورڅخه يادونه وکړه ،هغه وخت چې دمقابل طرف دځواکونو په وسيله ونيول شي نو دجنيوا دکنوانسيون دڅلورمي مادي دحکم په آساس جنګي بندي ګڼل کيږی.**[1]

**دپورته ذکرشوي معلوماتو په نظرکي نيولو سره ويلاي شو ددي لپاره چې يوسرتيری دخپل دښمن له خوا ترنيول کيدو وروسته دقانوني جنګي بندي موقف ترلاسه کړي نو بايد لاندی څلورشرايط ولري .**

1. **دی بايد دهغه چاله طرفه رهبري شي کوم چې دخپلوافرادودساتني مسؤليت په غاړه ولري؛ ددي شرط مطلب داده چې ځواکونه درهبري اودسپلين يو منظم تشکيل ولري اوددي وړتيا پيداکړي، چې په جنګ کي دجګړي قوانين رعايت کړي .**
2. **دی بايد يو مشخص نښان يايونيفورم ولري ، چې له لير فاصيلي نه وپيژندل شي ترڅو وښيې چې هغه يوسرتيري دی اودا کار دهغو کسانو دحفاظت لپاره دی کوم چې غير نظاميا ن ياعوام دي.**
3. **دي بايد خپله وسله په ښکاره ډول وګرځوي، ترڅو داوښي چې دي يو جنګيالي دی .**
4. **دي بايد دجګړي قوانين مرعات کړي .**

---

[1] *) قرار دادهای بين المللی ژنو ، ص ۱۰۳ ـ ۱۰۵ ، مورخ ۱۲ ، سال ۱۹۴۹ م، چاپ اول، کابل: کمية بين المللی صليب سورخ، ۱۳۸۴ هـ ش.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوه دبين المللي قوانينو اومقرراتو له مخې دجنګي بنديانو پيژندنه خو داچې دجنګي بنديانو حالت پخوا يعني مخکي دجينوا دکنوانسيو له تصويب نه څه ډول ؤ دابه په لاند ډول مطالعه کړو[1] .

## د دوهمي نړيوالي جګړي ترپاى ته رسيدوپوري دجنګي بنديانو حالت اوجنګي جنايت كاران

متاسفانه دانسان لخوا د تاريخ په اوږدو کې په خپلو همنوعانو باندې داسي جنايات ترسره شوي چې د هغوي له بيان نه قلم ناتوانه دى او پدې لړکي شايد مظلوم ترين هغه بنديان وى کوم چې د خپلو دښمنانو له خوا نيول کيدل او دجنګي بندي نيول نه يواځې د بندي د اړوند ځواک د ضُعف لپاره يوه مهمه ضربه ګڼل کيده بلکه د دښمن د ځواکونو او قوت په رابطه د اطلاعاتو د لاسته راوړلو او خپلو تبليغاتو د پر مخ بيولو لپاره يو مهمه وسيله هم ګڼل کيده. بناً جنګي بندي تر نيولو وروسته د مقابل طرف لخوا تر سختو روحي، جسمي اواخلاقي فشارونو لاندې نيول کيدل خو داچې د جنګي بنديانو وضع او حالت مونږ دتاريخ په اوږدو کې په ښه ډول مطالعه کړي وي نولاندې مطالب تر بحث لاندې نيسو.([2])

[1] ) ګوتمن، روى. اناکاتالدى او جيلس. جنګى جرمونه ، ص۳۷۰-۳۷۳ ، ژباړونکى : نظام الدين کتوازى او جلات خان حکمتى، دوهم چاپ، کابل: کليد ګروپ، ۲۰۰۸ م.

[2] ) ابراهيمى، محمد. اسلام وحقوق بين المللى عمومى، ص ۴۷ - ۴۹ ،  چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانى دانشګاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنګي بنديانو وضعه او حالت

دجنګي بنديانو حالت د دوهمې نړيوالې جګړې تر پاى ته رسيدو پورې په غير اسلامي ټولنو کې ډير خراب وؤ او د دا ډول بنديانو مسئله به تر ډيره حده د وژلو، غلامولو او خرڅولو د لارې حل کيده دوخت ټولنې او سازمانونو هغوي ته په ډيرو کمو حقوقو هم قايل نه وؤ او د اوضاع او شرايطو د غوښتنې سره سم هرنوعه تصميم چې به دبندي د نيوونکي خوښ ؤ دهغه په رابطه يي سرته رساوه اوپه زياترو مواردوکي چې به جنګي بندي ژوندي پاته کيده يا په بل عبارت دهغه لپاره به تدريجي مرګ تصويب کيده نو دا د بندي لپاره ډير لوي امتياز او نيکي وه،او دا ډول کړنې نه يواځې له هغو بنديانو سره کيدې کوم چې دنيوونکي طرف سره به يي قومي او نژادي اختلاف درلود بلکه د خپلو هم نژادو او وطنوالو سره هم دا ډول کړني کولې اوجنګي بنديان ديولړخاصواهدافوپه خاطرنيول کيدل چې تفصيل ئې په لاندې ډول بيانيږي.([1])

### دجنګي بندي له نيولونه دبرياليوځواکونو اهداف:

دتاريخ په اوږدوکي دانسانانو دمغلوبولو اوبندي کولو نه انتقام اود شکنجې اوډليېزي وژنې دانګيزي نه علاوه يولړنوري انګيزې هم موجودي وې کولاى شوهغه په لاندي ډول بيان کړو:

1) ددښمن دسرکوبې اوپه هغه درعب اچول اومسلط کيدل همدارنګه له داډول بنديانونه ددښمن دنظامي اسرارو نه دخبريدلولپاره هم کار اخيستل کيدل.

2) دجنګي بندي لرل ياساتل ديرغمل په ډول ((دهغه ساتل ددي لپاره چې دښمن لورى دهغه په وژلوتهديدکړي)).

3) دجنګي بنديانو نيول ددي لپاره چې له خپلوهغوسرتيرو سره ئې تبادله کړي کوم چې ددښمن په ولکه کې دي دا کارمعمولاً دجګړې په پاى اودسولې له تحقق نه وروسته کيده.

4) دبندي له پوهې، تخصص،کار اوفکري قوي نه دګټې اخيستلولپاره.

---

([1]) انورى، حميد ضامک محمد. مفاهيم تعليق مخاصمات وحالت نه جنګ نه صلح در حقوق بين الملل، ص۱۲۱-۱۲۵ ، چاپ اول، تهران: مطبعه انتشارات، ۱۳۷۰ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5) دکوراوزراعت په کارونو کی کاراخيستل همدارنګه دهغوي له فردي اود ستجمعي بيګار نه کاراخيستل لکه په پخواني مصرکي چې متداول ؤ چې په بنديانونه به ئي دحيواناتوپه څيرکارکاؤ.

6) دناوړه کار((دجنسي غريزي داشباع )) لپاره اودا کاراکثراً له ځوانو بنديانو نه زيات اخيستل کيده.

7) په داخلي اونړيوالو بازارونوکي دخرڅلاوه چې له دي لاري به فاتح لوري زياته ګټه ترلاسه کوله.

8) ددي لپاره چې ددښمن سرتيري دژوندي پاتي کيدلولپاره ځان بند ته ورکړي اوله زيات مقاومت نه لاس واخلي.

9) دسلطان دعظمت اوقدرت دښکاره کولولپاره يعني هرسلطان چې به زيات بنديان درلودل هغه ته به دعظمت په سترګه کتل کيدل.

10) دبندي شخص دآزادولو په مقابل کې دهغه يائي له قبيلي نه دپيسو( فدئي) اخيستلو لپاره .

11) له جنګي بنديانونه دنظامي فعاليتونولپاره کاراخيستل کيده.

نوپدي آساس ويلاي شو چې دجنګي بنديانوله نيولونه مهم اهداف اقتصادي اوغيري اقتصادي ګټي وي چې دبرياليوځواکونو دسرتيروپه برخه کيدلي داهغه څه وو چې سرتيروته ئي له ټولو غنايمو زيات ارزښت درلود همداعامل ؤچې سرتيروبه دبندي په نيولوکي زيات کوشش کاوو اودا انګيزه ترزياته حده دانسانانودوژلو اوقتل عام په سطحه کې دکمي راوستلولپاره مؤثره وه. ([1])

دهغو جناياتو تفصيل کوم چې دتاريخ په اوږدوکي خصوصاً ددوونړيوالوجګړوپه جريان کي دجنګي بنديانوپه ضدترسره شوي په لاندي ډول ده .

---

[1] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۵۴-۵۷، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجنګي بنديانو دلیزه وژنه:

پخوا وختونو کی جنګی بندیان د نیوونکو لخوا اکثراً پـه دلییزه ډول وژل کیدل چې ددې ډول جنایاتو نمونې په تاریخ کی په زیات شمیر ثبت دی .همدارنګه په قران کریم کې الله (جل جلاله) دیهودانو د ظلمونو نه یادونه کوی او په هغوی لعنت وایی کوم چې د یمن د پادشاه (زونواس) پـه مشری پـه غالب احتمال د وخت په مؤمنانوچې د ( نجران مسیحان ) وو دوی پری بریالی شوی وؤ اوبیایی ټول نیول شوي کسان په دلییز ډول په اورکی وسوزول او دا ډول مجازات هغه وخت نه یواځې هغو کسانو ته ورکول کیدل کوم چې به په جګړه کی عملاً دخیل وو. بلکه د هغوی ښځې ، ماشومان حتی حیوانات هم وژل کیدل یهودانو دا ډول اعمال ظاهراً د تورات د حکم پر آساس تر سره کول لکه چې په تورات کی راغلي زمونږ خدای ( یهوه ) (عوج ملک پاشان) او د هغه ټول قوم مونږ ته تسلیم کړ او هغوی ته مو داسی شکست ورکړ چې هیڅ هم ورنـه پاتی نشول لـه هغوی نـه مو ټول ښارونه ونیول اوهر ښار مو لـه ښځو ، نارینوو او ماشومانو سره هلاک کړلو .

عیسویانو هم په دا ډول کړنو کی له یهودانو نه کم نه وو. هغوی تر هغه وخته چې پـه اروپا کی د کلیسا قدرت وو ډیری بندیان د پاپ په حکم په دلییزه توګه پـه اورکي وسوزول همدارنګه هغه صلیبی جګړې چې پنځه پیړي یی د عیسویانو او مسلمانانو تر منځ ادامه لرله عیسویانو د جنګي بندیانو سره تل ناوړه چلند کاوه او په دلییزه توګه ئـي وژل دمثال پـه ډول ( البر مالـه ) خپل عمومی تـاریخ کی د سپاصلیب د جنایاتو په اړه لیکي د صلیبي لښکرو قومندان ( ګود فرواه دوبولون ) په خپل یو راپور کی پاپ ته داسی ولیکل :

که غواړی چې وپوهیږي لـه هغه مسلمانانو سره چې پـه بیت المقدس کی زمونږ لاس تـه راغلی وو څه وشول نودومره وپوهیږه چې زمونږ کسانو پر هغو باندي چې د سلیمان په مسجد کې یې پناه اخیستي وه داسی حملي وکړي چې وینی ئي زما د آس تر ځنګنونو رسیږي له هغوی نـه هیڅ کس روغ نـه دی پاتي حتی د هغوی ښځي او ماشومان هم مونږ معاف نه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د(فریدوجدي) په نامه یولیکوال لیکي: د هسپاني په فتح کې هغه مسلمانان چې عیسویانو نیولي وو دری انتخابـه ورتـه پـه مخکـې کیښـودل شـول (۱مسـیحیت قبلـول ، ۲پـه تـوره وژل کیـدل او ۳پـه اور کـې سوزیدل.([1])

دا په قرون اولی او په قرون اوسطی کې د الهي ادیانو د پیروانو چلندونه وو چې له جنګي بندیانو سره یې درلودل . بیا وروسته په معاصرو پیړیو کې هم په غیر اسلامی ټولنو کې د جنګي بندیانو ډلییزه وژنـه روانه وه چې ښه مثالونه یې په لمړۍ او دوهمې نړیوالي جګړې کـې داروپایی هیوادنودرهبرانـو اعمـال وو مثلاً : د آلمان نازیانو یواځې یهودان شپږ میلیونه تر تیغ تیر کړل همدارنګه د پولنډ او فرانسـي اتبـاع چې نازیانو د جګړو په ترڅ کی نیولي وو پـه ډلییزه توګـه ووژل، اوددې جګړې دنورو مقابلو طرفونـو لخواهم د بندیانو په وژلو صرفه نه ده شوي له هغې جملې نه فاشیستی ایټالیا، جاپان او شوروي د جنګي بندیانو د ډلییزی وژني ریکارډ لري خو له دې نه علاوه په دوو نړیوالو جګړو کې جنګـي بنـدیان د زیـاتو شکنجو سره هم مخ وو. چې د هغې د جملې نه مونږ د څو ډولو شکنجو یادونه په لاندې ډول کوو:

## دجنګي بندیانو شکنجه ٍ:

دلمړۍ او دوهمـې نړیـوالي جګړې پـه جریـان کـې اولـه دې نـه مخکـي جنګـي بنـدیان پـه بـیلا بیـل ډول د نیوونکو لخوا تر شکنجې لاندي نیول کیدل مثلاً اکثره وخت به په جنګي بندیانو باندي طبي تجربي ترسره کیدې لکـه د جاپـان پـه أردو کـې د طب محصلینوتـه پـه جنګـي بنـدیانو بانـدي مناسب تخنیکونـه ورښـودل کیدل. او جنګي بندیان به په عرابه لرونکو تذکیرو پوري تړل کیدل او بي له بیهوشی نه به عملیـات کیـدل او بیا به د جراحۍ په تخنیکونو کې د مثالونو د ښودلو لپاره کـارول کیدل؛ اکثره بنـدیان بـه وروسـته لـه عملیاتو نـه مړه کیدل او که په خپله مړه نـه شـول نـو پـه ډزو بـه ویشـتل کیـدل ، ددې تـر څنـګ نـوري ډول ډول شکنجې موجودي وي لکه برقی جټکې ورکول ، اجباري کارونـه بي له اوبو اوخوړو نـه د ډیرو شپو لپاره په لوږه ساتل اوداسي نور ډول ډول شکنجې جنګي بندیانو ته ورکول کیدي .

[1] ) ابراهیمی، محمد. اسلام وحقوق بین المللی عمومی، ص ۴۸-۵۴، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردي ځایه مونږ د جنګی بندیانو وضعه او حالت د دوهمی نړیوالی جګړی د پای ته رسیدو پوری ولوستل اوله هغو جنایاتونه خبر شو کوم چې د ټول بشریت بلخصوص د جنګی بند یانوپه ضد تر سره شوي وو،داچی د دي جنایاتو عاملین څوک وو،او بلاخره د هغوی سرنو شت څه ډول شو، دابه مونږ په لاندي ډول ولولو . (۱)

[1]) ګوټمن، روی. اناکاتالدی او جیلس. جنګی جرمونه ، ص ۱۳۷-۱۳۸ ، ۲۱۰ ، ۳۲۲-۳۲۳ ، ژباړونکی : نظام الدین کټوازی او جلات خان حکمتی، دوهم چاپ، کابل: کلید ګروپ، ۲۰۰۸ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګي جنايتکاران

((هغه څوک چې دجنګ قوانين اورسوم مات کړي يعني جنګي بنديان ووژني، ملکي کسان ووژني له هغوي سره بد چلند وکړي له هغوي نه دبيګارکار واخلي يرغملان ووژني اوپه عمومي اوخصوصي اموالو باندي چپاول وروړي...........دا ډول کسانوته دنړيوالو حقوقو له نظره جنګي جنايتکاران وائي)). ددواړو نړيوالوجګړوپه ترڅ کي دنړۍ ددېرو جګړه کونکو هيوادونو نظامي چارواکي د دا ډول اعمالومرتکب شوي ؤ همدا لامل ؤچې ددهمي نړيوالي جګړي په پای کې دآلمان اوجاپان له ماتي نه وروسته په کال ( ١٩٤٥م ) کې ددي جګړي دګټونکوهيوادنو(امريکا،شوروي،فرانسي اوبرتانيا) استازی په لندن کی ديو کنفرانس په ترڅ کی ددی ډول جنايتکارانو دمحاکمی لپاره ديوي نړيوالی نظامی محکمی دجوړيدو غوښتونکی شول چې بيا ددوی دغوښتنی په آساس د(نورمبرګ) نړيواله نظامی محکمه جوړه شوه اوددي په تعقيب دهغه منشور دتدوين په آساس چې د ١٩٤٦م کال د جنون په ١٩ مه نيټه تصويب شو د(توکيو) نړيواله نظامی محکمه تشکيل شوه چې مونږ هره يوه په جدا ډول تربحث لاندی نيسو.

## دنورمبرګ نړيواله نظامی محکمه:

دامحکمه چې ددوهمي نړيوالي جګړی دګټونکو هيوادونو په پيشنهاد ددي جګړي دبايلوونکو هيوادونو (جاپان اوالمان) دجنګي جنايت کارانو دمحاکمي لپاره جوړه شوه دنورمبرګ په محکمه باندي مشهوره ده. دا محاکمه د( ١٩٤٥م ) کال داګست مياشت کي د اتو(٨) قاضيانو په ګډون چې څلور(۴) يی آصلی اعضاء اوڅلور(۴) نورئي غير اصلي ( علی البدل ) اعضاوؤ تشکيل شوه دهغوی په صورت دعوی کي دصلحي ضد جناياتو،بشريت ضد جناياتو، اوجنګی جناياتو څخه يادونه شوي وه چې دجنګی بنديانو دوژلو اوځورولو توريي هم په خپل ضمن کي درلود، دې محکمي خپل کار د( ١٩٤٦م) کال په اکتوبر کي پای ته ورساوه او دهغو (٢٢ ) تنو له جملی نه چې محکمی ته راکش شوی ؤ دوه(٢) نفره په اعدام دري(٣) نفره په ابدي بند دوه(٢) نفره په شل کاله بند يو(١) نفر په پنځه کاله بند يونفر(١) په لس کاله بند محکوم شو او باقی پاتی ديارلس (١٣) نفرو برائت ترلاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتوکيو بين المللی نظامي محکمه:

دهغه منشور لـه مخـي چې پـه تصـويب رسـيدلی ؤ، دجاپـان دجنګـي جنايـت کـارانو دمحکمـي لپـاره د توکيونړيواله نظامي محاکمه دايره شوه چي په هغوي کی دنورو بيلابيلو تورونو تر څنګ يوهم له جنګي بنـديانو سره دنـاوړه چلنـد تـورؤ، دتوکيـو محکمـي دخپل دوکلن کارنـه ورسته دپنځـه وشتو(٢٥ ) تنـو متهمينو دوسيه چې (١٥٠٠ ) ورقوته رسيده ترتيب اوصادره کړه ، دمحاکمي په پای کې لـه هغه (٢٥ ) تنو متهمينو نه چې محکمي ته راکش کړای شوي ؤ ،( ٧) نفره پـه اعدام ، (١٦) نفره پـه ابدي حبس، (١)نفر په (٢٠ ) کاله حبس او(١ )نفر په (٧) کاله حبس محکوم شو ،اوهيڅ يو هم تبريه نه شو .

تردي ځايه مونږ هغو حالا تو ته اشاره وکړه ،کوم چې دجنګي بنديانو نـه حمايت اوملاتړ موجود نـه ؤ اوکه احياناً ځيني تړونونه اوسازمانونه ددي کـار لپـاره موجـود هم ؤ خو پـه عمل کې جنګي بنـديانو تـه کومـه ګټـه رسولي نـه وه اونـه ئـي دهغوي پـه حالـت کې کوم بـدلون را و ستلی ؤ؛ اوس مونږلـه جنګـي بنديانونــه دحمايـت لپــاره ديـو شـمير تړلنـو فعاليتونــه اوددي کارلپــاره پــه نړيوالــه سـطحه دائرشـوي کنفرانسونه، تصويب شوي تړونونه اوکنوانسينونه له هغي جملي نه له جنګي بنديانوسره دچلند پـه اړ ه د١٩٤٩م کـال دجينـوا نړيـوال کنوانسيون اوپـه هغـه کـې دجنګـي بنـديانو شـرايط، حقـوق اويوشـمير نـور موضوعات تربحث لاندي نيسو.[1]

[1] ) خمينی، عباس هدايتی. شورى امنيت وجنګ تحميلی عراق عليه جمهورى اسلامی ايران، چاپ اول، تهران: وزارت امور خارجه،١٣٧٩ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لــــه جنګـــــي بنديانوســـــره دچلنــــد پــــه اړه دجينــــوا نړيــــوال كنوانســــيون

كه چيرى مونږ دجنګي بنديانو نـه دحمايت او ملاتړ تـاريخچې تـه نظر وكړونـو دجنګي بندي دوضعي پـه رابطـه د (١٨٧٤م ) كـال كنفرانس او داكسفورډ د(١٨٨٨م) كـال داعلاميې خپرېدل ددي باعث شو چې دجنيوا ديوه اوسيدونكي اودجنګي بنديانو حـامي (هـانري دونـان) پـه هڅـه اوكوشش( ١٨٥٩م )كـال لـه جنګي بنديانوسره دملاتړ لپاره يو جنبيش رامنځتـه شي ،دهغه دكوششونو پـه نتيجه كې ؤ چې دجنګي بنديانو دوضعي دښـه والـى لپـاره پـه (١٨٦٣م ) كـال يـوه ټولنـه تاسيس شوه چې بـالاخره ټولـو اروپـايي هيوادونو پكښي ګډون وكړ ددي په تعقيب په (١٨٦٤م) كال ددي ټولني دغړو هيوادونـو دمختـاروزيرانو كنګره دسره صليب تر نشان لاندي جوړه شوه اولـه جنګي بنـديانو سره دچلند طريقـه ورپكـي مشخصـه شوه.([1])

پـه (١٩٠٧م) كـال دلاهـي دصلحي پـه اعلاميـه كې هم دجنګـي بنـديانو نـه حمايت شـوي دى ،اوبيـا پـه (١٩٢٩م)كال دسره صليب دنړي والي كميټي په زيار دجنيوا دجنګي بنديانو كنوانسيون رامنځته شو پدي كنوانسيون كي له جنګي بنديانو سره دچلند طريقي اودهغوي حقوق مشخص شوي ؤ،ددوهم جهاني جنګ په جريان كي موجوده كنوانسيونونه دجګړي له قربانيانو نـه دحمايت پـه برخـه كې دښو اومثبتو نتـائجو لرونـكي ؤ، ولي په اكثره وختونو كې دبنـديانو حقوق ورپكـي مبهم ؤ اونقض كيدل بنـاً دي كنوانسينونو دتجديـد نظـر غوښتنه كولـه همغـه ؤ چې پـه كـال (١٩٤٨م ) كې دسـره صـليب دكميټـي پـه ١٧ نړيـوال كنفرانس كي چې دسويډن په( ستاكهلم) كي دايرشوي ؤ داغوښتنه وكړه چې په ځينو نړيوالو تړونونو كي دي تجديد نظر وشي، دهغي جملي نه يو هم له جنګي بنـديانو سره دچنلدپـه اړه دجينـوا د( ١٩٢٩م ) كـال كنوانسيون ؤ په دي كنوانسيون كي تجديد نظر ددي باعث شو چې لـه جنګـي بنـديانو سره دچلنـد پـه اړه دجنيوا دريم كنوانسيون رامنځته شي، هغه په دي دول چې د (١٩٤٩م ) كـال داپريل لـه ٢١ نـه ددي كـال داګسټ تـر ١٢مـي نيټـي پـوري دنړيـوال سره صـليب كميټـي پـه ابتكـار دجنيـوا نړيـوال كنفـرانس د(٦١ )هيوادونو په ګډون سره افتتاح شو چې پـه نتيجـه كې دجنيوا څلورګوني كنوانسيونونـه تهيـه اوتصـويب شول ،چې له دي څلورګونو كنوانسيونو څخه دريم كنو انسيون دجنګـي بنديانو پـه حقوقـو پـوري مربـوط دى چې (١٤٣ مادي اوپنځه ضميمي) لري پداسي حال كې چې دجنيـوا د(١٩٢٩م ) كـال كنونسيون( ٩٧ مـادي) لرلـي اودلاهـي دكنونسيون هغـه فصل چې پـه جنګـي بنديانوپوري مربـوط ؤ يـوازې (١٧مـادي) درلودي،خو داچې د (١٩٤٩م ) كال په كنوانسيون كي جنګي بنديانو تـه كـوم حقوق وركـول شـوي اولـه هغـوي سـره دڅـه ډول چلنـد پيشـنهادكوي اودجنـګ بنـدي پـه غـاړه كـوم مسـؤليتونه وراچـوي پـه دي مطالبودښي پوهيدني لپاره مونږ داكنوانسيون په مكمل ډول تر مطالعي لاندي نيسو ([1])

---

[1] ) انورى، حميد ضامك محمد. مفاهيم تعليق مخاصمات وحالت نه جنگ نه صلح در حقوق بين الملل، ص١٢٦-١٢٧ ، چاپ اول، تهران: مطبعه انتشارات، ١٣٧٠ هـ ش.

([1] ) ارفعى، عاليه، ومحمود مسائلى، جنگ وصلح ازديدگاه حقوق و روابط بين الملل، ص ١٥٣، ٢١٥-١٥٥ ، چاپ دوم، تهران: وزارت امورخارجه مؤسسه چاپ و انتشارات، ١٣٧٣ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمومي مقررات:

داچې ۱۹۴۹م کـال داګست ددولسـمي دجنیـوا بـین المللـي کنوانسـیون دجنګـي بنـدیانو لپـاره کـوم حقـوق مشخص کړي اودا کنوانسیون په خپلو لاسلیک کونکو هیوادونـو څـه ډول التزامـات لګـوي اوکـوم وجایب دهغوي په غاړه وراچوي په دي مسایلو دپوهیدو لپاره لاندي مطالب لولو .

1) دتړون رعایت.

2) اجرا.

3) پیل .

4) پای.

**الف- دتړون رعایت، ۱ ماده :** ددي تړون متعاهدین په دي ملزم کیږی چې په هر موقیعت اوحالت کې داتړون رعایت کړي، اودهغه دموادودتطبیق لپاره اقدام وکړي .

**ب- دتړون اجرا، ۲ماده :** هغه جګړي اویا بل هر ډول مسلحانه شخړي چې ددي تړون دمتعاهدینو تر منځ واقع شي نو باید دهغو مقرراتو نه علاوه، چې دصلحي په وخت کې داجرا قابلیت لـري ددي تړون مقررات هم باید رعایت شـي، کـه څـه هم دجګړي یـوطرف شـخړه پـه رسـمیت هم نـه وي پیژنـدلي،اودا دنړیوال تړون په تولو هغو مواردوکي چې ددې تړون د یو متعاهدلوري تولـه یـا یـوه برخـه اراضـی اشـغال شوي وي د اجرا وړ ده حتی که دا اشغال له هیڅ مقاومت سره هم مخ شوی نوي .

**ج - د تړون پیل او پای ۵ ماده:** کله چې جنګی بندی ( کوم چې په څلورمه ماده کی تعریف شوی او تفصیل یی مخکي تیر شوی ) ددښمن هیواد په لاس کی ولویږي ددې تړون دمواردو اجرا پیل کیږی او بیا هغه وخت چې دا اشخاص آزاد کړل شي او خپل هیواد ته ورسیږي د تړون اجرا هم پای ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړی موافقې او سور صليب:

**الف ـ ځانګړي موافقې، (٦مه) ماده :** متعاهد لوری کولی شی په خپل منځ کی ځانګړې موافقې وکړي؛ خو هيڅ موافقه نشی کولی په هغه حالت او حقوقو کی کمښت راولي کوم چې جنګی بندي ته په دې تړون کی ورکول شوی دی.

**ب ـ همدارنګه د تړون (٧مه) ماده حکم کوی:** چې په هيڅ حالت کی نشی کيدی چې له جنګی بندی نه هغه حقوق ټول يا ځينې د هغوی وګرځول شي کوم چې په دې نړيوال تړون کی ورکول شويدي.

**ج ـ د سره صليب فعاليتونه، ٩ ماده:** ددې نړيوال تړون مقررات د سره صليب د نړيوالې کميټې او نورو بشر دوستو سازمانونو په فعاليتونو کې چې د جنګي بنديانو او نورو محتاجانو سره يې دمرستې لپاره سرته رسوي هيڅ مانع او خلل نه ايجادوي . ( [1] )

## له جنګی بنديانونه حمايت:

له جنګی بنديانو نه د حمايت يا ملاتړ پورې اړوند مواد د جنيوا دکنوانسيون په دوهمه برخه کی راغلي چې په لانې ډول يی لولو .

### 1 -له جنګي بنديانو سره د چلند مسؤليت:

**الف- د نيوونکي هيواد مسؤليت ،١٢ ماده :** جنګي بندي د دښمن هيواد په لاس ورځي نه د افرادو او نظامی ډلو چې هغوی يې نيولي وي هغه کسان چې له جنګي بنديانو سره سروکارلري دهغوی دفردي مسوليت نه علاوه نوونکی هيوادله جنګي بندي سره دهر نوع چلند مسؤليت په غاړه لري،د بندي نيوونکی هيواد نشي کولی چې بندي بل هيواد ته انتقال کړي مګر په هغه صورت کی چې دا هيواد هم د کنوانسيون غړيتوب ولري او هغه هم په هغه صورت کی چې مطمئن شی قبلونکی هيواد د تړون د موادو د اجرا قابليت لری او هم ددي کارلپاره ميلان لری نو په دې شرايطو کی که چېرې جنګی بندي قبلونکي هيواد ته منتقل شی نو د بندی مسؤليت د قبلونکی هيواد په غاړه دی .

---

[1] ) قرار دادهای بين المللی ژنو ، ص ١٠١ـ ١١٠، مورخ ١٢، سال ١٩٤٩م، چاپ اول، کابل: کمية بين المللی صليب سورخ، ١٣٨٤ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب- د جنګي بندي سره انساني چلند، ۱۳ماده :** له جنګي بنديانو سره بايد هميشه انساني چلند وشي اوهرغير مو جه عمل ياغفلت چې دنيونکي هيواد له لوري دجنګي بندي دفوت يادصحت دمتضررکيدو باعث شي ددي ترون دمهمو تخلفاتو له جملي نه ګڼل کيږي بالخصوص جنګي بندي په هيڅ صورت بايد دطبي، جراحي يابل هر علمي ازمايشت چې د جنګي بندي په نفع نه وي لاندي ونه نيول شي،اودجنګي بندي په وړاندي هر نو عه خشونت اميزه اوتلافي جويانه اعمال ممنوع دي .[1]

**ج - دجنګي بندي ساتنه ، ۱۵ماده :** هغه هيواد چې بنديان يي نيولي وي مکلفيت لري ،چې دبنديانو ورځنۍ اړتياوي اودهغوي روغتيايي ضرورتونه په مجاني ډول پوره کړي .

**د- له جنګي بنديانو سره مساويانه چلند، ۱٦ماده :** نيونکی هيواد ددي ترون دمقرراتو په رعايت سره دهغوامتيازاتو په ورکولو کې کوم چې بنديانو ته دهغوي درتبې، جنسيت ، سن اويا احتمالاً د هر حرفوي مهارت په آساس ورکول کيږي له ټولو جنګي بنديانو سره به يوډول چلند کوي اودعقيدي، نژاد ،مليت اويا سياسي نظرياتو په خاطر دجنګي بنديانو ترمنځ بايد هيڅ نوعه توپيرته قائل نه وي .[2]

**دجنګي بندي داسارت پيل:** هرکله چې جنګي بنديان ونيول شي نو تبعاً دنيونکو له خوا يوه ځاي ته انتقاليږي داچې دکنوانسيو داحکامو په آساس دا به څه ډول ځاى وي اوله بنديانوسره بايدنورڅه وشي دابه په لاندي ډول ولولو .

**الف - د جنګي بنديانوتحقيق،( ۱۷مه) ماده :** هر جنګي بندي دپوښتنو په وخت کې صرف په دي مکلفيت لري چې نوم ،دکورنۍ نوم ،رتبه ،دتولد نيټه ،نظآمي نمبر ،ټولی ،خدمتي نمبر اودنلرلوپه صورت کې ددي مشابه اطلاعات دخپل ځان په مورد کې ښکاره کړي ،اوکه چيرى بندي قصداً ددي قاعدي نه تخلف وکړي احتمال لري هغه امتيازات ورنه وګرځول شي چې دده همسين اوهم رتبه بنديانو ته ورکول کيږی، خو ددي ډول اطلاعاتو دترلاسه کولو لپاره هر ډول خشنت اوشکنجه منع دي ،پوښتني بايدپه هغه ژبه وي چې دبندي لپاره قابل دفهم وي .

**ب- دجنګي بندي اموال،( ۱۸مه) ماده :** ټول هغه شيان چې دبندي دشخصي استفادي لپاره وي په استثناً دآس، وسلي، نظامي تجهيزاتو اواسناد له بندي سره باقي پاته کيږی .

---

[1] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۵۹-۶۱، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشګاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.

[2] ) قرار دادهای بين المللی ژنو ، ص ۱۰۹ - ۱۱۱، مورخ ۱۲ ، سال ۱۹۴۹م، چاپ اول، کابل: کمية بين المللی صليب سورخ، ۱۳۸۴ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج- دجنګي بنديانو انتقال،(۱۹ مه) ماده :** تر نيولو ورسته بايد سمدستي بندي هغه توقيف ځای ته ولېږل شي چې دجنګ له ساحي نه لري وي په يوه امن اومصؤن ځای کې واقع وي ،اوپه هغه وخت کې چې دانتقال لپاره انتظار باسي بايد بي مورده له خطرسره مخ نه شي،

همدارنګه دکنوانسيو ۲۰ماده حکم کوي چې دجنګي بنديانو انتقال بايد له يوه ځای نه بل ځای ته هميشه په انساني طريقه اوپه داسي شرايطوکي وي کوم چې نيونکي هيواد دخپلوځواکونو دانتقال لپاره ښه بللي وي ،اودانتقال په وخت کي دهغوي ټول احتياجات لکه خوراک اوڅښاک بايد مرفوع کړاي شي .(۱)

**دجنګي بنديانو توقيف :** وموويل چې بنديان تر نيولو ورسته بايد يوه خوندي ځاي ته ولېږل شي اوداځاي چې بنديان پکي ساتل کيږی د بازداشتګاه (توقيف ځای) په نوم يادېږي ،داچې په توقيف ځاي کې دجنګي بندي سره بايد څه ډول چلند وشي په لاندی ډول ئي توضيح کوو:

**الف- محدوديتونه ،( ۲۱مه) ماده :** نيونکی هيواد کولای شي جنګي بندي توقيف کړي ،اوهغه په دي مجبورکړي ،چې په توقيف ځای کې دهغي معيني فاصلي نه چې ورته ټاکل شوي بهر نه لاړنه شي .

**ب- دتوقيف ځاي شرائط،( ۲۲مه) ماده :** جنګي بنديان په هغه ځای کې توقيف کيدلای شي چې وچ وي اوپه هر لحاظ دبنديانو دروغتيايي وضعي لپار ه مناسب وي خو جنګي بنديان په تادئبي حبس کې نشي ساتل کيدلای مګر داچې داحبس دبندي په نفع وي ،اودکنو انسيون د۲۳مادي دحکم په آساس ،جنګي بندي په هغه ځاي کې نشي ساتل کيدلای کوم چې دجګړي تر خطر لاندساحه کې وي اويادهغي ساحي له يوي برخي نه دنظامي فعاليتونو لپاره کار اخستل کيږی .

---

*(۱) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ۱۶۰-۱۶۳ ، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشګاه (سمت)،۱۳۷۷ هـ ش.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجنګي بندیانومسکن،غذا اوپوشاک:

کله چې جنګي بندي له نیولو ورسته توقیف ځای ته ولیږل شي نوداچې دبندي تر آزادولو پوري دهغه مسکن ،خواړو اوجامو مصارف څوک ورکوي اوباید څه ډول وي ،په دي مسائِلودپوهیدو لپاره لاندي مطالب لوستل کیږی .

الف- هستوګنځای(۲۵مه)ماده :دجنګي بندیانو داوسیدني ځای باید په هغه ډول وي په کوم ډول ځای کې چې ددي هیواد(نیونکي هیواد) خپل سرتیري اووسي اوددي شرائطوپه برابرولوکي دجنګي بندیانود ژوند طریقي اوعاداتوته هم باید توجه وشي اوداځایونه بایدپه هیڅ وجه دهغوي دصحت لپاره مضرنه وي.

ب- دجنګي بندیانو خواړه(۲۶مه) ماده: دبندیانو ورځني خواړه باید دکمیت ،کیفیت اوتنوع په آساس کافي وي،ترڅود بندیانو روغتیا وساتله شي اوهغوي له سوء تغذي نه مخنیوي وشي، اوهغه بندیان چې کار کوي ورځني خواړه یي باید زیات کړای شي ،دڅښلو لپاره باید پاکي اوبه ورکړل شي اوددخانیاتوداستعمال اجازه لري .

ج- دجنګي بندیانوپوشاک(۲۷مه) ماده: نیونکی هیواد باید دبندیانو لپاره دتوقیف ځای دآب اوهوا سره برابري جامي ،بوټونه اوجورابي تهیه کړي ،همدارنګه هغه بندیان چې کارکوي دخپلي غوښتني سره سم نور لباسونه هم اخستلای شي.

اودکنوانسیون (۲۸مه) ماده حکم کوي په ټولو توقیف ځایونو کې باید کانتینونه پرانستل شي، تر څوجنګي بندیان وکولای شي خپل د اړتیاوړ ورځني اجناس ورڅخه ترلاسه کړي . ([1])

## دجنګي بندیان حفاظت اوتداوی:

په توقیف ځای کي دجنګي بندیانوساتنه اوتداوي بایدڅه ډول وي اودا چاري به د چا لخوا سرته رسیږي پدي مسائلو دپوهیدولپاره لاندي مطالب لولو:

[1] ) قرار دادهای بین المللی ژنو ، ص ۱۱۴-۱۱۹ ، مورخ ۱۲ ، سال ۱۹۴۹م، چاپ اول، کابل: کمیة بین المللی صلیب سورخ، ۱۳۸۴ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الف- حفاظت ۲۹ماده:** نيونکی هيواد په دي مکلف ده چي دتوقيف ځاي اوبنديانو دنظافت دساتلولپاره لا زم اقدامات وکړي ترڅودساري امراضو له خپريدونه مخنيوی وشي ،نارينه اوښځينه جنګي بنديانو ته بايد جدا جدا داستراحت ځايونه اوبستري برابري کړلای شي ، اوهمدارنګه بايد په توقيف ځاي کي دحمام سهولت موجود وي .

**ب- درملنه، (۳۰ مه)ماده:** په هر توقيف ځای بايد يو مجهزکلنيک ولري، ترڅو دبنديانو روغتيايي ستونزي لري کړي، دلزوم په صورت کي دساري اورحي امراضو دمعالجي لپاره جدا کلنيکونه جوړيږي ،اوپه هغه صورت کي چي دجنګي بندي تداوي په داخل دتوقيف ځای کي امکان ونه لري ،نوله توقيف ځای نه بهر په هر نظامي ياغير نظامي مرکزکي چي دهغه معالجه ممکنه وي ليږل کيږی ،اوبندي له روغتيايي مقاماتوسره له ليدني اومعايني نه په هيڅ صورت نشي محروم کيدلای دمعالجي مصارف اودهغو الاتو مصارف چي دجنګي بندي د روغتيا د ساتلو لپاره لا زم وي لکه مصنوعي غاښونه اوعينکي دنيونکي هيواد په غاړه دي.

**ج - طبي معاينات( ۳۱مه)ماده:** جنګي بندي بايد په مياشت کي حد اقل يوځل تر طبي معايني لا ندي ونيول شي ،ددي معايني په ترڅ کي دبندي وزن معلوم اوثبتيږي ،دا کار ددي لپاره کيږی چي دجنګي بنديانو له عمومي روغتيايي وضعي نه اګاهي ترلاسه شي، لکه دهغوي تغذيه ،نظافت او داسي نور، اوپه د ي کارسره د ساري امراضو دخپريدلو نه هم مخنيوی کيږی.

## <u>دجنګي بنديانو مذهبي، فرهنګي او ورزشي امور:</u>

جنګي بنديان کولای شي په توقيف ځاي کي خپل مذهبي ،فرهنګي اوورزشي امور ترسره کړي داچي په څه شکل دابه په لاند ډول ولولو :

**الف - ديني فرايض(۳٤مه)ماده :** جنګي بنديان دديني فرايضوداداکولولپاره دهغي جملي نه په عبادتي اموروکي دګډون لپاره کامله آزادي لري په دي شرط چي له هغو انتظآمي مقرراتو سره مطابقت ولري کوم چي دهيواد دنظامي مقاماتو له خواصادرشوي وي ،دمذهبي اوديني مراسمود اداکولو لپاره بايد جنګي بنديانو ته مناسب ځای برابر کړای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب - هغه روحانيون چې په توقيف ځاى کې وي(۳۵مـه)ماده:** هغه وخت چې پـه ځواکونـو پـوري اړوند مذهبي ياروحاني اشخاص ددښمن هيوادلاسته ورشـي اوبيالـه جنگـي بنـديانو سره دمرستي لپـاره وگمارل شي هغوي کولاى شي چې دخپل وجدان لـه مخـي بنـديانو تـه دينـي لارښـوني وکړي، دا اشـخاص دمذهبي لاښود په صفت تر گمارني ورسته دکنوانسيون د(۳۳مى)مادي په حکم نور جنگـي بنـدي نـه گڼل کيږى ،اوهم هر ډول وسـايل لـه هغي جملـي نـه نقليـه وسـايل ورتـه برابريږي تـر څوټولـو هغو بنديانوتـه دلارښـوني لپاره رسيده گي وکړاى شي کوم چې په نورو توقيف ځايونو کې سـاتل کيږى اولـه ده سره ئـي عقيـده اومـذهب شـريک ده ، دکنوانسـيون د(۳٦مى)مـادي پـه حکـم هغـه بنـديان چـې دخپـل هيـواد پـه فوځونـوکي مـذهبي وظيفـه نـه لـري ، خـو روحـاني مقـام ولـري کـولاى شـي پـه توقيـف ځـاى کـې دبنـديانو مذهبي امور په غاړه واخلي، نيونـکي هيواد هم بايد له دا ډول شخص سره دمذهبي لارښودپه صفت عمل وکړي.

**ج- ورزشـي امـور(۳۸ مـه)ماده:** نيـونکى هيـواد هـر جنگـي بنـدي دهغـه دشخصـي تمايلاتومطـابق فرهنگي ،ورزشي،تفريحي اوتربيتـي کارونوتـه هڅوي، دهغوى لپـاره ورزشـي اومسـابقاتي پروگرامونـه جـوړوي، لازم سـامان الات ورتـه تهيـه کـوي،اوهم ورتـه ددي اُمـورو داجـرأ لپـاره آزاده فضـاء اوپـراخ ميدانونه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په جنګي بندیانووضع شوې انتظامات:

**په جنګي بنديانو دنيونكي هيواد دنظامي مقاماتولـه خوا يولړ انتظامات لګول كيږي دا چې دا څـه ډول انتظامات دي په لاندي ډول ورته اشاره كوو:**

**الـف- نظـامي سـلامي(۳۹مـه)ماده :هرتوقيف ځـاى دنيـونكي هيـواد دمسلحو ځواكونـو تـر مستقيم نظارت لاندي وي اوټول جنګي بنديان په استثناء دافسرانو مكلف دي چې دنيونكي هيواد ټولو افسرانوته نظامي سلامي وكړي، اوهغه بنديان چې دافسري رتبه لري مكلف دي چې دنيـونكي هيـواد هغـو نظاميـانو ته چې له دوي نـه ئي رتبي لوړي دي نظامي سلام اودجګړي دوخت مرسوم احترامات دهغو په مقابل كې اداء كړي اما دتوقيف ځاى ريس (قوماندان ) ته بايد درتبـي پـه نظركـي نـه نيولوسره ټول بنـديان نظـامي سلام وكړي ،اما د(۴۰ مي ) مادي په حكم ټول بنديان كولاى شي چې خپل نظـامي اوملـي نښان نصب كړي .**

**ب- دمقرراتونصب(۴۱مه)ماده: په هر توقيف ځاى كې ددي تړون (دجنيوا دنړيوال كنوا نسيون) متن اودهغوځـانګړوموافقو، فرامينـو اومقرراتـومتن كـوم چـې پـه جنګـي بنـديانوپوري اړه لـري بايـد نصـب اوځوړند شي چې ترڅوبندي هغه ولـولي اوتـري خبرشـي اودا بايـد پـه هغـه ژبـه وي چې بنـديان پـري ښـه پوهيږي. (1)**

**ج- لـه وسـلي نـه اسـتفاده(۴۲مـه) مـاده: دجنګـي بنديانوپـه خـلاف دوسـلي اسـتعمال بـالخصـوص دهغوافرادو په خلاف چې د فِرارپه حال كې وي اوياد فِرارقصد ولري دحل اخيرنى لار ګڼل كيږى؛ اودا هـم په هغه صورت كي چي جنګي بندي تـه لـه دينـه مخكـي دهغـه دوضـعي سره سم پـه بيلابيلـو وختونـو كـې مناسب اخطارونـه وركړل شوي وي.**

## دجنګي بنديانوكار،مالي منابع،اړيكي اوتاكني:

**له جنګي بنديانوسره دچلندپه اړه د(۱۹۴۹م) كال دجينوا نړيوال كنوانسيون كې دجنګـي بنـديانودكارمالي منابعو او اړيكو په باب چې له بهرنى نړئ (لـه مرستندويه چارواكو اودخپل هيوادلـه مقامـاتو) سره ئـي لري هم يولړ مواد موجوددي چې په لاندي ډول ئي تشريح كوو:**

---

*(1) قرار دادهای بين المللی ژنو ، ص ۱۱۹-۱۲۶ ، مورخ ۱۲ ، سال ۱۹۴۹ م، چاپ اول، كابل: كمية بين المللی صليب سورخ، ۱۳۸۴ هـ ش.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دجنګي بنديانوکار اومالي منابع:** داچې دجنيوا په کنوانسيون کې د بنديانو لپاره دکاراجازه شته اوکه نه اوکه وي ترکومو شرايطو لاندي همدارنګه بايدمونږ پدي وپوهيږو چې ددې نړيوالو کنوانسينونو داحکاموپه آساس دبنديانومالي اوپولي مسائل څه ډول سرته رسيږي ددي سوالونوځوابونه مونږ په لاندي ډول لولو:

**دجنګي بنديانو کار:**

**الف- عمومي ملاحظآت(٤٩مه) ماده :** نيونکی هيواد کولای شي صرف دبندي دروحي اوجسمي صحت په خاطر هغه چې جوړوي دسن، بدني قدرت، اودهغو درتبوپه رعايتولو سره په کار وګوماري ،اوهغه بنديان چې درتبو لرونکي وي صرف دنظآرتي کارونو غوښتنه ترې کيدلای شي، هغوی ته ددوی دسويې مطابق کارونه برابريږي .

**ب - دجنګي بنديانو لپاره مجازکارونه(٥٠ مه)ماده :** هغه کارونه چې بندي يې ترسره کولای شي، هغه عبارت دي له اداري کارونو دتعميراتو او وسايطو جوړول اودتوقيف ځاي ساتنه خو له دي نه علاوه کيدلاي شي لاندي کارونه هم ترسره کړي لکه:

1) بزګري.
2) په توليدي صنايعوکي کارکول ،په استثناء دفلزاتو دويلي کولودصنايعو، ماشين الاتو اوکميايي صنايعو اوهمدا ډول عمومي کارونه چې له هرنوع نظامي خصوصيت اوهدف نه لري وي .
3) دبارونو پورته کول کښته کول، وړل راوړل، چې نظامي هدف ونه لري.
4) تجارتي کارونه ،هنري فعاليتونه اولاسي کارونه.
5) خدمتګاري او تولګتي کارونه چې نظامي خصوصيت او هدف ونه لري .([1])

[1] ) ابراهيمی، محمد. اسلام وحقوق بين المللی عمومی، ص ٦٢-٦٤ ، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشګاه (سمت)،١٣٧٧ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج- دکارشرايط (۵۱ مـه)ماده: جنګي بنديان بايد دکارپـه وخت کي مناسب مسکن ،غذا اوپوشاک** ولري اودکارلوازم اوشرائط يي بايد دنيوونکي هيواد دخپلو اتباعو دکار دشرايطو په شان وي ،همدارنګه دکنوانسيون د(۵۲می)مادي دحکم په آساس هيڅ جنګي بندي په داسي کار نه شي ګمارل کيداى چي دهغه لپاره مضراوخطرناک وي، اوهم په هيڅ داسي کار نشي ګمارل کيداى چي دفوځيانولپاره تحقيراميزه وي.

<u>**دجنګي بنديانو مالي منابع:**</u>

کله چي جنګي بندي توقيف ځاى ته راوړل شي نومالي مشکلات يي بايد څه ډول حل شي دابه مونږ په لاندي ډول ولولو:

**الف- نقدي پيسي چي له بندي نه واخستل شي(۵۸مه) ماده:** نيونکی هيواد دبندي لـه نيولـو سره سمدستي هغه پيسي چي له هغه سره وي که بندي وغواړي چي دهغوي زياتـه برخـه دځانـه سره وساتي ورته ورکوي اوباقي پاتي دهغه چاپه حساب کي لويږي چي بندي يي قر ضداروي ،که چيرى جنګي بندي وغواړي جامي يانورڅه شيان له توقيف ځاي نه بهر واخلي نودهغه قيمت خپله دبندي يـاد توقيـف ځـاي د اداري مقاماتوله خواورکول کيږى .

**ب- دجنګي بنديانولپاره ليږل شوي معاش(۶۱مـه) مـاده:**هرکلـه چي دجنګي بنديانومتبوع دولت خپلو بنديانو ته دمعاش په عنوان مبلغ وليږي نونيونکی هيواد بايد پـه بنديانو هغه توضع کړي پـه دي شرط چي هم رتبـه بنديانوتـه مساوي معاش راليږل شوي وي اوهربنـدي دخپلـي رتبـي مطـابق لـه دي نـه مستفيد شي .

**دجنګـي بنديانواړيکي،شـکايتونـه او تـاکني:** داچـي د(۱۹۴۹م )کـال دجنيـوا دکنوانسـيون دمقرراتوله مخي دبنديانواړيکي له بهرنی نړۍ لکه خپلي کورنی ،خپلوانـو ،اومرستندويه چـاروااکو سره څه ډول ټينګيږي ددي کار اجازه لري اوکه نه اوکه لري ترکومو شرايطولاندي اوبل داچي جنګي بنديان دبند اوتوقيف په وخت کي خپل نماينده ګان څرنګه ټاکي اوخپلي غوښتني اوشکايتونه څه ډول تر مقاماتو رسوي ؟؟؟؟ پدي مسائلو دپوهيدو لپاره ددي کنونسيون لاندي موادهم لولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجنګي بنديانو اړيکي له بهرنۍ نړۍ سره:

**الف- داسارت کارت( ۷۰ مه)ماده :** هرجنګي بندي ته بايد له نيول کيدوورسته سمدستي اويا حد اکثر ديوي ونۍ په موده کې دهغه کارت مشابهه ورکول شي چې پدي تړون کې ضميمه د ه تر څوبندي هغه کارت خپلي کورنۍ اودبنديانو مرکزي دفتر ته کوم چې ددي تړون په( ۱۲۳مه) ماده کې ذکرده وليږي اوخپل خپلوان له اسارت نه خبرکړي .

**ب- مکاتبه( ۷۱مه)ماده :** جنګي بنديان اجازه لري چې کارتونه اوليکونه وليږي اوتر لاسه ئي کړي که چير ي نيونکی هيواد لا زمه وبولي چې دا ليکونه اوکارتونه محدودکړي نو بايد دهربندي لپاره په مياشت کې له دوه ليکونو اوڅلورو کارتونو نه کم نه کړای شي چې په دي کې دبندي هغه کار چې په( ۷۰مه) ماده کې ذکردی مستثناء ده او دبنديانو ليکونه بايد دوخت دسر يع ترينو وسائلو په زريعه واستول شي ،که چير ي دبنديانو خپلوان اودهغوی ملاتړي په داسي لري ځاي کې حضور ولري چې دخبر وړل راوړل دمعمولي پوست په زريعه ممکن نه وي نو کولای شي ورته تلګرام وکړي.

البته نن ورځ چې د دا ډول تماسونو لپاره ښه وسائل پيداشوي دي نو دتلګرام په ځاي بريښناليک اوويډويي تماسونونه کاراخستل کيږی د دا ډول تماسونومصارف مرستندويه مؤسسات اويانيوونکی هيواد ورکوي دبنديانو دا تماسونه اومکاتبات په خپله ژبه سرته رسيږي .

**ج – هغه مرستي چې جنګي بندي ته ليږل کيږی( ۷۲مه)ماده :** جنګي بنديان کولای شي هغه مرستي چې بنديانوته په شخصي يادستجمعي ډول ليږل شوي وي ترلاسه کړي ،خاصتاً هغه دوسيي (محمولي ) چې خوراکي مواد، جامي ،دوا ګاني يا مذهبي، ورزشي اوتربيتي وسائل وريکي موجودوي ، دکنوا نسيون د (۷٤مې) مادي دحکم په آساس ټولي هغه مرستي چې بنديانو ته ليږل کيږی له هر ډول ګمرکي اونوروحقوقو څخه معاف دي ،دکنوانسيون د(۷٦مې) مادي دحکم په آساس دمرستو دپلټلو پلټنه په هغو شرايطو کې نشي کيداي چې دمرستي دموادو دخرابيدوخطرموجود وي او هم بايد دپلټني په وخت دبنديانو نمائنده ياخپله بندي موجود وي همدارنګه دکنوانسيون ( ۷۷ مه)ماده حکم کوي نيونکی هيواد بايد دا ډول تسهيلات برابر کړي چې هغه رسمي پاڼي ،حقوقي اسناد ،خصوصاً وکالت نامي اووصيت نامي چې بندي ته ليږل کيږی اويادبندي له طرفه ليږل کيږی، هغه مربوط طرف ته ورسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجنګي بنديانوشکايتونه اوتاکنې:

**الف- شکايتونه اوغوښتني(۷۸مه)ماده:** جنګي بنديان حق لري داسارت دوضعي په اړه شکايتونه او اړونده غوښتني دنيونکي هيواد نظامي چارواکوته ورسوي، هدارنګه داهم دبنديانو يومسلم حق دی چې دخپلو نماينده ګانو په وسيله اوياکه لا زمه وبولي پخپله دحمايت کونکو هيوادونو له نماينده ګانو سره وګوري اودهغوي پام هغه شکايتونواوغوښتنوته راواړوي چې دوي ئي داسارت دوضعي په اړه لري، دا ډول غوښتني اوشکايتونه په هيڅ صورت نه شي محدوديدلای اوکه بې آساسه هم وي دمجازاتووړنه ګڼل کيږی.

**ب- تاکني(۷۹مه)ماده :** ټول جنګي بنديان په استثناء د افسرانوهرشپږمياشتي وروسته په آزادو اومخفي رايو سره خپل نمايده ټاکي دا نماينده د بنديانو دحمايت کونکوهيوادنو له نظامي مقاماتو، د سره صليب دنړيوالي کميټي له استازو اويابل هرنړيوال سازمان چې له جنګي بنديانو سره دمرستي چاري سرته رسوي ويني اودهغوي مشکلات اوغوښتني ورته بيانوي، هغه بنديان چې دافسري او يا نوري رتبې لري دهغوي له مينځ نه لوړرتبه کس دنورو نماينده دی، دکنوانسيون د(۸۰ مې) مادي په حکم نماينده وظيفه لري چې د بنديانو دروحي، جسمي اوفکري هوسايني لپاره کوشش وکړي خو دهغوتخلفاتو مسؤل ندی کوم چې له جنګي بندي ځخه سر ووهي. ([1])

[1]) قرار دادهای بين المللی ژنو ، ص۱۲۹ -۱۴۹ ،مورخ ۱۲ ، سال ۱۹۴۹م، چاپ اول، کابل: کمية بين المللی صليب سورخ، ۱۳۸۴ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دجنګي بنديانو مجازات اود اسارت پای

**هغه جنګي بنديان چې مخکي له نيول کيدلواو يا ورسته له هغه د يو لړ جرمي اعمـالو مرتکـب شـوي وي دمجازاتو پيشبيني شوي اوکنه؟**

**اوبل داچې جنګي بندي څه وخت اوپه کوموشرايطوکي آزادېږي اوخپل هيواد ته ګرځول کيـږی پـه دي اړه هم دجنيواپه کنواسيون کي يوشميرمواد شته چې مونږ ئي په لاندي ډول لولو:**

## کيفري اوانتظامي مجازات :

**دجنيواپه کنوانسيون کې د هغوبنديانو لپاره چې په جرمي اعمالومتهم وي خـاص مجـازات پيشبيني شـوي اوخاصومحاکموته داصلاحيت ورکـول شـوي چې دا ډول اشـخاص محکمـه کـړي داچې داکـوم محـاکم دي اومجرمينوته څه ډول مجازات ورکول کيږی دابه په لاندي ډول مطالعه کړو.**

## عمومي مقررات:

**الف ـ لا زم الاجرا قانون(۸۲ مه)ماده : پـه جنګـي بنـدي هغه قوانين او دسـاتير تطبيـق کيـږی کـوم چې دنيونـکي هيواد په وسلوالو ځواکونو باندي دتطبيق وړدي اونيونـکی هيواد حق لـري چې دهغـه بنـدي په اړه قضائي يا انتظامي تصميم ونيسي کوم چې له دي قوانينو اودساتيرو نـه سرغړونـه کـوي کـه چيـری نيونـکی هيواد دجنګـي بنـديانولپاره دځينـي اعمـالو اجرأ دمجـازاتو وړ وبـولي پداسـي حـال کـې چې دخپلـو فوځيانولپاره ئي دا ډول اعمال مجاز بللي وي نو دا جنګي بنديانوتـه صرف يوه انتظامي جزأده.**

**ب- دقضائي او انتظامي تعقيب انتخاب(۸۳ مه) ماده : نيونـکی هيـواد بايدهغـه وخـت چې ذيصلاح مقامات دا تصميم نيسـي چې دجنګـي بنـدي تخلـف قضـائي ده اوکـه انتظـامي بښـه څارنـه وکـړي اودامکـان ترحده بايدله جزائي مجازاتو نـه مخنيوی وشي اوانتظامي مجازاتو ته بايدپه قضائي تعقيب ترجيح ورکـول شي.**

**ج- محاکم(۸٤مه) ماده : يواځي نظامي محاکم کولای شي اوصلاحيت لري چې جنګي بنـديان محاکمـه کـړي مګر په هغـه صـورت کـې چې د هيـواد جـاري قوانينـو دا صلاحيت صراحتاً غيـر نظـامي محـاکمو تـه ورکړي وي خو په هيڅ صورت جنګي بندي په داسي محکمـه کـې نـه شي محاکمـه کيدلی چې لازمـي او آساسي آزادي ونلري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د- له نيول کيدلومخکي جرايم(۸۵مه) ماده:** کچيرې جنګي بندي دنيونکي هيواد د جاري قوانينو په آساس دهغوجرايمو په خاطر چې مخکي له نيول کيدلو ئې ترسره کړي ترتعقيب لاندي ونيول شي حتى که محکوم هم شي بياهم ددي تړون لـه مزاياوو څخـه بـرخمن دی، او ددي تړون د(۸٦ مـی) مـادي پـه حکم هيڅ جنګي بندي ديواتهام يايوعمل په سبب له يوځل نـه زيـات محاکمـه اومجـازات کيدلی نشـي همدارنګـه دتړون (۸۷مه) ماده حکم کوي چې دنيونکي هيواد نظامي مقامات او محاکم نشي کولای چې بندي په يوه جزا محکوم کړي مګرپه هغه صورت کي چې ددي عمل د اجرأ په صورت کې د هيواد وسلوالو فوځيـانو ته هم دا جزا په نظرکي نيول شوي وي .

## <u>انتظامي مجازات:</u>

**الف- دمجـازاتو انـواع( ۸۹ مـاده ):**هغه انتظامي مجازات چې دجنګي بنديانو پـه مورد کـې د اجرا وړدي په لاندي ډول بيانيږي:

پنځوس په سلوکي مالي جريمه او دا د بندي له هغو پيسونه ګرځولي کيږی چې دکار يـابلي لاري نـه يـي هغه ترلاسه کوي خو دا جزا بايد له ديرشو ورځو نه تجاوز ونکړي؛ په بندي د هغو مزاياؤ قطع کول کـوم چې علاوه دجنيوا د تړون له مندرجاتو نـه ئـي ترلاسـه کـوي، پـه يـوورځ کـې حداکثر دوه سـاعته بيګـاري خود افسرانو په مورد کي دا معمول نده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حبس یاتوقیف :

خو دا انتظامي مجازات چې جنګي بندیانو ته ورکول کیږی پـه هیڅ صورت باید غیر انساني، خشونت امیزه او دجنګي بندي دروغتیا لپاره مضرنـه وي ددې تړون ( ۹۰ ) مـادي دحکم پـه آساس دیوې دورې انتظامي مجازاتو موده باید په هیڅ صورت کې د ( ۳۰ ) ورځو نـه زیاتـه نـه وي حتی پـه هغه مواردوکې هم چې بندي څو تخلفات چې یو لـه بل سره مرتبط وي یانـه ترسره کړي وي او د تړون (۹۲ مه) ماده حکم کوي که چیرى بندي د فرار اقدام وکړي او مخکې له موفقیت نه بیرتـه ونیول شي نـو ددې عمل پـه سـبب یـواځې انتظـامي مجـازات ورکـول کیـږی حتـی کـه چیـری داعمـل یـې مکـرراً هـم ترسـره کـړی وي.همدارنګه دتړون د (۹۷مى) مـادې دحکم پـه آساس هیڅ جنګي بنـدي پـه هیڅ حالـت کـې دانتظـامي مجازاتو په سبب تادئبي موسساتوته لکه زندانونـه، دارالتادیبونـه اودجنـایي محکومینوزنـدانو تـه نـه لیږل کیږی هغه ښځینه جنګي بندیاني چې دانتظامي مجازاتو دوره تیروي دناریـنـه ؤ لـه ځـایونو نـه پـه جدا ځایونو کې ساتل کیږی او دښځینه مامورینو تر مستقیم نظارت لاندې وي.

## قضایي تعقیب:

الف – عمومي احکام(۹۹ مه)ماده : هیڅ جنګي بنـدي دهغه عمل دارتکـاب پـه اتهـام چې دنیـونکي هیواد او نړیوالو قوانینوپه آساس جرم نوي ګڼل شوي محاکمه اومحکوم کیدلاي نشي اوهم نشـي کیدلای په بندي روحي اوجسمي فشارونه راوړل شي ترڅو هغه په ځان لګیدلي تورونـه ومنـي، اوکلـه چې دهغه محکه کیږی نـود محکمـي پـه جریـان کـې باید هغه یـو مـدافع وکیل اویـازیرک اوتکړه مشـاور ولـري، او همدارنګه ددې تړون د(۱۰۰مى)مادي دحکم پـه آسـاس نیونکـی هیواد باید ډیر ژر لـه هغه جرایموڅخـه چې ددې هیواد دقوانینوپه آسـاس ورتـه داعدام جزاټاکل شـوي بنـدي اود هغه حـامي هیوادونـو تـه اطلاع ورکړي.اود تړون په(۱۰۱مه)ماده کې راغلي چې که جنګي بندي داعدام پـه جزا محکـوم شـي نـودا حکم فوراً نـه اجراکیږي بلکـه یـوه خبرپانـه باید لدینـه مخکـې دحـامي هیـواد پـه ادرس ولیږلـه شـي اوحـد اقل شپږمیاشتي دهغي له رسیدلونـه ورسته دحکم اجرأ کیدلی شي.

ب- دمحکمـي پـه حکـم کـې تجدیدنظر(۱۰٦مـه) مـاده : هرجنګـي بنـدي ددې هیـواد د فوځیـانو پـه څیرحق لري دمحکمې په هغه حکم چې دده پـه اړه یـي صـادرکړي اعتـراض وکـړي اودحکـم دبطـلان یاپـه هغه کې دتجدیدنظرغوښتنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسارت ( بنديتوب ) پا ی

هرکله چې جنګي بندي دنيونکي هيواد له خوا ونيول شي نو تر هغه وخت پوري ددې هيوادپه توقيف کې پاتي کيږی ترڅو چې دطرفينو ترمنځ جګړه روانـه وي خو دجګړي لـه پـای تـه رسيدلوسره سمدستي دکنوانسيون د(۱۱۸مې)مادي مطابق خپل هيوادته ليږل کيږی؛ البتـه پـه هغـه صورت کې چې دکوم ډول جرايمومرتکب شوی نه وي.

داچې دبندي ليږل اوخپل هيواد تـه ستنول پـه کوموشرايطوکي اوپـه څـه ډول ترسره کيږی پدي مطـالبود پوهيدني لپاره دکنوانسيون لاندي مواد لولو:

<u>**خپل هيواد يا بيطرفه هيواد ته ليږل:**</u>

**الـف-عمـومي ملاحظـات(۱۰۹ مـه) مـاده :** ددي مـادي ددريـم بنـد د حکـم پـه آسـاس پـه جګـړه اختـه هيوادونـه پـدي مکلـف دي هغـه بنـديان چـې شـديد مريضـان او يازخميـان دي لـه تـداوي نـه وروسـته چـې دسفرکولوتوان ولري بيدون له دي چې دهغوي رتبي اوتعداد په نظرکي ونيسي د (۱۱۰ مې) مـادي د اول بند مطابق خپـل هيوادتـه استول کيږی خوکچيری بنـدي خپـل هيـواد تـه پـه تللـو خـوښ نـه وي بيانـه ليږل کيږی.

**ب- هغه افراد چې خپل هيوادته ليږل کيږی(۱۱۰مـه)مـاده :**لانـدي افراد بايدخپل هيـواد تـه وليـږل شـي:

1) زخميان اومريضان چې جسمي اوروحي قدرت ئي په شدت سره کم شوي وي.

2) هغه مريضان اوزخميان چې دډاکتر د نظر په آساس ديوکال په موده کې نشي جوړيدلای .

3) هغه مريضان او زخميان چې تداوي شوي وي خوروحي اوجسمي توانايي ئي بيخي له مينځه تللي وي

**ج- هغه افراد چې يو بيطرفه هيواد ته ليږل کيږی:** د(۱۱۰مې) مـادي ددوهم بند د حکم پـه آسـاس لانـدي افراد خپل هيواد ته نه بلکه يوبل بيطرفه هيوادته ليږل کيږی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) **هغه ټپیان اوناروغان چې تداوي ئي یوکال وخت ته ضرورت ولري اما پـه یـو بیطرفـه هیـواد کـي دهغه روغتیاپه کم وخت کي ممکنه وي .**

2) **هغه ناروغ بندیان چې رواني اوجسمي حالت ئي دبندیتوب د دوام په صورت کي له خطر سره مخ وي لیکن په یو بیطرفه هیواد کې ددوی هستوګنه داډول خطر رفع کوي .**

**بلاخره ویلی شو چې د ترون د( ۱۱۸می) مـادی د حکم لـه مخـې د جګړې د پایتـه رسیدو سره سم ټول جنګی بندیان آزادیږی او په هغه صورت کی چې د اُوربند پـه تـړون کـې د جنګـی بنـدیانو د آزادولـو لپـاره کومه طرحه نه وي جوړه شوی او یا اصلاً دا ډول موافقه نه وی شوی نو د جګړې طرفین باید ډیـر ژر د بندیانو د آزادولو طرحه جوړه کړي او هر ډول طرحه چې جوړیږی باید بندی ورڅخه خبرکړل شی.**

**همدارنګه د بندیانو د ستنولو مصارف په منصفانه ډول د طرفینو هیوادونو تر منځ ویشل کیږی د ستنولو په وخت کی هغه قیمتی شیان او پیسي چې د نیونـکی هیواد په پولی واحدونو نـه وي بدل شـوي هغوی تـه بیرته مستردیږی اوجنګی بندیان کولی شی ټول هغه شخصی سامان آلات ، لیکونـه اوتحفـې چې دوی تـه لیږل شوي وي د ځان سره یوسي هغه بندیان چې د اتهام په آسـاس تـر محـاکمې لانـدې وي د محـاکمې تر پای ته رسیدو او که محکوم وي دمحکومیت د دورې تر پای تـه رسیدو پوري پـه توقیـف ځـای کـې پـاتې کیږی او طرفین هیوادونـه د هغو بندیانو لیست چې ترمحکومیت یامحـاکمې لانـدې وی یـو بـل تـه ورکـوی، په همدي ډول هغه جنګی بندیان چې خپل هیواد تـه ولیږل شي دکنوانسیون د (۱۱۷می) مـادې د حکـم پـه آساس نشي کیدلی چې په فعالو نظامی خدماتوکی وګمارل شی .**

**تر دې ځایه مونږ له جنګی بندیانو سره د چلنـد پـه اړه د جنیـوا د کنوانسیون مهمـو او آساسـي مـوادو تـه اشاره وکړه، داچې په عمل کی د دې کنوانسیون مواد خاصتاً ( ۱۱۸مه)ماده څومره عملی شوې کوم چې حکم کوی د جګړې له پای ته رسیدلوسره سمدستي بایدجنګي بندیان خپل هیواد تـه واسـتول شـي دا بـه د هغوجګړو په تاریخ کې وګورو کوم چې د۱۹٤۹م کال دجینواد نړیوال کنوانسیون له تصویب نـه وروسـته دنړۍ دیوشمیر هیوادونو ترمنځ واقع شوي دي اوپه لاندي ډول لوستل کیږی:**([1])

[1]) *قرار دادهای بین المللی ژنو ، ص۱۴۹-۱۶۷ ،مورخ ۱۲ ، سال ۱۹۴۹ م، چاپ اول، کابل: کمیة بین المللی صلیب سورخ، ۱۳۸۴ هـ ش.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په روانه نيمه پيړۍکې د جنګي بنديانو سره د نړۍديو شمير هيوادونودچلند نمونې**

مونږ وويل چې د جنيوا د کنوانسيون لـه تصويب نـه مخکې (د لـومړۍ او دوهمې نړيـوالې جګړې پـه جريان کې ) د جنګي بنديانو سره بد چلند کيده او وضعه يې ډيره خرابـه وه دا ظلمونـه او بـد چلنـد د دې باعث شو چې د بنديانو د وضعې د ښه والی لپاره يو تحريک شروع شي ددي تحريک او شعارونو نتيجـه وه چې د نړۍ يو شمير هيوادونـه پـه (۱۹٤۹م) کـال د جنيـوا نړيـوال کنوانسيون تصويب کړي ، تقريبـاً د نړۍ (٦١) هيوادونو پـه هغـه لاسليک وکړ او د مللګرومللتونـود سـازمان څخـه وروسته د نړۍ تـر ټولـو لويه نړيواله مؤسسه وګرځيده خودا چې ددې کنوانسيون دتصويب نه وروسته دهغه د لاسليک کوونکو چلنـد لـه جنګـي بنـديانو سره څـه ډول وؤ او دی؛ اود کنوانسيون مـواد او مقرارت تـر کومـه حده عملی شوی او د جنګی بنديانو په حالت کی يی بهتری راوستلې او کنه ؟ دا به مونږ په لاندې ډول ولولو:

## <u>لومړی ـ د هغو جګړو بنديان چې مخکې تيرې شوې:</u>

هغه جګړې چې مخکې تيرې شوي پـه ځينو مـواردوکي يوشمير هيوادونوسره لـه دې چې دجنيـوا پـه تړون باندې لاسليک کړی دی لـه خپلو دښمنانو سره يې تر نيولـو وروسـته ددې تـړون د مـوادو بـرخلاف ډير بد چلند کړی مثلاً : په برما کې ددولت دمخالفو ډلو دجنګيـاليو دنيولـو ورسـته لـه هغوی سره ډيـر بد چلنـد شـوی اوحکومـت بـه اجبـاري کارونـه پـرې کـول همدارنګـه پخـوانی يوګوسـلاوياکې د(۱۹۹۳ او ۱۹۹٦م) کلونو ترمنځ جګړو کې په جنګي بنديانو بانـدې ډيرظلمونـه وشول اجبار ي کارونـه پـري کيدل اونور ډول ډول شـکنجې ورکـول کيدلي همدارنګـه د روسـانو لـه خوا دچيچين دجنګيـاليو، او دترکـانو لـه خوا دکردستان له آزادي غوښتونکو مبارزينو اويو شمير نـورو هيوادونـو لـه خـوا د جنګـي بنـديانو سره چلند دجنيوا دکنوانسيون سره په هيڅ ډول مطابقت نه درلوده خو دځينو نورو هيوادونو تـرمنځ جګړوکې بيا له جنګي بنديانو سره چلند نسبتا ښه وؤ چې هغه مونږ په لاندې ډول دمطالعې لاندې نيسو .([1])

---

*[1] ) ګوتمن، روی. اناکاتالدی او جيلس. جنګی جرمونه ، ص ۲۱۰ ـ۲۱۳ ، ژباړونکی : نظام الدين کتوازی او جلات خان حکمتی، دوهم چاپ، کابل: کليډ ګروپ، ۲۰۰۸م.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعربو اواسرائيلو دجګړو بنديان

دعربو او اسرائيلو ترمنځ لمړی جګړه د(۱۹٦۹م) کال دفبروري دمياشتې په ۲٤ نيټه پای ته ورسيده او دمصر او اسرائيلو ترمنځ د اوربند تړون لاسليک شو ددې تړون په نهمه ماده کې دمصري اواسرائيلي بنديانو تبادله تصريح شوې وه او پـه هغه کې راغلي وو: ټو ل هغه جنګي بنديان کوم چې ددې تړون دلاسليک کوونکو هيوادونوله خوا نيول شوي او په وسله والوځواکونـو پورې مربوط وي هغه کـه نظم اودسپلين ولري اوکه نه دلاندې مقرراتو له مخې تبادله کيږی :

1) دجنګي بنديانو تبادله دمللګرو ملتونو ترنظارت لاندې ترسره کيږی او دا تبادله دتړون لـه لاسليک نـه وروسته په ضرب دلسو ورځو کې شروع کيږی اوبايد په شلو ورځو کې هغه بشپړه شي .

2) دجنګي بنديانو له جملې نه هغه چې ترعدلي تعقيب اويا مجازاتو لاندې هم وي په تبادله کې شامل دي.

3) ټول شخصي وسايل، ليکونـه، اسناد،دپيژندنې مدارک اونـور هغه اموال چې عرفاً پـه جنګي بنـديانو پورې اړه لري بايد دتبادلې په وخت کې هغوی ته مسترد شي .

4) ټول هغه موارد چې په دې تړون کې په دقيق ډول ذکرنـه وي دجنيوا دکنوانسيون سره سم اجراکيږي.

5) دجګړې دپای ته رسولو مشترک کميسون کوم چې دجنيوا دکنوانسيون پـه لسمه مـاده کې ذکرده بايد دبنـديانو دتبـادلې دچټکوالي لپـاره لازم تسـهيلات برابـر کـړي او ترممکنـه حده بايد دمتقـابلو طرفونـو ترمنځ دبنديانو دتبادلې په برخه کې دهمکارئ اومرستې فضاء رامنځته کړي.

دعربـو او اسـرائيلو تـرمنځ دوهمـه جګـړه د(۱۹۵٦م) کـال دنـومبر پـه لسمه نيټـه او دريمـه جګـړه پـه (۱۹٦۷م) کال کې پای ته ورسيده دجنګي بنديانو دتبادلې او آزادولو په باره کې کوم مواد په لاس کې نـه شته خو دعربو اواسرائيلو دڅلورمې جګړې په بـاره کې چې د(۱۹۷۳م) کـال دنـومبر پـه ۳ نيټـه پـای تـه ورسېده داوربند( ٦مه ) ماده دبنديانو دآزادولو اوتبادلې په اړه داسې صراحت لري: (کله چې دملل متحد سازمان دپلټنې ډلې دمصر مرکز قاهرې ته ورسيږي نو بايد دجنګي بنـديانو تبادلـه چې ټيپـان هم پـه کې دي پيل شي).

چې بالاخره ديو شمير اختلافاتو ترحل اوفصل وروسته که څه هم تبآدله يوڅه وځنډېده خو پـه نتيجـه کې دمصر او اسرائيلو او نورو عربي دولتونو اواسرائيلو ترمنځ دجګړې بنديان تبادله شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکوریا دجګړې بندیان

داجګړه چې ددوه کوریاګانو یعنې شمالي اوجنوبي ترمنځ واقع شوې وه بالاخره د(( پان مون ژون)) دصلحي دموافقې وروسته پای ته ورسیده داموافقه چې د(۱۵) مادو لرونکي وه دریمه ماده یې دجنګي بندیانوپورې داړونده مقرراتو لرونکي وه او په کې راغلي وو:

دټولو هغه جنګي بندیانو آزادي او استرداد چې دهریوه طرفینو په بند کې دي باید ددې مقرراتو داجرا په وخت کې دجنګي بندیانوپورې اړونده مقررات هم اجراشي ددې مادې مختلف بندونه دبندیانو آزادول بیانوي دمادې په (۵۰ ) پراګراف کې دارنګه راغلي دا موافقتنامه دا ټاکي چې دموافقې له اجرا نه (۶۰) ورځې وروسته هغه بندیان چې تګ ته چمتو وي باید خپل هیواد ته ولیږل شي اودمادې( ۵۵ ) پراګراف د جنګي بندیانو دسپارلو ځای د (پان مون ژون) ښار ټاکلی.

**دویتنام دجګړې بندیان:** دویتنام جګړه دامریکایي او ویتنامي ځواکونو ترمنځ وروسته له زیاتو تلفاتو بالاخره په( ۱۹۷۳م) کال دجولای په میاشت کې دویتنامي اوامریکایي چارواکو ترمنځ په پاریس کې دسولې په یوې موافقې سره پای ته ورسیده داموافقتنامه چې د(۲۳)مادو لرونکې وه په اتمه ماده کې دجنګي بندیانو دتبادلې په اړه داسې وضاحت راغلی وو:

نظآمي اوغیر نظامي افراد اواسیران به په همه حاله ډول ددواړو طرفونو د فوځونو دشاتګ په وخت کې په کامل ډول آزادیږي اوخپل هیواد ته به دهغوی لیږل شروع شي دجګړې طرفین دموافقې دلاسلیک په ورځ دنظامي اوغیر نظآمي افرادو کامل فهرست یو بل ته ورکوي ددې موافقې له مخې دجنګي بندیانو تبادله ددواړو طر فونو ترمنځ شروع شوه.

بالاخره د(۱۹۷۳م) کال دمارچ تر ۲۷ نیټې پورې پای ته ورسیده په دې ورځ دبندي امریکایانو اخرنۍ ډله هم آزاده شوه اوپه دې تبادله کې دطرفینو له خوا داسې روشونه اختیارشول چې دبندیانو تعداد په نظرکې نه نیول کیده ځکه چې دواړه طرفه دجګړې سخت ستړي شوي وو اوهر طرف بل ته خپل ښه نیت ښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دهند اوپاکستان دجګړوبنديان

دهند اوپاکستان ترمنځ لمړۍ جګره د(۱۹٤۹م) کال داوربند په موافقې سره پای ته ورسيده او ددې موافقې په آساس دجنګي بنديانو تبادله دهمدې کال دمي په مياشت کې تکميله شوه په دې تبادله کې دبنديانو دتعداد په نظر کې نه نيولو سره (٦۹۱ )هندي بنديان د(۱٥۳) پاکستاني بنديانو سره تبادله شول.

دهند او پاکستان دوهمه جګړه چې د(۱۹٦۱م) کال په سپتمبر کې پای ته ورسيده ددواړو هيوادونو لوړ رتبه چارواکو دملل متحد دسرمنشي په منځګړيتوب دازبکستان په مرکز تاشکند کې داور بند موافقه لاسليک کړه اوپه دې موافقه کې دجنګي بنديانو دآزادولو غوښتنه شوې وه. ددې دواړو هيوادو نو ترمنځ دريمه جګړه د(۱۹۷۲م) کال د اختلافاتو په حل سره پای ته ورسيده او ددې کار لپاره يوه موافقه ددواړو هيوادونو ترمنځ لاسليک شوه دموافقې په يوولسمه ماده کې دجنګي بنديانو دتبادلې په اړه داسې صراحت راغلی وه:( دواړه هيوادونه په دې توافق کوي چې لوړ رتبه چارواکي به يې په آينده کې بيا سره ګوري او دبنديانو دبيرته ستنولو په موضوع به تصميم نيسي چې بالآخره ددې جګړې بنديان د(۱۹۷۳م) کال داګست په ۲۸ نيته ددواړو هيوادونو ترمنځ ديوې بلې موافقې په لاسليک سره تبادله شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ایران اوعراق دجګړې بندیان

دغه جګړه چې ددواړو هیوادونو ترمنځ په (۱۹۸۰م) کال دسپتمبر په ۲۲ نیټه شروع او بلآخره دامنیت شورى (۵۹۸ نمبر) پرېکړه لیک په صدور اومنلو سره په (۱۹۸۸م)کال کې پاى ته ورسیده البته دجګړې دپاى ته رسولو لپاره ددواړو هیوادونو نمایندګانو یو تړون لاسلیک کړ او ددې تړون په دریمه ماده کې داغوښتنه شوې وه چې جنګي بندیان دې دفعالي شخړې تر ودریدو وروسته آزاد او تبادله کړل شي خو ددوه کلونو په تیریدو سره یواځې تېپي او ناروغ بندیان تبادله شول حال داچې دامنیت دشورى په (۵۹۸ نمبر) پرېکړه لیک چې جګړه یې پاى ته رسولې وه یوازې دجنګي بندیانو نوم ذکر شوى وؤ او د سالمو او ناروغو بندیانو ترمنځ کوم تفکیک په نظر کې نه وه نیول شوى باید یاد ونه وکړو چې ددې جګړې له بندیانوسره چلند په هیڅ صورت دنړیوالو معیارونو په آساس او نه هم داسلامي اصولو په آساس ترسره کیده چې په نتیجه کې اکثره بندیان ددواړو طرفونو په زندانونوکې مړه شول او مړي یې په عراق دامریکا تر برید او دصدام حسین ترراپرځولو وروسته په (۲۰۰۷ م) کال کې دایران او اوسنى عراقي ادارې ترمنځ تبادله شول.([1])

---

[1] ) ارفعی، عالیه، ومحمود مسائلی، جنک وصلح ازدیدگاه حقوق و روابط بین الملل، ص ۲۲۲-۲۲۹ ، چاپ دوم، تهران: وزارت امورخارجه مؤسسه چاپ و انتشارات، ۱۳۷۳ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم ـ دروانو جګړو بنديان:

**دامهال په فلسطين، عراق،کشمير،چيچنيا او زمونږ په ګران هيواد افغانستان کې جګړې رواني دي ددې جګړو دبنديانو سره دتيري کوونکو له خوا ډېره بده وضع او چلند شوی او کيږی په دې ډو ل چې جنګي بنديان په ډله ايز ډول وژل شوي ،شکنجه شوي او دهغوی دحرمت سپکاوی شوی چې دا دټولو نړيوالو نورمونونو په خلاف يو څه دي چې ددې جملې نه زمونږ په خپل هيوادکې د ۲۰۰۱ ميلادي کال دامريکا دبريد نه وروسته دجنګي بنديانو وضع اوحالت مطالعه کوو**

**په افغانستان کې دجنګي بنديانو حالت:** په افغانستان د ۲۰۰۱ کال دسپتمبر د يوولسمې له پيښې نه وروسته چې امريکا حمله وکړه او په نتيجه کې د طالبانو رژيم رانسکور شو د طالبانو دځواکونو په زرګونو بنديان امريکايانو او د هغوی افغاني متحدينو ونيول چې بيا د هغوی له جملې نه ډيری په ډله ايز ډول ووژل شول او ځيني دهغوی دکيوبا ـ ګوانتنامو زندان او د افغانستان په داخلي زندانو نوکې ترسختو شکنجو لاندې ونيول شول او امريکايانو او دهغوی متحدينو په خپل دې کار سره ټول نړی وال قوانين تر پښو لاندې کړل چې مونږ په لمړي سرکې دبنديانو ډله ايزه وژنه او بيادهغوی دشکنجويوڅونمونې لولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجنګي بنديانو دله ايزه وژنه:

کله چې امريکايانو په افغانستان باندی د(۱۳۸۰ هجري شمسي) کال دميزان په ۱۵ نيټه حمله وکړه دهمدې کال دقوس په ۳۰ نيټه دائتلافي ځواکو رسمي ويانډ په اسلام اباد کې اعلان وکړ چې ددوی ځواکونو صرف دافغانستان په شمال کې دطالبانو نه( ۷۰۰۰) اووه زره تنه بنديان نيولي او ددوی په بند کې دي او دا له هغو نه علاوه وو چې ددو له افغاني همکارانو سره بنديان وو هغوی له دغو بنديانو سره داسې چلند وکړ چې ټول اخلاقي او انساني معيارونه يې تر پښو لاندې کړل هغوی بنديان دخلکو په مخکې په کوڅو اوسړکونو کې ووژل حتی تر دې پورې چې امريکايي لوړ رتبه چارواکو به وويل: چې غواړي طالبان محاصره کړي او په کندز او نورو منطقوکي يې له منځه يوسي او نه غواړي هغه بنديان کړي دهغه وخت ددفاع وزير (رمزفيلډ) ويلي ؤ: مونږ دومره وزګار سرتيري نه لرو چې هغه دې بنديان وساتي. ددې خبرې نه دهغه منظور دا وؤ چې په کندز کې محاصره طالبان پرته له مرګ نه بله لاره نه لري ددې طالبانو له جملې يو شمير يې د څو ورځو خبرو اترو نه وروسته د(جنرال دوستم) سره دې موافقې ته ورسيدل چې طالبان او ټول خارجي جنګيالي به ده ته تسليميږي طالبانو ته به اجازه ورکول کيږی چې تر خلع سلاح وروسته خپلو کورونو ته ستانه شي او خارجي جنګيالي به دملګروملتونوسازمان او يا هم دهغوی خپلو هيوادونو ته سپارل کيږی خو دوستم په خپل دې عهد وفا ونه کړه او له هغوی سره يې داسې چلند و کړ چې په آوريدو يې غوږونه بوګنيږي هغوی ټول يې په ډله ايز ډول ووژل هغه چې ژوندي پاتې وه په يو نامعلوم سرنوشت اخته شول چې دراپوررونو په آساس ځيني دهغوی دشبرغان په ښارکې اوس هم ددوستم په شخصي زندان کې ترسختو شرايطو لاندې دژوند بدې ورځې شپې سباکوي ددې ترڅنګ يو شمير طالبان چې مزار شريف کې ترمحاصرې وروسته دوستم ته تسليم شوي وؤ هغه يې ددې ښار نږدې (قلعه جنګي) ته انتقال کړل بيا وروسته دامريکايي چارواکو له خوا دابتدايي تحقيق او نوم ليکنې په وخت کې بد چلند او اهانت اميزه برخورد ورسره وشو په نتيجه کې بنديانو هم عکس العمل وښوده په مقاومت يې لاس پورې کړ چې بالاخره دامريکايي الوتکو له خوا پرې بمونه وورول شول او ټول په دې قلا کې چې شمير يې دوه زرو تنو ته رسيده دهغوی درهبرانو دلارښوني له مخې چې ورته ويلي يې وه(( طالبان بايد بنديان نه بلکې ووژل شي )) ټول په ډله ايز ډول ووژل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چې دانساني حقوقو ددفاع سازمانونه په دې قضاياو کې دتحقيقاتو غوښتونکي شول رمزفيلډ په رشخندی سره ويلي وو په دې اړه تحقيق کول هيڅ فايده نه لري داهغه وخت وؤ چې دانساني حقوقو لپاره دملل متحد استازی( ماري رابن سون) ددې غوښتونکی شو چې دهغه ډله ايزو وژنو په اړه چې په قلعه جنګي کې شوي بايد تحقيقات وشي .

## دجنګي بنديانو شکنجه:

په فغانستان  دامريکا له بريدنه وروسته ددې هيواد استخباراتي شبکو په افغانستان او يو شمير نورو هيوادونو کې دبنديانو په نيولو لاس پورې کړ چې په نتيجه کې ديو راپور له مخې( ١١٦٥٤ )تنه بنديان دطالبانو او القاعده سره دتړاو په تور ونيول امريکايانو ددې ډول افرادو د ساتلو لپاره دافغانستان په داخل کې ديو امريکايي چارواکي داعتراف په آساس شل زندانونه  جوړکړي چې له هغې جملې نه د(بګرام اوکندهار) زندانون ډير مشهوردي او له افغانستانه خارج دګوانتنامو زندان دی چې په دې زندانونو کې مونږ دجنګي بنديانو وضع ترمطالعې لاندې نيسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دګوانتنـامو زنـدان :** دجنګـي بنـدیانو لمړنـۍ ډلـه چې دالقاعده شبکي او طالبـانو افراد وو د۲۰۰۲ میلادي کال دجنوري په ۱۱ نیټه د(ګوانتنامو ټاپو ته چې په کیوبـا) هیواد کې دی ورسول شول او هلتـه بندیان دنړیوالو قوانینو په نظرکې نه نیولو سره په غیر انساني شرایطو کې بی له دې چې سرنوشت یې معلوم وي او یا مرستي ورته ورسیږي او یا قانوني حمایت کوونکي ولري شپې ورځې تیرولـي. لومړی ځل شل تنـه القاعده اوطالب جنګي بنـدیان هلتـه ولیږل شول چې وروسته بیا دا تعداد (٦٨٠ )تنـو تـه ورسیده چې دنړۍ د(٤٦) هیوادونو اتباع پکې شامل دي او له هغوی نه ډیری یې دافغانستان اتباع دي په کومو شرایطو کې چې بندیان هلته ژوند کوي په اخرنۍ اندازې سخت دي په دې ډول چې دبنـدي داوسیدو داطاق طول دوه متره او عرض یې یو نیم متراو مناسبه رڼا نه لري  هغوی له خپلو کورنیو سره داړیکو او تماس ټینګولو اجازه نه لري   په لمړي سرکي دیوې هفتې په جریـان کې بنـدي تـه فقط یـو ځل دحمـام کولـو اجـازه ورکـول کیده او دهغـه وخـت فقط یـوه دقیقـه وه چـې وروستـه دبنـدیانو د ډېرواعتراضـونواو اعتصابونو له وجي دا وخت پنځودقیقو ته لوړ شو له بلې خوا دا بندیان په زندان کې دامریکایي ساتونـکو لـه خوا تـل تحقیـر اوسپکیږي ډول ډول ځورنې ورکـول کیږي لکـه لـه هغوی نـه دجـامو ویستـل او لـوڅ عکسونـه ترې اخستل حتي تردې پورې چې دساتونـکو له خوا پرې جنسـي تیری شوی ملنـدې پرې وهل شوي او وهل ټکول خو عادي خبره ده ددې زنـدان نـه یو آزاد شوي برتـانوي مسلمان خبري رسنیو تـه ویلي چې:

کالي به رانه وویستل شول لاس او پښې به یې راوتړل او بیا بـه یې خپلـو سپیو تـه واچولـو چې لـه دې خبرې نـه دهغه منظور په دوی باندې دسپیو له خوا جنسي تیري کـول ؤ حـال دا چې دبشر پـالنې د دودیز نړیوال قانون ځیرنـې چې دسره صلیب دنړېوالي کمیټـې( ICRC) لـه خوا سرتـه رسیدلې وایـي چې : ځورونه ظالمانه، غیرانساني چلند او وحشت دچاپه شخصي وقار بانـدې پـه تیره بیا شرموونکی او بې عزته کوونکي چلند ځخه کار اخستل دهرچاپه وړاندې په ټولو شخړو او جګړوکي منع دي. همدارنګه په نړۍ والو شخړو کې دربېمـه مشترکه مـاده هم دا حکم کوي خـو امریکایـانو جنګي بنـدیان پـه ډېر سخت حالت کې وساتل هغوی تـه د ډیرو کمو حقوقو په ورکولو هم قایل نه دي خلاصه دا چې امریکایان دهغوی سره نه دجنګي بندیانو په ځیرچلندکوي اونه هم ورتـه  دعادي بنـدیانو پـه سترګه ګوري داپـه داسي حـال کې ده چې په زندان کې دهغوی دساتلو لپاره هیڅ قانوني جواز هم په لاس کې نه لري .[1]

---

[1] ) عبدالباقی، مصباح الله. افغانستان پس از یازدهم سپتامبر، مترجم: عبدالقیوم فخری، چاپ اول، کابل: مرکز بخش و پروش انتشارات رسالت، ۱۳۸۵ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه څـه هم دجنیوا دنړیـوال کنوانسیون مـواد دټولـو هغو جګړوپـه بنـدیانو چـې ددې تـړون ددوه طرفونـو ترمنځ واقع شوي وي عملي کیږی خو د(بوش) اداري خپله پالیسي دبنـدیانو پـه اړه د۲۰۰۲ مـیلادي کـال په فبروري کې اعلان کړه اوپـه خپلـه دې اعلامیـه کـې دالقاعده دجنګیـالیو اوطالبـانو تـرمنځ یو تیوریـک تفکیک وکړ هغه په دې ډول چې دسپینې مانۍ په وینا القاعده یوه نـادولتي تروریستي شبکه ده نـو ځکـه دهغې شبکې جنګیالي دجنیوا دکنوانسیون نه بهر دي ځکه دجنیوا کنوانسیون دولتونـو لاسلیک کړی او القاعده شبکه یـوه نـادولتي ډلـه ده خـو طالبـان چې دافغانستان بـالقوه وسلـه وال فوځونـه وو او دجنیـوا دکنوانسیون مواد دامریکا او طالبانو ترمنځ شخړه باندې پـه رښـتیا سره تطبیـق کیدل چـې بایدطالبانو تـه دجنیوا دتړون مطابق ټول حقوق ورکول شوي ؤ خو برعکس طالبان هم دالقاعده دبندیانو پـه څیر جنګـي بندیانو ته ټاکل شوي حقوق خوپریږده چې هیڅ انسـاني حقـوق هم ورنـه کـړل شـول او لکـه څرنګـه چې پوهیږو دنړۍ په سطحه قوانین تل دزورورو له خوا جوړیږي ترڅو په کمزورو تطبیق شي او خپله یې نـه عملي کـوي داځل هم امریکـا دجنیـوا دتـړون مـواد تـر پښـو لانـدې کـړل او پـه دي بهانـه چـې طالبـانو هغـه ځانګړتیاوې نـه پوره کولې کوم چې دجنیوا په کنوانسیون کې دجنګـي بندي دقانونـي موقف دترلاسـه کولـو لپاره ټاکل شوي وي او هم یې دجګړې قوانین نـه دي رعایت کړي نـو پـه دې ډول یـې لـه قوانینونـه فرار وکړ او طالبان یې ناقانونـه جنګیالي ونومول چې پدې آساس هغوی دجنیـوا دکنوانسیون لـه امتیـازاتو نـه مستحق کیدلای نـه شي حال دا چې په دې کنوانسیون کې دجنګـي بندي موقف دترلاسه کولو لپاره چې کوم شرایط ټاکل شوي هغه دطالبانو په سرتیرو کې لیدل کیدل او پوره کړي یي ؤ هغه په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) هغه جنګيالي بايد حتماً ديو چاله خوا قومانده شي نظم او دسپلين ولري طالبانو هم په لمړي سرکې مشخص قوماندانان لرل او نظم او دسپلين پکې موجود وؤ بناً داشرط پوره شو .

2) جنګيالي بايد مشخص لباس او نښان ولري دلته هدف يونيفورم دی که څه هم طالبانو په هغه وخت کې مشخص يونيفورم نه درلوده خو بيا هم طالبان پيژندل کيدل او له عواموسره دهغوی فرق زيات وه بناء داشرط هم پوره وه .

3) جنګيالي بايد خپله وسله په ښکاره ډول وګرځوي ترڅو وښايي چې دايو جنګيالی دی داشرط هم پوره وه ځکه طالبانو وسلې په ښکاره ګرځولې او پرته له دوی نه هيچاته اجازه نه وه چې وسله له ځانه سره وګرځوي يعنې هر وسله وال کس طالب وه.

4) جنګيالي بايد دجګړې قوانين رعايت کړي داشرط هم پوره وه اودجګړې قوانين يې رعايت کړې ؤ.

له هغې جملې نه دامريکا له بريدنه څو ورځې مخکې کله چې يو برطانوی ژورنالسته ((ايوان ريډلي)) په افغاني جامو کې په پټ ډول دتورخم له لارې جلال آبادته راغلې وه ترڅو دافغانستان دوضعې په اړه راپورونه راټول کړي خودطالبانو له خوا ونيول شوه که څه هم هغې افغانستان ته دراتګ قانوني جواز نه وه اخستی خو بيا هم دطالبانو له خوا ترڅو ورځې نظربندی وروسته خوشې شوه او ډېر ښه چلند ورسره شوی وؤ اوله هغې سره دطالبانو دنيک چلند نتيجه وه چې داسلام په مقدس دين مشرفه شوه، او دجګړې دقوانينو له مخې هم دژورنالستانو نيول ،بندي کو ل اوځورول غيرمجازدي.

خو بياهم ددې سره سره امريکايي چارواکې وايي چې دطالبانو له خوا دجګړې قوانين مات شوي او غير قانوني جنګي بنديان دي او په بنديانو خپلو مظالمو او شکنجو ته ادامه ورکوي .([1])

---

[1]) ګوتمن،روی. اناکاتالدي اوجيلس پريس . جنګي جرمونه ژباړونکي:نظام الدين کتوازی اوجلات خان حکمتي، دوهم چاپ،کابل: کليدګروپ . ۲۰۰۷م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کی د بندیانو اوسنی حالت

**په افغانستان کی د بندیانو په باره کی دقضاوت کولو لپاره فقط یو راپور د افغانستان د اوسنی حکومت را اخلو او وربانډی بسنه کوؤ چه هغه عبارت دی له :**

**د افغان حکومت د حقیقت موندنې پلاوي د راپور له مخې، د ۲۸۴ بندیانو او نیول شویو کسانو له ډلې ۱۴۸ تنو يې دغه پلاوي ته د شکنجې او بد چلند په تړاو شکایتونه کړي دي.**

**دغه پلاوي د بندیانو د ځورولو په تړاو د ملګرو ملتونو تر راپورو وروسته د ولسمشر کرزي په حکم د کابل، هرات او کندهار ولایتونو په بندیخانو کې خپلې څېړنې ترسره کړې.**

**په کابل کې د ملګرو ملتونو سیاسي دفتر (یونما) د رواني میاشتې په سر کې په یوه راپور کې ویلي وو، چې د افغانستان په زندانونو کې په پراخه کچه بندیان ځورول کیږي.**

**دغه پلاوي د خپلو څېړنو د پایلو په اړه وايي زیاتره بندیان او نیول شوي کسان د نیول کېدو او د تحقیق پر مهال شکنجه او ځورول شوي دي.**

**ددغه پلاوي مشر عبدالقادر عدالتخواه د څېړنو په اړه وايي:**

**''ټول هغه کسان چې مرکې ورسره شوي ۲۸۴ تنو ته رسیږي، له هغې ډلې ۱۴۸ تنو يې د شکنجه کېدو ادعا کړې او ویلي يې دي چې ځورول شوي دي.**

**چې زیاتره ځورونې د نیول کېدو او کله ناکله هم د تحقیق پرمهال ترسره شوي دي''.**

**۶۶٪ بندیان**

**ښاغلی عدالتخواه وايي ۶۶٪ بندیان چې مرکې ورسره شوي، مدافع وکیلان نه لري، د یو شمیر بندیانو دوسیې په ټاکل شوې موده کې نه دي څېړل شوي او ځینو يې د بند له ټاکلې مودې ډېر وخت په زندان کې تېر کړی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بندیانو دوسیې:**

**"۱۲ نمبر نیول شوی کس وایي چې د کندهار ولایت اصلي اوسېدونکی یم، او بهرنیانو د روان کال د لیندۍ میاشتې په یوولسمه نېټه له خپله کوره ونیولم. یوه موده امریکاییانو وساتلم او بیا د بګرام زندان ته ولېږدول شوم. کله یې چې له الوتکې ښکته کولم، نو ښه چلند یې راسره ونه کړ، د یوه څاروي په شان یې له څټه ونیولم او حلال خواړه یې نه راکول. درې میاشتې مو د لمر مخ هم ونه لید".**

**د حقیقت موندنې د پلاوي د څېړنو پایلې ولسمشر کرزي ته هم ورکول شوي دي .**

**<u>د افغانستان په زندانو کې د حالت د ډیرښه تشریح لپاره دڅو زندانونو نمونې هم واضح کوؤ:</u>**

1. **دبګرام زندان دبندیانو حالت :**
2. **د پلچرخی زندان دبندیانو حالت :**
3. **دکندهار ولایت زندان دبندیانو حالت:**
4. **دهلمند ولایت دزندان دبندیانوحالت:**
5. **دنورستان ولایت زندان دبندیانوحالت :**

**لومړی – دبګرام د زندان حالت :**

**دبګرام زندان په افغانستان کې د امریکایی پوځیانو تر ټولو لوی او مهم زندان دی چې خواو شا**

**۳۰۰۰بندیان پکې ساتل کیږی چې نږدی ټول یی له وسله والو طالبانو سره داړیکو لرلو په تور نیول شویدي .**





(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشری حقونو ځینو ډلو په دې زندان کې له بندانیانوسره پرنـاوړه چلند او شکنجو پـه وار وار نیوکې کړې دي او . د افغانستان د بشـری حقونـو دیـوې ټـولنې مشـر لعل ګـل وایـی .د افغـان حکومـت قـانونی حاکمیت ، قضایی اوعدلی استقلالیت ته په کتو سره باید دبګرام زندان افغان حکومت تـه وسپارل شي . ښاغلی لعل ګل پدې برخه کې د سولې عالي شورا ته ورکړل شوی پراخه صلاحیت ته په پام سره وایی دا ددوي دنده چې پدې برخه کې جدي اقدام وکوي .

((زه فکر کوم چې څومره چې عاجل کیدلی شی پـه بیرنـي توګـه دغـه زندانونـه دې دافغانستان د قـانونی حلقی نه بیرون ونـه اوسیږی نه یوازی داچې د افغانستان استقلالیت یی تر سوال لاندې راوسـتې بلکـې دا پخپله د امریکاییانو حیثیت یی تر پوښتنې لاندی راوستې اوبله داچې دلته اوس دسولی عالی شوراته پدې برخې کې ډیر زیات صلاحیتونوورکړل شوی چې یو یی هم دادی چې دبګرام او ګوانتونـامو د زنـدان لپـاره یو کمیسیون لری نو اوس د سولی عالی شوراته ته خپل فرض اداکول پکـاردی او دغـه کمیسیون چـې د دغو زندانیانو لباره جوړ شوی ژر ترژره دې فعال کړی . ))

خو امریکایی چاروکي وایی افغانستان تراوسه دا توان نه لـری هغـه دوسیې چې استخبارتی اوامنیتـی بنسټ لری په اسانی سره وڅیړي اوبل دلیل د افغانستان په زندانونو کې له زندانیانو سره ناوړه چلند پـه ګوته کوي .

تیرکال دملګرو ملتونو سازمان هم د افغانستان په زندانونو کې له بندیانو سره د چلنـد پـه اړه یو رپـوټ خپورکړی وو چې پکې په افغان زندانونو کې د بندیانو د وهلو ټکولو، ځور او نـاوړه حالت په اړه اندېښنه ښوولې وه .

بګرام د افغانستان مهمه هوایی اډه ده چې دا مهـال پـه افغانسـتان کـې د امریکـایی ځواکونـو تـر ټولولـوی پوځی مرکز بلل کیږی د راپورنو لـه مخـې پـه دغـه زنـدان کـې پـه سـلګونـه هغـه افغانـان بنـدیان دي چـې دطالبانود ملاتړ په تورنیول شویدي .

خو له دغه زندانـه یو شمیر آزاد شوي زندانیان وایي دوی نه یوازې په زندان کې د امریکایي ځواکونو لـه لوري کړول شوي بلکې د دوی په وینا د بهرنیو ځواکونو له لوري په ناحقه په میاشتو میاشتو په بند کې ساتل شوي دي دا هغه څـه دي چې د بشري حقونـو یوشمیر ټـولنې یـې هم منـي او پـه دغـه زنـدان کـې د بندیانو حقونو تـه د رسیدو غوښتنـه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بل لوري ته دافغانستان دولت ترواکمنۍ لاندې زندانیانوته هم دزندانیانوسره د ښه چلند داغوره بیلګې ندي ځکه خو که دافغان دولت د واکمنۍ په زندانو کې هم د بندیانو سره د زندان د واکمنو چلند ته وکتل شي نو کیدای شي چې د افغانستان زندانو ته په خپله بندیان هم زړه ښه نکړي.**

**دیوشمیر شنونکو په اند په دې کې شک نشته چې د بګرام د زندان مسئله د ملی حاکمیت اوددې حاکمیت د بر لاسی خبره راپورته کوي خو د افغانستان په زندانوکې چې تر څو پورې د پرتو بندیانو سره د زندان د واکمنو دسم چلند جوتې نښې نښاني نه وي لیدل شوې تر هغې پورې به د زندانونو بندیان د هغوی خپل او خپلوان د انساني حقونو فعالین دې ته ډیر زړه ښه نکړې چې د ملي حاکمیت او واکمنۍ د مسلې په ترڅ کې دې د انساني حقونو د درناوي غوښتنې له پامه پرېوزي .** [1]

## دموضوع دتشریح لپاره دیوه بندی د سترګو لیدلی حالت د افغانستان د زندانونو څخه دمثال په ډول را اخلم چې عنوان یې(دبګرام په وحشتناک زندان کې د دردوونکوشپو ورځو یاد):

**دجمعې شپه وه دکابل ښار په لوېدیځ دپنځمي حوزې اړوند دکمپنۍ او آبرسانۍ ترمنځ سیمه کې دشمس المدارس دجومات اومدرسې څنګ ته په کور کې مې له خپلو ماشومانو سره په خواږه خوب بیده وم په داسې حال کې چې ورور مې بل چیرته میلمه وو او دشپې نه وو . دشپې شااوخوا ۱۲:۳۰ بجې به وې چې نا ببره یو درز شو چې له خوبه راببدار شوم چې ددروازو اودکړکیو دشیشو شرنګ او شرونګ وو اوشیشې ماتې وې اوتولې راتوییدلې چې سترګې مې لوڅې کړې په کوټه او سرای کې داسې سپینه رڼا وه اوپه حویلې کې مې سترګې پر ډېرو امریکایانو ولګیدې چې سرې زیږې ، سره سره لوې لوې بریتونه ،شنې سترګې اوسره مخونه لرې او دټوپکو شپیلۍ ئې زما خواته نیولې او زه داسې فکر کوم لکه چې خوب وینم نو په دې حالت کې ګورم چې امریکایې پوځیان چې ټوپک په ماشه یې ګوته نیولې دکوټې دننه شول او زه هیڅ حرکت نه شم کولای چې ګورم نابېره راباندې ږغ شو اوناڅاپه ( What is your Name) ما ورته سمدستې وویل ابراهیمې بیا یې راته وویل !First Name First Name ؟ما ورته وویل چې حبیب الرحمن ابراهیمي مخ ته مې امریکایان راډېرېدل هیڅ پوه نه یم چې شا طرف ته مې هم امریکایان ولاړ دي اوله شانه یې په لغته ووهلم او دوه متره مخې ته یې وغورځولم او سخت وهل یې راباندې پیل کړل په دې وخت کې له امریکایانو سره یوتن چې شخصي جامې ئې اغوستې وې امریکایي ږیره لرونکي پوځي په بغل کې په لاس څوخ کړ او زه یې**

---

*1) مهال خبری ویبپاڼه ، د افغانستان لپاره د مطبوعاتی اواری او ملاتړ اداره . کابل ـ افغانستان*

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته په ګوته کړم چي دغه کس دئ نو ځان يې دهغه په شاه کي پټ کړ ګومان کوم چي هغه به يي جاسوس وو ، نوامريکايي رانه پوښتني پيل کړې او زما مخ ته ئې يوه پښه کت کړه اوبله ئې زنګون کړه او قلم يي راواخيست وړوکي کتابچه ورسره وه راته وېويل چي ستا نوم ؟ دپلارنوم ؟دکوم ځاي يې ؟څه کار کوې ؟په دې وخت کي يي دچپ لور همداسي ړېره لرونکي او بريت لرونکي امريکايي زما پر سر وار وکړ اوزه ګنګس شوم او بيا ترجمان راباندي غږ وکړ او راته يي بدي سپکي خبري وکړې چي نه يي شم ويلای ،راته وويل چي صبح کجا بودي؟ ما ورته وويل چي ميدان ښار رفته بودم، وی چي ميکردي؟ ماورته وويل چي هلته مي کار درلود بس نورئې دخبرو کولو اجازه را نه کړه او زما په وهلويي پيل وکړ او زما لاسونه يې په پلاستيکي ولچک وتړل او کڅوړه ئې را پرسر کړه او په لغته يي ووهلم او زما د کوچنی لور چي په خوب ويده وه دهغې په خيته کي وخوت او هغه په چيغو شوه نو په دې وخت کي ډير امريکايان راغلل او يو ترجمان مي د جيبو په لوټولو پيل وکړ نو زما په جيب کي زر ډالر وو چي پنځه سوه مي خپل او پنځه سوه امانت ول او يو چا راکړي ول چي بل چاته يې ورکړم اوشپږنیم زره افغاني مي هم په همدې جيب کي او اته زره افغاني مي په دې بل جيب کي وې هغه يې را واخيستي او ږيره لرونکي امريکايي ورته وويل (give his money to his family) دوه درې ځله يي ورته وويل خو ترجمان پيسي له جيبه راويستي اوپه هغه توره خلته کي چي زما په غاړه کي يې اچولې وه په هغې کي پيسي واچولې او ما ډير ورته وويل چي پيسې مي ورکړه کور کي ترجمان بيا سپکي خبري راته وکړې چي ..... يکهزار دالر راچه ميکردي .

نور په ځان نه يم پوه چي څرنګه يي موټر ته واچولم خو زما دماشومانو چيغي او ژړاګاني مي په ذهن کي پاتي دي اونورنه يم پوه شوی څه ډول يې له کوره ويستلم خو يوه ساعت شاوخوا يې زما په کور کي تالاشي وکړه .

بيا يي چي کله موټر ته واچولم نو هلته مي لاسونه په پلاستيکي ولچکونو سخت تړل سوي ول او ويني ئې کولې او سخت درد ئې کاوه او ما ورته وويل: چي لاسونه مي درد کوي دا ولچک لږ شانته سست کړئ دوی به لا وهلم او له ۴۰ زيات امريکايي ګاډي يا موټر يي راوستي ول او له حسابه وتلي امريکايان هم ورسره وو چي نه شم ويلای چي څو به وو خو ويلي شم چي په لسګونوتنه وو شاوخا پنځه دقيقي يې په خامه کوڅو کي مزل وکړ او زه يې يوه بل پوځي ګاډي يا ټانګ ته پورته کړم او بيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵ دقیقې شا اوخوا مزل وکړ پر پاخه سړک نه پوهیږم چي کوم ځای ته یې وړي وم هلته یې له پوځي ګاډي ښکته کړم او ۲۰ دقیقې به یې هلته په یخ کي درولي وم چي ګورم دڅرخي الوتکو آواز مي ترغوږو شو اودغه دڅرخي الوتکوغږ رانیږدې کیږي او چي ګورم دېري الوتکي رانیږدې شوې او یوه یې کښیناستله اوبله یې په هوا ګرځي راګرځي نو په دې وخت کي یې زه لږ وځنډولم او الوتکي ته یې ورنیږدې کړم دالوتکي باد سخت یخ و ، یخ مي وشوچي ما ورته وویل چي یخ مي وشو او غاښونه مي کړسیدل له یوه او بل سره، نو په لغته یې په تشیو کي ووهلم او وویل: یې مه خوځیږه او چیرته ځې اوڅه کوې اولاس مي چي ولچک وو سخت یې راباندي تاو کړل اوسخت په درد شول خو لنډه دا چي یوساعت شااوخوا یې الوتکي باد ته دې بې رحمه امریکایانو نیولی وم او بیا یې الوتکي ته پورته کړم او هلته یې په داسي شکل دالوتکي په چوکي کي وتړلم چي یوه پښه مي یوې خواته اوبله پښه مي یې بلي خواته بنده کړه لاسونه خومي ولچک ول له وړاندي اود سیني لخوا هم او دشانه هم داسي کلک شیان راته پیدا شول چي هیڅ لورته حرکت نه شم کولای او ځان نه شم خوځولی.

خو چي کله الوتکه په هوا شوه فکر مي وکړ له ځان سره چي ته خو ژورنالیست یې اودا څنګه امکان لري چي د یوه ژورنالیست له پاره دي ئې دوې الوتکي،د ۴۰ په دشا اوخوا پوځي ګاډي او لسګونوتنه عسکر راوستلي وي ، یوه خبره خو خامخا شته خو حیران وم او ما وویل: چي دکومي پوځي فرقې قوماندان خو هم نه یې ته خو صرف یو ژورنالیست یې اویو قلم او مایک او کمره لرې داڅه خبره ده بیا مي وویل: چي هسې به نه پوهیدلې دا خبرنګاري به جرم وي او ددې کار دترسره کیدو په خاطر به دا جزا درکوي خو چي کله الوتکه کښیناستله هلته دامبولانسونو چیغي وې او دوې داني جیټ تیارې پورته شوې او ما ګمان وکړ چي بګرام دئ نوچي کله یې له الوتکي کوز کړم نو بیا یې په یوه کوچني موټر کي کښینولم چي چوکۍ یې داسي کلکي وې لکه دلرګي بیا یې بوتلم شااوخوا ۱۵ دقیقې به یې په همدې ځای کي ګرځولی وم بیا یې کوزکړم اوله موټر نه یې داسي ورکش کړم او بیا ئې په غیږ کي واخستم او یوځای کي ئې وغورځولم بیا نو څرنګه یې چي غورځولی یم حرکت مي نه سوای کولای ځکه په کور کي چي یې لاس راباندي ولچک کړل چي زه به لږ وخوځیدلم نو وهلم به یې ما فکر کاوه چي دلته به هم زما پرسرامریکایان ولاړ وي خو دوی مي و سر ته نه ول ولاړ او سترګي مي بندي وې خو چي هڅه مي وکړه چي پښې وغځوم نو نه شم غځولي ځکه دا کوټه یوه متر په یوه متر شااوخوا کي وه او چي ولاړیږم نو ولاړیدای هم نه سم (۵ ) دقیقې شااوخوا به یې هلته اچولي وم چي ددرزوازې درز شو نو له لاسه یې ونیولم اویوې کوټې ته یې بوتلم چي هلته مي لاسونه په رنګ راکړ کړل اوبیا یې په کاغذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښيودل او دکريمينل تخنيک شعبه وه هلته مي يي لاسونه له ولچک خلاص کړل او چي دلاسونو چاپ يي واخيست بيرته يي ولچک کړ او دسترګو نه مي يي هم کڅوړه خلاصه کړه او چي دسترګو عکسونه مي يـــي واخيســـتل نـــو بيرتـــه يـــي کڅـــوړه راپرســـر کـــړه ســـترګي ئـــې بيرتـــه را وتړلـــي . بيا يي کش کړم بلې وړوکي کوټي ته چي هلته د ډاکټر کوټه وه هلته يې ټول کالي رانـه ويستل ، د ډاکټر، يوه ترجمان او دريو امريکايانو په وړاندي ئې زما ټول بدن وکوت زخمونه يې ولټول چي له لاسونو پرته چي هغه ولچک ويني کړي ول بل هيڅ هم نه وو نو وزن يي کړم چي ۱۱۱ کيلو وم او قدم يـي هم وکـوت او راته يي وويل: چي څه تکليف لرې ما ورته وويل: چي دمعدې مشکل لرم اوبل دا نيم سر مـي کلـه کلـه درد کوي ګمان کوم د فشار تکليف مي دئ نو په دي وخت کي ډاکټر راتـه وويـل: چـي سيګرټ ،نصوار، الکحول ،يانور څه عمل لرې؟ ماورته وويل چي نـه هيڅ عمل نـه لـرم يـوازې ډوډۍ خـورم او اوبـه څښم نور هيڅ عمل نه لرم نو ده عينکي پرميز کښيښودې او راته يي وويل چي مه ويرېږه هرعمل چي ولـرې ووايه داجرم نه دئ ماورته وويل چي نه زه عمل نه لرم.

ترجمان راته وايي زه درسره يم مه ويريږه ورته ووايه مه يي پټه وه ما ورته وويل چي زه پـوهيږم چي وژلـو ځـای تـه راغلـی يم او زه عمل نـه لـرم خو ويـره بـه ولـي نـه کوم ويريـږم خو هيڅ عمل نـه لـرم . اودلـوځ ځـان شـااوخواتر ٦٠ زيـات عکسـونه ئـې لـه مخـي ،څنـګ او شـا، ټولـو طرفـو څخـه واخيسـتل . لنډه داچي بريت اوږيره لرونـکي امريکايي زما پرکاليو وخوت اوله الماري يي نـارنجي رنـګـي دګوانتانـامو او دابو غريب دزندانونو دبنديانو په شان جامې چي په نيټ کي مـي ليدلي وې هغـه يـي راتـه را واخيستې او هغه يې زما مخي ته واچولې او راته يې وويل: چي جامي دې بدلي کړه ما فکر کاوه چي اوس به ماتـه جامي راکوي او داسي فکر مي نه کاوه چي دګوانتانـامو او دابوغريب دبنديانو جـامي بـه پـه مـا اغونـدي. خو لنډه داچي امريکايي راباندي غږ کړ وويل : کالي دي بدل کړه (Change your Clothes)مـا ورتـه وکتل او راته يي همدا نـارنجي رنـګ جـامې ئـې رانيږدي کړې او راتـه يـي وويـل چـي دغـه کـالي واغونـده (You can use this clothes) ماورتـه وويـل چـي دا ډير بـد کـالي دي ( That is Very Bad Clothes) هغه راته وويل چي رنـګ څه معنا لري (وټ ايز دمينينګ اپ کلر ) ماورتـه وويـل چـي دا خـو د ګوانتانـامو او ابوغريب د بنديانو کـالي دي ( This color clothes is for the Guantanamo and Abo Ghuraib Prison) اودامي هم ورته وويل چي زه خو ژورنـاليست يم څنـګـه دغـه جـامي ماتـه را کوی داجامې خو دژورناليست نـه دي اومـاتـه بايد داجامي وانـه اغوستل شي په دې وخت کي يي ووهـلم پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغته او د ډاکټر دمیز لاندې یي ور وغورځولم اوسخت په لغتو یې ووهلم اوپه زور یې راباندې واغوستلې او زه یي مجبور کړم خودغه پتلون دئ؟ که پرتوګ ځه نوم پرې کيږدو دونه وړوکی وو چي ډیر په تکلیف مـــي واغوســـت اوســـخت ورســـره پتنـــګ وم ځکـــه پښـــي مـــي نـــه شـــواى پکښـــي راتولـــولاى . جامې مي واخستې او وا مي غوستې .اوکځوړه یي بیرته راپرسر کړه او لاسونه مـي یـي نـور پـه اوسـپني ولچـک ولچـک کـړل اوشـااوخوا دوه نـیم کیلـو تردریـو کیلـو بـه یـي وزن وو یعنـي خـورا درانــه ول . اوزه یي کش کړلم بیرته یي هماغه کوچني اوطاق ورته وایو که قفس ورته ووایو اوکه بل ځه هغه ځای ته یي یوړلم اوهلته یي وغورځولم- اوله ځو شیبو نه وروسته یې بیا دتحقیق بلې کوټې ته کش کړلم اوبیا یي هلته رانه پوښتني پیل کړې اوهمدلته اول را ته ګوت ځندنه وکړه او راته یي ښه تشریح وکړه چي کله ته بیرته خوشي کیدلې نوته به چاته نه وایې چي ځه ډول امریکایانو ونیولې ځرنګه یي وساتلې اوځرنګه یي خوشي کړلې نو بیا یې تحقیق پیل کړ چي ته پوهیږې ولي مو ته دلته راوستلی یې ماورتـه وویل چي زه نه پوهیږم اوبل یي راته وویل: چي ته پوهیږي موږ ولـي درتـه راغلي یو مـا ورتـه وویـل چـي پـه دې پوهیږم چي ولي تاسو راغلي یاست نو لنده داچي پوښتني پیل شوې پـه دې اړه بـه نـور ځـه نـه وایـو چـي ځه ډول پوښتني وې خو دا خبره باید په ډاګه کړم چي زما دمبایل خبري یـي دتیـرو دریـو کلونـو راپـدیخوا ریکارډ کړي وې او زه چي له هرچاسره غږیدلي وم هغه خبري مي وې په داسي حا ل کي چي دغه عمل داساسي قانون خلاف عمل دئ .

داساسي قانون د۳۴ مادې له مخي دبیان آزادي له هرډول تیري ځخه خونـدي ده هر افغان حق لـري چي خپل فکر دوینـا، لیکنـي ،انځور اویـانورو رسینو لـه لارې پـه دې اساسـي قـانون کـي دراغلـو حکمونوپـه رعایت ځرګند کړي .

دغـه راز داساسـي قـانون ۳۷ مـاده لیکـي چـي ( داشخاصـودمخابرې اولیکونـوآزادي او محرومیت کـه پـه لیکلي ډول وي یا دتیلفون اوتلګراف یا نورووسیلو لـه لاري لـه تیري ځخـه خونـدي دي دولـت داشخاصـو دمخابرو اولیکنو دپلټني حق نـه لري .

همداراز داساسي قانون ۳۸ مادې له مخي دشخص استوګنځي له تیري ځخه خوندي دي ،هیڅوک ددولـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ګډون نه شي کولاي داستوګن له اجازې يا دواکمني محکمي له قرار پرته له هغو حالاتو اولارو چې په قـــانون کـــي ښـــوول شـــوي دچـــا کورتـــه ور ننـــوزي يـــا يـــي وپلټـــي .**

**د پوښتنو په سر کي يې راته وويل: چې ته ووايه چې ستا هغه بل نوم څه دئ ما ورته وويل چې زه ژورناليست يم ولاړ شه انټرنيټ کي زما نوم ورکړه اوهلته زما په اړه مکمل معلومات شته زه بل نوم نه لرم ده بيا په بار بار پوښتنه کوله او سختي بدرنګي پوښتني يې کولې اوزه تر آخره ددوی په مطلب پوه نه شوم يو شي چې ډير د درد وړ وو هغه دترجمانانو ترجماني وه چې غلطي ترجمانئ يي کولي او ما به ورته يوځه وويل: اوده به بل څه وويل: آخر مي امريکايي ته وويل چې که مي وژني زه آماده يم خوکه دترجمان په خوله رانه تحقيق غواړې زه نوري خبري له ترجمان سره نه کوم او زه خپله ستاسو پوښتنو ته ځوابونه درکوم هماغه وو چې ده راسره قبول کړه اوترجمان لالا يي رخصت کړ او شرمنده ووت . ډيري پوښتني يي په دې اته ورځنی بنديخانه کي رانه وکړې او ما به ډير ورته وويل: چې زه ژورناليست يم او بله ګناه نه لرم ته راته ووايه چې زما ګناه څه او ما څه عمل کړی چې هغه سبب د دې شو چې زه امريکايانو ونيولم هغه راته وويل: چې ته دا خبره مه کوه او ستا ټول اعمال به امريکايي محکمه او امريکايي مستنطقين څاري اوتا ته به دقانون په رڼاکي سزا درکوي هماغه وو چې راته يي خپله وويل: چې موږ ستا لپ ټاپ کمپيوټر ،ستا مبايلونه، ستا کيمره اوستا کانټکټ ليست ګورو دا ټول ښيي چې ته ژورناليست يي داخبره سمه ده ما ورته وويل چې زما جرم نو څه شو چې تاسو دامنی چې ته ژورناليست يي نو زما جرم بل آخره څه شو ده راته وويل: چې داپوښتنه مه کوه موږ تحقيق کوو ما ورته وويل چې تاسو ولي ماته زنګ ونه واهه، ولې مو برېښناليک ونه ليږه ،ولي مو زما ددفتر لخوا ماته احوال رانه کړ چې زه خپله درغلی وای دا وحشت دي ولـي خپور کړ ولـي دوحشي په شکل زما کورته راغلاست زما دروازې دي ماتي کړې زما شيشې دي ماتي کړې زما پرکورنۍ دي مرګ تير کړ اوزه خو کوم مجرم نه وم زه خو خپلي چاري په قانوني توګه ترسره کوم دا ولي دا کار ترسره شو ؟**

**هغه راتـه وويـل: چـې بـس تـه خبـرې مـه کـوه اوس بـه معلومـه شـي چـې ژورناليست يـي کـه ځـوک ؟ لنډه داچي په زندان کي په دې تيرو اتو ورځوکي سخت وهل ډبول او چيغي وې او هيڅ افغان نه ترسترګو کيدئ او ټول امريکايان وو ډوډی يې نـه راکولـه اوکومـه ډوډي چـې د دوی لـه خـوا راوړل کيدلـه هغه بـه دخوړلو وړنه وه اوبل آخره کوم شيان چې دبشري حقونو سازمانونه او دانوري ډلي دبنديانو لـه پاره وړي دوی هغه هيڅ هم عملي نه کړل زما کورنۍ او زما ټول دوستان په دې نه وو خبر چې ابراهيمي مړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شو اوکه ژوندی دئ؟ يعني دامعلومات يې زما کورنۍ ته نه ورکول اونه يي هم ما ته ددې اجازه راکوله چي زما دوسيه او جرم څه دئ .**

**اوکله به چي تشناب ته ولاړم هلته بې اوبه نه را کولې ، د اودس ،او لمانځه له پاره هيڅ نه وو لنډه داچي يو وحشت اوتوره تياره وه اوډېر ظالمانه برخورد ئي کاوه . خوترآخره ما دافکر نه کاوه چي زه دځمکي لاندي يم اوکه دځمکي پرسريم يعني هم به مي سترګي تړلي وې هم به مي لاسونه ولچک وو اوهم به مي پر غوږونو ګوشۍ بندي وي چي څه وانه ورم . لنډه داچي په دغو اتو ورځو کي مي له مرګ پرته بل چورت نه واهه او ماويل دا يهوديان دي. اوکه څه هم ګناه مي نشته خو دوی د مسلمانانو په وژلو پسې راوتلي دي او وژني دي . ځکه کله ناکله به مي ددې پښتنو سيمو دقومي مشرانو وژني ذهن ته راغلې چي دوی خو هم هيڅ ګناوي نه درلودې خو هغوي هم يا دکوره ايستل شوي اويا هم ناڅرګندو وسله وال مړه کړي دي . ماويل کيدای شي ما هم په همداسي شکل مړ کړي خو دخدای تعالی فضل اوبرکت وو چي ژوندی ترې خوشي شوم ماته خو قبله ، شرق اوشمال نه ښکارېدل لمونځونه به مي په اشاره کول اوتيمم مي هم تمثيلي تيمم کاوه نو يوه ورځ مي يوه امريکايي ته وويل چي زه نه پوهيږم چي اوس څه وخت دئ هغه راته وويل چي (ميډل نايټ ) بيا مي ترې پوښتنه وکړه چي څو بجي دي؟ هغه وويل: : چي دوې بجې دي ،لس بجې ، پنځه بجې دي ده راته وويل: (وي کن ناټ سې ) او ولاړی دغه ورځ تيره شوه بله ورځ بل امريکايي راغی او جالبه دا چي خوب ته به يې نه پريښودلو اوپه هرو پنځو دقيقو کي به يوځل راته يوکس راتلو يا به ئي واټر واټر چيغي وهلې اويا بې جسيکا نمبر ون چيغي وهلې يا به ئي صابون بس چيغي وهلې اويا به يې پوډ پوډ چيغي وهلي اويا به يي هم ډاکټر جوړ يې ډاکټر جوړ يې چيغي وهلې اومطلب ئي داوو چي څوک ترې نه خوب وکړي او نه پر ارامه شي په اصل کي د دوی هدف همدا وو نه دخدماتو عرضه کول .**

**لنډه دا چي هغي امريکايي ښځي ته چي بنديانو ته به يې وويل: چي ډاکټر جوړ يې هغې ته مي وويل دمعدې تکليف لرم ماته لږ دوا ر اکړه ! هغې به راته وويل: موږ دمعدې دوا نه لرو هغې راته وويل: چي نورڅه فرابلم لرې ما ورته وويل: دسر چپ طرف مي درد کوي اوسخت سر مي درد کوي او يا مي د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فشار تکليف دئ ستا تسکوف يادفشار آله راوړه ،هغې راته وويل: صبر وکړه ، له هغې وروسته بيا ولاړ او تر ننه مي بيا نه ده ليدلې.**

**خو يوه بله ورځ مي بيا له يوه بل امريکايي ځخه پوښتنه وکړه چي دا څه وخت دئ زه په دې وخت نـه پوهيږم او بل مـي داهم ورتـه وويـل چـي دا کوم طرف دئ ؟ شرق دئ؟ شمال دئ؟ او کـه جنـوب دئ؟ يا شرق ؟ ده راته وويل: چي څه غواړې ما ورتـه وويـل: چـي زه لويديځ ( د قبلې طرف) هغه راتـه وويـل: چي څه غواړې چي څه پيداکړې او مطلب دي څـه شـي دئ اوڅـه کوې منظور دي څه شي دئ ؟ ماورتـه وويل غواړم د کعبې طرف پيدا کړم ، هغه وويل کعبه څه ده ماورته وويل: چـي مکـه غواړم پيداکړم هغه بيا راته وويل: چي مکه ماويل هو بيا يې وويل: چي وټ ايز مکه ؟ وټ ايز ديس ؟ ماويل غواړم( هـاوس آپ مـای ګاډ ) پيدا کړم .**

**ده بيا راته وويل: چي څه کوې چي پيدا يې کړې ماورتـه وويـل: چـي غواړم لمونځ وکړم ده راتـه وويـل: چي وټ ايز ده پرېر ؟ ماورته وويـل: چـي مـوږ مسلمانـان يـو او مسلمانـان پـه ورځ کـي پنځـه ځلـه لمونځ کوي نو زه هم غواړم لمونځ وکړم ځکـه مـي داپوښتنه تـرې کولـه چـي مـا بـه کلـه يـوې خواتـه اوکلـه بلـې خواته لمونځ کاوه تشويشي وم که څه هم داسلام په مبارک دين کي دا جايزدي چي په دې ډول حالاتو کي چـي هر لـوري تـه دي زړه وي هغـه تـه لمـونځ وکړه الله تعالی (ج ) ئـې قبلـوي خـو زمـا سره بيـاهم يـو تشويش وو ماويل که يقيني شي دا به ښه وي.**

**لنډه دا چي کله مي دا پوښتنه ورتـه واضحه شوه چي غواړم لمونځ وکړم نو په لوړ آواز يې ښکنځل راتـه په انګرېزي وکړه هغه مناسب نه ګڼم چي ويې ليکم خو راته يې وويل: (احمقانه پوښتنه راڅخه مه کوه ) نو ئې دروازه راته را خلاصه کړه او په سختو لغتو ئې په دې سينه او په خيټه او بغل کـي ووهلم او ښـه ئې چي راباندي ځان سترې کړ بيـا راڅـخه ولاړې او راتـه ئـې ښـکنځل کـول او لـه ځـان سره ئـې ښـکنځل تـکـــــرارول ، او دروازه ئـــــې پـــــه زوره راپســــې محکمــــه کــــړه او راڅخـــــه ولاړ. نو سخت مي فکر خراب شو چي تا ولي له دې ځناور نه پوښتنه وکړه او سخت ئې ژوبل کړم او دا ورمېږ مي په دې کونج ولګېډ اوداسي غږ ئـې وکړ لکـه چـي هډوکي مـي مـات شـوي وي خـو دالله (ج) فضل وو مـات شوي نـه وو لـه همدې وخت نـه وراندي بـه مي هميشه پوښتني کولې او هر امريکـايي بـه چـي راغـی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابه ورته وویل: چې زما دوسیه څنګه شوه او زما ګناه څه شي وه هغه به راته وویل: چې موږ نه پوهیږو خو په دې ځل ئې چې سخت ووهلم نور داسي شولم لکه چې جرم مي معلوم شوی او نور ما فکر وکړ چې ګناه دهمدا لمونځ ده او نورمي ځان داسي اچولی چې نه کوم تکلیف چاته وایم اونه چاته شکایت کوم اونه پوښتنه کوم او دا هرڅه چورتونه به مي چې وهل داسي فکر مي کاوه چې دا به ستا دمرګ ځای وي ځکه دا ځای چې زه پکښي پروت وم دا ډېر کم او تنګ ځای وو پښې مي نه شوای پکښي غزولای او پکښي درېدلی هم نه شوای نو له ځان سره مي فکر کاوه چې یاره دا ستا دمرګ ځای دئ ځکه چې دومره لویه ګناه خو دي نه وه کړې چې داسي عمل درسره وشي لکه دیو خطرناک مجرم په شان عمل چې درسره کیږي خو سخت افسوس به مي کاوه چې آی کاشکي ما خو یوڅه کړي وای اوبیا ئې دلته را نه وستلی وای اوبل مي دا دګوانتنامو د بندیانو جامې چې سترګو ته ودرېدلې وویل: به مي چې دا جامې زما وړ نه دي اودا دهغو زمریانو جامې دي چې دیو څو امریکایانو پر ستونو ئې څو ګولۍ اورولي وي اویا ئې لږ بل ډول د زمرو کار کړی وي تاخو هیڅ هم نه دي کړي او دا جامې ئې در اغوستي اوله ځان سره به مي دا فکر کاوه چې که ئې په بګرام کي له هغو خلکو سره یوځای کړې چې هغوی دامریکایانوسره عملاً په جګړه کي بوخت ول او د هغوی سره جنګیدل او هغوی ته به څه وایې خو ښه شوه چې هلته ئې ترآخره ور نه وستلم .

بله ترټولو جالبه خبره خو دا وه چې امریکایان به هر دوه ساعته وروروسته راتلل او زما بدني تلاشي به ئې کوله او هم به ئې زما دغه ځای تلاشي کاوه اومابه ورته وویل: چې ولې دومره مزاحمت کوی زما خولاس تړلي دي او سترګي مي تړلي دي زه کله څه کولای شم نودوی به دوه تنه ول یوه به په لغته وهلم اوبل به په بوکس یا په څپیړه وهلم لنده داچې څو ډوله مزاحمتونه به ئې کول چې هیڅ به پرې نه پوهیدلم چې هدف ئې څه دئ.

خو امریکایان چې به راتلل دواړه امریکایان ول چې ډېر مایوسه شولم او حیران وم چې ترڅو به دلته بندي یې او له ګناه پرته، زه لا په همدې چورتو کي وم چې د یوه امریکایي سره داسي کس راغی چې په انګرېزي ئې خبري کولې خو ډېري بندي بندي اوما ګومان وکړ چې دا به یو افغان وي نو کرار مي وویل چې به ( لهاز خدا صدای مارا به یک جا برسان من خبرنګار هستم مرا آورده وهیچ جرم من معلوم نیست درهمین جا مرا انداخته )ده صرف راته وویل ( کِجا؟ ماورته وویل !درکابل ) نو په همدې وخت کي په ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې وار وشو او وې واهه اوپه لوډسپيکر کي پـه لوړ آواز پـرې غږ وشو( لـه بنديانو سره خبري مـه کوه) نور دوې دروازه راپسي بندي شوې او ولاړل رانه .

يوه شي ته دلته اشاره کول غواړم چي ما ټول تال د۱۷ ورځولمونځونـه کړي او ماويل چـي ۱۷ ورځـې بندي خانه مي تيره کړې ځکه سترګي مي ترلي او په غوږونو مي ګوشي لګول شوي وی ترڅو غږ وانـه اورم او په سترګو مي توره کڅوړه راپر سر شوې وه او هيڅ نه پوهيدلم چي څو ورځې مي تيري شوې . له هغه شکايت وروسته چي هغه کس ته مي وکړ نو يوه شپه وروسته امريکايان راغلل او زه يې بوتلم بيا د ډاکټر خوني ته نو زه حيران شوم چي ولې يې د ډاکټر خوني ته بوتلې خو چي ګورم په دې حالت کي ډاکټر بيا زما ټول معاينات وکړل اوهم يې زما وزن بياچک کړ او زماوزن ۹۸ کيلو وو يعنـې ۱۳کيلـو مـي وزن کم شوی وو .

له ډاکټر مي وپوښتل چي ولي مي ۱۳کيلو وزن له لاسه ورکړی هغه وويل چي تـه صبر وکړه زه بـه ئـې علت درته ووايم نو زما سترګو خو څه نه ليدل او ما ورته غوږ نيولی چي دی ورقـي اړوي او څو شيبې وروسته ئې راته وويل: چي تـه ولـي ډوډي نـه خورې ماورتـه وويـل: چي زه خو ډوډي نـه شم خوړلای ځکه چي بد بوی کوي هغه راته وويل: چي ته انرژي چيښه ما ورته وويل چي انرژي هم بد بوی کوي او زه هغه هم نه شم چيښلای .

ده راتـه وويـل: چي دا ټـول بنـديان همـدا ډوډي خوري او څـوک چي ډوډي نـه خـوري هغوي بيـا انـرژي څيښي خو ماورته وويل چي پـه انرژي خو دحلال پـه نـوم څـه نـه دي ليکلـي ده راتـه وويـل چـي دا پـول انرژي ده او دا وڅيښه ما ورته وويل چي نـه دا انـرژي نـه شم څښلای او دا هم حلالـه نـه ده نـو ده راتـه وويل چي بس نو چي څه کوې هغه کوه او بله چاره خو نشته .

نور ئې بيرته د ډاکټر له کتنځي څخه لاس ترلی هغه خپل دايمي ځای ته بوتلم بيا زه شوم او هغه پخواني چورتونـه او دردونـه شول او پروت وم چي بيا مي يوه بله شپه او ورځ تيره کړه نوهماغـه ځورول روان او تکليفونـه او ځوروني رواني وې اوما خپل پـه اشـار ه لمونځونـه کول او پـه دې وخـت کي مـي دماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ وکړ نو سبحان الله وبحمده اوسبحان الله العظيم وايم اوپه همدې مصروف يم يوه خبره همدلتـه بايد وکړم چي دبندي خانې په هره شيبه کي به ما دقرآن عظيم الشان هغه برخه تلاوت کوله چي په ياد مي وه اوکوښښ مي ډېر کاوه چي داسي آيتونـه تلاوت کړم چي پـه هغو کـي يهود اونصارا يـاد اوذکر شـوي دي لکه يا ايهالمشرکين .... فاءاذا لقيتم الـذين کفروافضرب الرقـاب حتـي ..... يـا وقـاتلوهم حتـي لاتکـون فتنـه ويون دين کله لله ) يـا فـاقتلوا المشرکين حيث وجد تموهم ) اوياهم دې تـه ورتـه نـور آيتونـه او د اخرې سپارې ډېر سورتونـه مي ياد دي هغه مي تلاوت کول او ډېر اطمنان مي چي حاصليدو هغه به مي چي کله ( سبحان الله وبحمده اوسبحان الله العظيم ) ډېر ځله تکرار کړ .
خوپه دې وخت کي چي ګورم يو امريکايي راغي اوراته يې وويل: ( ټک ايټ) چي ګورم زما خپلې جامي يې را وغورځولې او راتـه يـې وويـل چـي چـنج کلـوتس يعنـې جـامي بدلې کړه ما هم ژر ژر جامي بدلې کړې .
نور امريکايي رابانـدې غږ وکړي چي (Ready) يعنـي آمـاده يـې مـا ورتـه وويل چـي (Yes) يعنـي هو. دروازه يې خلاصه کړه اوغږ يې رابانـدې وکړ چي ښـې لاس تـه را تـاو شـه نـوزه ورتـاو شـولم او دهليـز تـه ئې ور کشم کړم خو ګوشکۍ مي پرسر، لاسونه مـي ولچـک، تـوره کڅـوړه مـي پرسر، سترګې پلستر او روان ئې کړم نو دا لاره هغه لاره نه وه چي يا به ئي تشناب ته بيولم ،يا به ئي به تحقيق ته بيولم اويـا بـه ئې ډاکټر کتنځي ته وروستلم نو دا بله لار وه چي په دې دهليز کي ئې ودرولم يو څودقيقې چورتونـه راتـه پيداشول چي امکان لري دا امريکايي کوم بـم راواخلـي او ستا پـه لاس کـي ئـې درکړي او انفجـار درکړي اويا دي هم په کوم ځاه کي وغورځوي اوياهم په بل شـکل دي ووژنـې چي بيـا ئـې لـه ښـي لاس کـش کړم اوراته ئې وويل (Go) يعني ولاړ شه .

کله چي مو حرکت وکړ او لږ ولاړو نو په يو څو زينو کي چي ئې کښته کړم او د وروسته ئې د شا له خوا ور ټيله کړم او د موټر مينځ ته ئې ور وغورځولم او سر مـي د مـوټر د دروازې سره و لـګيد؛ ډېـر سخت ئې خوږ کړم. اوپښې مي دموټر په دې کوز طرف ولـګيدې سختي خوږ شوې نو زه دموټر دننه پـه ډيـر بد حالت کي وغورځيدلم او امريکايي چي کله موټر ته راپورته کيدو نو زمـا پـر پښـه ئـې پښـه کښيښـودله او موټر ته را پورته شو، ټوپک ئي هم زما پر پښو راکښيښود نو زه سخت په تکليف وم ورته مي وويل کـه مي وژنې خو مړ مي کړه او که نـه نو زه سخت ژوبل يم کمـک وکړه سم مـي کـړه دی لږ وخوځيد او دوه نورو امريکايانو خبري سره کولې او زما په قصه کي نـه شول نو په دې وخت کي چي ګورم مـوټر تـه ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حرکت ورکړ اوډېر تيز ئې چلولو په دی وخت کی  ئی بيا زما د غوږو څخه ګوشۍ ايسته کړې او سترګې ئې لا هم بندې را پرېښوولې.**

**موټر چې لږ نور لاړ نوبيا مې دجيټ تيارو غږ ترغوږو شو او خوشحاله شوم اوفکر مي وکړ چې پل چرخي ته به دې انتقال کړي اوياهم د امنيت زندان ته نو ماته پل چرخي زندان او امنيت زندان خوشحالي وه ځکه ماويل داخو افغانان دي او خير که افغان مي هرڅومره په تکليف کړي دومره درد نه کوي لکه امريکايي لخوا چي ګورم الوتکي ته يي پورته کړم او په الوتکه کي يي ښه ډير وګرځولم اوچي يو ساعت شاوخوا وخت ووت نو کښته شوه او دموټر داسي تيز سرعت مي ترغوږو شو چي تاويل په يوه سړک موټر ډيــر تيريــږي نــو دلتــه يــي ترخپــل مــنځ وويــل: لاره نــه شــي پيــداکولاي . نور يي زما لاسونه له ولچک خلاص کړل او قلم يي په لاس کي راکړ اوراته يي وويل ساين يعني امضا وکړه ماهم په امضا کولو پيل وکړ چي ګورم پنځه امضاګانې يې چې وکړي نور پوه شوم چي راځه حساب يي کړه امضاګانې ډيره وي داڅه خبره ده؟ ما ورته وويل: چي دا امضاګاني دڅه لپاره دي ؟ امريکايي وويل دا زما دوسيه ده امضا کړه! امضا ! مطلب ۱۵ امضاګاني يې راباندې وکړي اونور يې له شانه ټيله کړم او راته يې وويل چي : ته تلای شې په دې وخت کي داسې شوم لکه چي په خوب کي لـه بامه څوک ولوېږي نوزه هم را ولويدلم او هيڅ ځاي ته نه رسيږم خو چي ورسيدلم او بلآخره پر ځمکه ولويدلم چي لاسونه مي سترګوته يوړل نوسترګې مي غوړې او سر مي لوند دي او چي سترګې مي لوڅه کړي سپيره دښته ده هيڅ نه ترسترګو کيږي يوه طرف ته مي دلمر ستر ګه ده اوبل طرف ته دامريکايانو هغه ټانکونه دي چي په ماينونو کي لمنځه تللي اوداسې ډير پراته دي چي لـه حسابه وتلي اوداسې غونډۍ غونډۍ پراته دي خو دلته مي چيغې کړې چي دا کوم ځاي دي يوکس راغي او منډي يي راوکړي اوراته يي وويل: چي څه خبره ده ما ورته وويل چي دا کوم ځاي دي هغه راته وويل: چي دا بګرام دي هغه وويل چي کوم ځاي دي مات دي لاس پښه سر ورمېږ ماورته وويل: چي زه خو دغو وحشيانو دلته وغورځولم هغه راته وويل چي وروره دلته هره ورځ دوه درې تنه غورځوي بيا يي موږ تريوه ځايه وړو راځه را پښا شه او زه مسلمان يم مه ويريږه ماورته وويل: چي زه تلي شم چي حرکت مو وکړ ولويدلم نو په دې وخت کي يی پورته اوپه شاه يي کړم  لږ چي لاړو بيا هلته يو موټر راپيدا شو تريوه ځايه يي په دې موټر کي انتقال کړم بيا هغه موټروان وويل: چي زه بل چيرته روان يم کنه نو ما کابل ته وړلي ماويل خير کور ودان او دلته چي له دې موټر نه کوز شولم په دي بل عمومي او ډامبر سړک يي کوز کړم دلته دتيلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر موټر ولاړ دي اودلته خلک راباندې راټول شول او څوک وايي داچا وهلي څوک وايـي دا چا تښتولي اوڅوک څه وايي څوک څه وايي خو يو سړي راغي اوراتـه يـې وويـل: چې راځـه زماسره چـاي ډوډوي وخوره کالي به دې هم بدل کړم کالي مي څيري وو اوهم به سرپري وينځـي مـاخبرې نـه شـواي کـولاي او چيغې رانه وتلي ماورته وويل: چي که زه کافرانو بيولي وم اوس به مـي تـه خداي خبر چيرتـه بـوزي کـه مسلمان وي نو ما ته يوموټر پيداکړه چي ما کابل ته ورسوي نو هماغه وو چي يوموټروان باندې يې غږ وکړ چي ګوره ته دا زر روپۍ واخله اودغه سړي کمپنۍ ته ورسوه زه يې چي په موټر کي کښينولم نولـه ماڅخه غير ارادي چيغې پورته شولې او ځان مي نه شواي کنټرولاي پـه دې حالـت کـي ډريـور چـي موټر يې چالاند کړي وو بيرته موټر ګل کړ او هغه کس ته يي غږ وکړ چي حاجي صاحب دا سړي زه نـه وړم ددي وضعيت خراب دي يابه په موټر کي راته مړ شي اويـا بـه پـوليس بـل ګومـان وکـړي چـي دا څنګـه پـه موټر کي چيغې وهي هغه سړي ډير تکړه سړي وو اوهغه ورتـه خپل دټليفـون نمبـر ورکـړ او ور تـه يې وويل چي دا نمبر واخله کـه پوليسو هرڅـه درتـه وويـل نـو ماتـه بيـا زنـګ ووهـه او ځـه تشويش مـه کـړه داسړي امريکايانو بګرام ته وړي وو .

بيا يې په موټر کي کښينولم اودکابل په لور يې حرکت راوکړ نوداسيمه دسرک نو سيمه ده دبګرام دسرک نو ، چي ډريور لږ مخکي راغي ما ورته وويل چي استاده تيز ځه چي شپه نه شي را باندې چي بيا به څه کړو ده راته وويل: چي ته ولې داسې خبرې کوي بيسوره يـې کـه څرنګـه اوس سـهار اتـه بجـي دي وخـت ډير دي بس هماغه وو چي ډريور راته وويل: چي يو نمبر راکړه چي زه زنګ ورته وکړم چي زيري پري وکړم ما ورتـه وويل چي واخله يو نمبر مي ورته وويل هغه وويـل داخـو کـم نمبـر دي بـل مـي ورتـه ورکـړ وويل: يي دازيات دي بل اخره مي ورته وويل چي واخله دا زما په کاليو کي کوم نبمر پيداکړه هغه وويل چي اي وروره هرڅه دې په جلا پاکټ کي اچول شوي دي داځرنګه چل دي ما ورته وويل چي بس وګوره کـه مـي موبايـل پـه کـاليو کـي وي يـونمبر پـه کـي راواړوه اوزنـګ ورتـه ووهـه دابوبکر،هدايت،حميـد، اونصرت نومونـه مي ورته ياکړل هغه بس زنګ ورتـه وهلي اوډريور ماته ګوشي راکړه اوراته يې وويـل: چي ته ورسره خبره وکړه اوزما له خولې همداسې چيغې وزي يعنې خبره نـه شـم کـولاي خـو هغـه ډريـور زما دکاکا زامنوته وويل چي پل محمود خان ته راشي او دغه سړي امريکانو پـه بګـرام دښـته کـي اچـولي وو او اوس موږ پل محمود خان ته درځو اوتاسو راشـي مـا ډريـور تـه وويـل چـي کمپنـۍ تـه مـي بـوزه ده وويل: چي موټرمي اسناد نـه لري اوزه له پل محمود خان زيات نـه شم تلاي خودايي وويل: چي هلتـه زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروور دي هغه ته دې ورکوم اوهغه به دې ور ورسوي په دې وخت کي چي پل محمود خان ته راورسيدو نودغه ډريور ورک شو لس دقيقي وروسته راغي او سراچه ټکسي يـي را پيداکړه اوراتـه يـې وويل چي دغه کس دي رسوي او دا زما وروور دي نو ما ډريور ته وويل: چي استاده وروررسره دخبره کړي چي تـه به ما کمپنۍ ته رسوي هغه په دري خبرې پيل کړي و يي ويل: برادربيا سرما فلم پري ميکني مـا بـرادري تو نيستم نودلته دې اولني دريور ورته څه پيسې ورکړې او ورته و يې ويل: چي کمپنۍ ته يې ورسوه نو ما ورته وويل چي پيسې زه ورکوم ده وويل: نه لنډه دا چي حرکت يې وکړ... پای.[1]**

**ټولو ته جوته ده چې د ګوانتانامو زندان بنياد په ظلم سره اېښودل شوی دی؛ ځکه دنړۍ پر مخ هيڅ داسې کـوم قـانون نشته چې له مخې يې يو کس د څو ورځو په مخه بې سرنوشته په زندان کې وساتل شي، دا چې يـو کـال، دوه کالـه،... لـس کالـه او يوولس کاله له آبادۍ نه په ليرې پرته جزيره کې بې سرنوشته وساتل شي، نه يوازې دا چې انساني ارزښتونو ته له درنـاوي او د بشر له حقونو سره هيڅ تړاو نه لري، بلکې د ټول انسانيت پر مخ د ظلم څاپيره ده!**

**په دغه غير قانوني زندان کې نه يوازې دا چې له زندانيانو سره کم تر کمـه انسـاني چلن نـه کيږي، بلکـې وخت پـر وخـت د فزيکي تعذيب تر څنګ رواني تعذيب هم ور کول کيږي، مقدساتو ته يې سپکاوی کيږي، بلکې د مقدساتو سپکاوی له همدغـه ځـای نـه پيل شو چې اوس يـو معمـول ګرځيدلی، آن پـه افغانسـتان کـې د (راغلـو ميلمنـو) پـه لاس روزل شـويو هـم دې غيـر انساني عمل ته مخه کړې ده، چې تر ټولو واضحه بلګه يې څو ورځې وړاندې په هلمند کې د کرزي د ټش پـه نامـه ادارې د يو اجير عسکر لخوا په جومات کې د قرآن کريم سپکاوی، او بيا ورپسې هغه عام لاريون کوونـکي پـه خـورا بـې رحمـۍ سـره په شهادت رسول د يادولو دي چې ددغه ناوړه عمل پر ضد يې په مو سی کلا کې سولـه ايز لاريـون وکـړ، او ورپسـې همدېـتـه ورتـه پيښه په فراه ولايت کې هم رامنځ ته شوه.**

**دا دي نيږدې دوه مياشتې کيږي چې د ګوانتانامو په زندان کې ځينو زندانيانو قرآن کريم تـه د امريکايـانو لـه خـوا د سـپکاوي له کبله د نه خوړلو په اعتصاب لاس پورې کړی چې د ځينو روغتيايي حالت د خورا اندېښنې وړ ښودل شوی، مګـر تـر ننـه پورې هيڅا د بشري خواخوږۍ اومسوليت له مخې په تيره هغوی چې ځانونـه د بشر دحقونو علمبرداران بولي، پـه دې اړه د پام وړ ګام نه دی پورته کړی، يوازې سره صليب هغه هم له څه کم دوه مياشتو وروسته يو ډاکتر او يو استازی ور ليږلي تر څو د زندانيانو حال معلوم کړي!**

**دا پـه داسې حال کې چې هر څوک پوهيږي چې يو انسان څه کم دوه مياشتې څه نه و خوري نو حال به يې څه رنګه وي؟**

---

[1] *Larawbar.com 23-01-2013 ، ليکنه : ليکوال او ژورناليست حبيب الرحمن ابراهيمي - کابل*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېر د تعجب ځای دا دی چې دغه رنګه له غفلت او بې پروایۍ نه ډک چلن د هغه چا له خوا تر سره کیږي چې لـه بل هر چا نه ځانونه انساني ارزښتونو ته زيات ژمن بولي، او دتمدن او انساني مساواتو دعوې کوي!**

**دانساني خواخوږۍ او ريښتيني بشر پالنې غوښتنه خو دا وه چې نور ددغو مظلومو زندانيانو په برخليک لـوبې نـه وای شوې، زر تر زره دغه زندان لکه څه رنګـه يې چې ژمنې شوې وې بايد دانسـاني ارزښتونو او بشري حقونـو تـه درنـاوی شوی وی، مګر متاسفانه چې داسې ونـه شول! او نـه يې کوي! بلکې بر عکس دا دي د بشرپالنې او انسـاني خواخـوږۍ دعوې ورځ تر بلې سرچپه را برسيره کيږي، آيا دا دانساني ارزښتونو، دټولو انسـانانو لپـاره د مسـاوي او بشـري حقونـو او سوله ايز ژوند پر پوچو دعوو د بطلان سره کربښه نه راکاږي؟!**

**اسلامي امارت يو ځل بيا پر ټوله نړۍ، په ځانګړي ډول اسلامي حکومتونو او ولسونو، ملګرو ملتونـو، اسلامي کنفرانس، خصوصا دبشري حقونو پر ټولنو غږ کوي چې نـور ددغـه بشري نـاورين پر وړانـدې لاس تر زنـې کښيننـي، ددغو مظلومـو زندانيانو د ژغورلو او آزادولو په موخه خپل انساني او بشري مسئوليت درک او په اړه يې عاجل اقدام وکړي.**[1]

## دبګرام په زندان کی دبنديانوسرنوشت دتشويش وړدي:

**دافغانستان ولسمشر ښاغلی حامد کرزی د دوهمې ولسمشريزې دورې د لوړې مراسم تر سره کړل، پـه ګران افغا نستان کی يی د اسلام دسپيڅلی دين تر سويری لاندې د ټولو هيوادوالو د ګټو او خدمت ژمنـه او تعهد يو ځل بياهم تکرار کړی.**

**وروسته ولسمشر په يوه وينا کې د خپلې راتلونکې دورې د پروګرام مهم ټکي په ګوتـه کړل، پـه دې وينـا کې د هيواد د ولسمشر په توګه د دويمې دورې د پيلولو په لړ کې د ښـاغلي کـرزي د وينـا تـر ټولـو مهم ټکی په هيواد کې د سولې راوستل،دقانون تطبيق ول،دعدلی نظـام جوړه ول او تـر ټولـو مهم اوعمـده خبره داو چه ښا غلی کرزی صاحب په خپلو ژمنو کی تکرارکړه چه دافغا نانو څخه به دجرايموتحقيق او پوښتنه خپله دافغا نانو له لوری کيږی اودمجرم دجرمونودثبوت پـه صور ت کی بـه مجرم اشـخاص بـه خپله په هيواد کی دامنيتی ارګانونو له طرفه په مستقيم ډول تر توقف او څارنی لاندی سا تل کيږي،معنـا داچه هيڅ افغان به په خپله خاوره کی دخارجيانو له لوری په افغانستان کی دننه په خارجی زندانوکی نه ســـا تـــل کيــږی او هـــر ځـــه بـــه دافغـــا نـــانو پـــه لاس کـــی وی.**

---

[1] ) Larawbar.com 23-01-2013

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې و کړي چه ښاغلی حامد کرزی دافغا نستان ولسمشر عملاً په همدې قاطعیت چې له ولس سره يې ژمنه کړی د ه ډیر ژر اقدام وکړی او دافغا نانو له تندی ځخه دغه تور داغ چه په خپله خاوره کی دپردیو په زندانوکی دکلونو انتظار شپی اوور ځی سبا کوی پاک کړي وقعا دا لومړنی اړتیا ده چې زموږ ولس يې احساسوي، خدای دې چاروکیو ته دا توفیق ورکړي چې دبګرام زندان اوورسره ورته په ټول هیواد کی داسی زندانونه ډیر ژر وتړل شی او زمونږ بی ګناه هیواد وال له دی مشکل دهمیش لپاره نجات پیداکړی .

دافغانستان ولسمشر دنیکمرغه لوی اختر په مناسبت دیو تعداد بندیانو دبخښنی فرمان صادر کړی ایا ددغه فرمان په اساس به دهغو بیګناه هیوادولو دسرنوشت دټاکلو په باب چه دکلونو کلونو راهسی دبګرام په زندان کی بی له کوم پرخلیک څخه پراته دی کوم تصمیم ونیول شی؟ له هغه راهیسی چې نړیوال ائتلاف د امریکې په مشرئ په افغانستان کې جګړه پیل کړي، ورسره جوخت یی زموږ په هیواد کې ځانګړي زندانونه هم جوړکړی چې د بګرام زندان يی ترټولو لوی زندان دي.

له حقوقی پلوه هر هیواد حق لری د هیواد په دننه کې ټولی قضیې دهیواد دعدلی او قضايي سیستم په چوکاټ کې ارزوي او هیڅ هیواد هم حق نه لری په بل هیوادکې بیل زندان ولري او د هغه هیواد په اړوندو چاروکی خپل قضایی سیستم وکاروي. دغه ډول کړني د یوهیواد د قانونی حاکمیت تر پښنو لاندې کول دی او ناوړې پایلې رامنځته کوي.

په نوموړیو آمریکایی زندانونوکې له هماغه پیله داسی کسان هم بندپاتی شوی چې دتشو تبلیغاتو په ترڅ کې په القاعده محکوم شوی او کلونه کلونه یی هیچاهم د جرمی دوسیې ثبوت نه دی کړی او بیرته د بې ګناه افغانانو په توګه را خلاص شوی او یا هم تراوسه په دغو زندانونوکې پرته له هیڅ پوښتنی ګرویږنی پراته دی او...

پردې سربیره په دغو زندانونو کې دمدافع وکیل حقوق هم ترپښو لاندې شوي او له کلونو نیوکو او په ښه کیدلو وروسته تازه هغوی دځینو اصلاحاتو په موخه ځینې څرګندونې کوي، ترڅو په دې ترتیب دخلکو د نیوکو مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې وخت آمریکایان وایی په دغو زندانونوکې ساده زندانیان نه دي چې د افغانستان د عدلي او قضایي سیستم په چوکاټ کې ورسره چلن وکړي او دغه زندانیان له تروریزم سره په جګړه کې نیول شوی دي. خو عیني واقعیتونه په ډاګه کوي چې دغه خبره په لومړي سرکې عامه نه ده، یعنې ټول زندانیان په جګړه کې نه دي نیول شوی او په دویم ګام کې تروریزم یواځې د امریکا پرضد عملیه نه ده چې امریکایان زموږ په هیواد کې دهغو د زندانیانو په اړه ځانته د ځانګړی زندان لر لو جواز ورکړي، بلکې خپله افغانان هم له تروریزم سره تر امریکا وړاندې لاس او ګرېوان وو. افغانستان یو آزاد دولت دی، قضایه قوه لری او ددغو قضایي قوانینو په چوکاټ کی باید ټولی عدلی او قضایی دوسیې وڅیړل شي.

امریکا او نړیواله ټولنه هم چی دلته راغلي، د ملګرو ملتونو دپرېکړې له مخې راغلی او اصلی موخه یې له تروریزم سره دجګړې په عملیه کې د افغانستان له دولت او خلکو سره دهغوی مرسته اعلان شوی وه، نه داچې هغوی راشی او دلته د خپلو هیوادونو د قوانینو دپلی کولو لپاره ځانګړی سیستم جوړکړی او زموږ ټول قوانین نالیدل وګڼي.

وړاندیز دادی چې د افغانستان حکومت هم دبشر حقونو له اړوندو ادارو سره، کوم چې اوس یې په دغو زندانونو کې د امریکی د غیرقانونی کړنو پرسر نیوکوته زور ورکړي، په یو آواز غږ پورته کړی او تردی ډېر په دغو زندانونوکې د بوډاګانو، ماشومانو او نورو بې ګناه هیوادوالو شتون او له هغوی سره دغیرقانونی چلن عملیه ونه زغمي، ځکه موږ د آزادۍ دعوه کوو او زموږ په خاوره کی دلته دبل قانون منل، په حقیقت کې د افغانستان د قانوني حاکمیت نقض کول دي. اوسنی حالت داسې دی لکه آمریکی چی له تروریزم سره په جګړه کې افغانستان په کرایه نیولی وي، نو هرڅومره ژر باید افغان چارواکي له دغو نړیوالو نیوکه کوونکیو اداره سره همغږی شی او دخپل هیواد د قانون له حاکمیت څخه دفاع وکړی چی پدی سره نړدي ټول هیوادوال موپه لاډېر مظلومیت کې شپې ورځې تیری کړي. سره له دې چې د امریکا ولسمشر بارك اوباما د افغانستان لپاره خپله ستراتیژي په مکمله توګه اعلان کړې خو په دې وروستیو کې داسې ډېرې څرګندوني د ده او د امریکا د نورو چارواکیو له خولې خپرې شوې چې د افغانستان لپاره د امریکا د راغلې ستراتیژۍ اصلي ټکي ترې څرګندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه تر ټولو مهمه خبره چې کيږی داده چې په افغانستان کې لس داسې سيمې به ساتي چې ګڼ نفوس ولري او له نور هيواده به خپله لمن ورنغاړي، د دې لسو سيمو او يا ولايتونو انتخاب هم د امريکايي چاروکيو له خولې هغه ولايتونه دي چې په اصطلاح واليان يې د دوی د مرستې او ملاتړ وړتيا ولري، دا به پريږدو چې وړتيا اصلاً په کوم مفهوم ده که ژوند باقی و دا به وروسته څيړو. د ځينو سياسي کارپوهانو په اند د کونړ له کامديش او د هلمند له ځينو سيمو نه د دوی د پوځونو وتل دهمدې پلان لومړني عملي ګامونه دي.

همدغسې د بارك اوباما د ستراتيژی بل ټکی د بګرام هډه ده چې يو لوی زندان هم د **60 مليون ډالرو** په لګښت پکې جوړ شوی او دا به د ګوانتانامو پر ځای د سيمې د ټولو بنديانو د ساتنې ځای وي. پخوا داسې خبرونه خپاره شوي وو چې افغانستان د امريکا په سياسي نقشه کې د سيمې د کنټرول او اداري د مرکز په توګه ښودل شوی دی او په سيمه کې به د دوی د اداري مرکز بګرام وي. له تير يوه يوه نيم کال راهيسې د بګرام د پراخولو لپاره ډير جدي کارونه شوي چې د شاو خوا اوسيدونکيو د جبري کوچولو خبرونه هم په نړيوالو رسنيو کې خپاره شوي دي. اوس پوښتنه داده چې د افغانستان د ولس او دولت حيثيت او رول په دې نقشه کې څه شی دی؟ آيا له افغانستان سره د ستراتيژيکو تعهدونو معنا همدغه وه چې ځينو د دې اړيکو په اړه وار دمخه خوشحالی کولی . آيا د لسو امنيتي مرکزونو او د بګرام يوه لوی زندان معنا دا نه ده چې نورهم په افغانستان کی دجنګ اوجګړی لمن پراخه شي په هيواد کې کور پر کور بايد جنازې اوچتې او جومات پر جومات د ماتم ټغرونه غوړيدلي وي؟

آيا افغان ولس د نړيوالې ټولنې دومره نامردي زغملی شي؟ او آيا د هغوی نوي استخدام شوي نوکران ولس ته د نړيوالې ټولنې د داسې سپك چلن ځواب لري؟[1]

---

[1] مشعل www.mshal.com ليکنه رحمت اله روان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پلچرخي دزندان د زندانیانو حالت :



د چارواکو په خبره د څرخي پله په زندان کې دا مهال د لسګونو ښځو په ګډون نږدې اوه زره تنه بنديان دي.
د دی لپاره چی موضوع ډیره اوږده او ټوله یوی خواته نشی فقط یوه دیوی ستونزی یادونه دنمونی په ډول کوؤ چی هغه هم روغتیایی ستونزه ده : د کابل په څرخي پله زندان کې سلګونه بندیان وایی، چې د ډېرو نورو ناخوالو ترڅنګ له جدي روغتیایی ستونزو سره هم مخامخ دي.
له دې بندیانو څخه یو شمیر يې په ټیلیفون ازادئ راډیو ته وویل، چې په زندان کې روغتیایی کلینک شته خو ډاکټران کم دي او درمل هم ټیټ کیفیت لري.

"په زندانونو کې کاملا روغتیايي اسانیتاوې د عامې روغتیا وزارت په غاړه دي، ولې له ۳۴ زندانونو څخه يې یواځې ۱۹ تر پوښښ لاندې راوستلي دي، هغه هم په ناقص ډول او پاتې ۱۵ يې تر اوسه هم تر روغتیایي پوښښ لاندې نه دي راغلي."

د عامې روغتیا وزارت هم دا تاییدوي، چې په څرخي پله زندان کې روغتیايي خدمتونه ډیر کمزوري دي.
د عامې روغتیا وزیرې ډاکټر ثریا دليل ازادئ راډیو ته ویلی، چې د دې وزارت په کلنی بودجه کې د زندانونو لپاره ځانګړی تخصیص نشته، دې څرګنده کړی چې د څرخي پله زندان ته اوس هم ډاکټران خدمتي استول شوي دي:

میرمن دلیل زیاته کړه، چې اوس مهال هر ورځ د څرخي پله زندان ته ۱۴ ډاکټران او نرسان لیږل کیږي، ترڅو د بندیانو د ناروغیو درملنه وکړي.

د کورنیو چارو وزارت چارواکي وایي، د عامې روغتیا وزارت د دې هیواد د۳۴ ولایتونو د زندانونو له ډلې څخه ۱۹ يې تر روغتیایي پوښښ لاندې را وستي دي او په ۱۵ نور زندانونو کې لا هم روغتیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتونو نشته.د افغان چارواکو په خبره اوس مهال د افغانستان په زندانونو کې د کابو شپږ سوو ښځو په ګډون شاوخوا شپږ ويشت زره تنه بنديان دي.

د بشري حقونو نړيوالو سازمانو تل په افغان حکومت انتقادونه کړي، چې زندانونه يې معياري نه دي او بنديان له روغتيايي او نورو راز راز ستونزو سره مخامخ دي.[1]

---

[1]) د آزادی راډيوراپور: رحمت الله افغان - 15.12.1391 .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دکندهار ولايت د زندان دبنديانو حالت :**

**دکندهار دسرپوزی په زندان کی دبنديانو سره دناوړه سلوک او شکنجه په اړه چه دخارجيانو لـه لوری تـــــر ســــــره شــــــوی دی پــــــه يــــــوه راپــــــور کــــــی داســــــی راغلــــــی دی د کندهار د محبس ريس ډګرمن عبدالله باور کنويسټ ورځپاڼي ته ويلي :**

**(( هو، بنديان شکنجه شوي وو، يو شمير يې سخت وهل شوي وو، په ځنځيرانو او د بريښنا په مزو د بنديانو لاسونـه اوپښې تړل شوي وې، يو شمير خو تر دې حد پوري وهل شوي وو چې لاسونـه او پښـې يې مات کړای شوي وو)).**

**ورځپاڼه له ښاغلي بـاور څخـه پـه حوالـه کـاږي چې د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونـو تـر منځ د سرپوزې پـه زندان کې د بندي شاوخوا ۱۱۰۰ تنو څخه نږدې ۱۰۰ تنه يي په فزيکي ډول پـه ډيره بـي رحمـۍ سره شکنجه شوي وو.**

**د کنويسټ ورځپـاڼي هغـه خبريـال چې د سرپوزې د زنـدان لـه ريئس سره يې پـه کنـدهار کـې د همدې محبس په دننه کې مرکه تر سره کړي کاږي چې دا نـاممکنه ده چې څومره هغه بنديان به شکنجه شـوي وي چې په کندهار کې د کاناډايي ځواکونو له خوا افغان دولـت تـه سپارل شوي دي ښـايي دغـه شميرنـه سلګونو تنو ته ورسيږی..**

**کاناډايي ديپلومـات ريچارد کولفين چې په دې ورسـتيو کـې لـه کنـدهار څخـه ليدنـه کړي ده، کانـاډا تـه پـه ستنديو سره د پارلمان دفاعي کميټې ته دوينا پر مهال وويل چې ده داسي شواهد اواسناد تـر لاسـه کړي چې پـه سلګونو هغه بنديان د کنـدهاري چـارواکو لـه خـوا د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونـو تـر منځ شـکنجه شوي چې د کاناډآيي سرتيرو له خوا له طالبانو سره د همکاری پـه تـور نيـول شـوي ول او وروسـته بيـا کندهاريو چارواکو ته سپارل شوي ول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي باور وويل چې ډيرى شکنجه شوي بنديان هغه کسان دي چې د کاناډايي ځواکونو لـه خـوا افغـان دولت ته نه دي سپارل شوي بلکه هغه بنديان دي چې د زندان بل اړخ ته له عمده سياسي طالب بنـديانو لري ساتل کيږي.

د کندهار د سرپوزې زندان دغه صادق لفظه زندان مشر ښايي د ښاغلي کولفين د هغو څرګندونو څخـه پوره خبر نـه وي چې پـه کانـاډا کې يې غوغا رامنځ تـه کړي ده او ښـايي د سرپوزې پـه زنـدان کې د زنـــدانيانو شــــکنجه کانـــاډا تــــه لويـــه نړيوالـــه ســـتونزه رامـــنځ تـــه کـــړي. ډګرمن باور له ۲۰۰۵ کال را پدې خوا تر هغه مهالـه پـوري د کنـدهار پـه زنـدان کې د يـوه ټيټ پوړي مامور په توګه کار کاوه چې د کندهار پر زندان د طالبانو له خوا بريد وشو او وروسته بيا د زندان مشر عبدالقادر پوپل د حکومت له خوا له دندې ګوښه کړاى شو او پر ځاى يې ډګرمن بـاور د زنـدان مشر پـه توګه وټاکل شو.

د سرپوزې د زنـدان اوسنى مشر ښـاغلى بـاور وايـي: د زنـدان پخـواني مشر ښـاغلي پوپـل لـه کانـاډايي سرتيرو سره راشه درشه لرله، تل به مـو ليدل چې کانـاډآيي سرتيري د هغـه دفتـر تـه ځـي راځـي خـو د هغوي د خبرو په جزياتو نـه يم خبر.

ښاغلى باور د کاناډايي ديپلومات لـه هغو څرګنـدونو سره ورتـه څرګنـدوني لـري چې وايـې د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونو تر منځ د کاناډايي ځواکونو له خوا نيول شوي ډيرى هغه بنـديان چـــې افغـــان حکومت ته په کندهار کې سپارل شوي ول بې ګناه او عادي افغانان ... پاى.[1]

---

[1]) www.mshal.com ليکنه: رحمت اله روان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دهلمند ولایت د بندیانو حالت :**

**ددی لپاره چی موضوع مو ډیر پراخه نشی دهلمند محبس د زندانیانو دحالت څخه په لنډ ډول دیوه مشکل یادونه په دی ډول کوؤ اونوری ستونزی به یی په ځای پریږدو څکه دغه حالت د نورو ترجمانی کوی.**

**<u>د هلمند دبندیانو لمونځ هم مفت نه دی:</u>**

**په دې وروستیو کې یوځل بیا دامریکایانو او دکابل رژیم په زندانونو کې دبندیانو اعتراضونه راپورته شوي ، چې کله ناکله خویې رسنیو ته هم لاره موندلې ، که له یوې خوا دګوانتانامو په امریکایي زندان کې دبندیانو لخوا دقرآن کریم په ننګ پیل شوی دلوږې اعتصاب په دوهمه میاشت واوښت ، تردې چې ډیری بندیان دکوما حالت ته ورسیدل او سورصلیب له دې زندان څخه بیرنی کتنې ته اړ شو، له بلې خوا دبګرام دزندان د څلورنیم زره بې ګناه بندیانو برخلیک لاهم څرګند نه دی ، او دکابل او امریکا چارواکو ترې دخپلو سیاسي تبلیغاتي ګټو لپاره دقمار دانه جوړه کړې ، چې هر لوری هڅه کوي ددې څلورنیم زره بې ګناه انسانانو له برخلیک څخه دخپل ځواک او پرستیز دنمایش لپاره استفاده وکړي .**

**د بګرام زندان چې دکابل درژیم دخپل اقرار او پلټنې له مخې یې مطلق اکثریت محبوسین عام ،بې غرضه ولسي وګړي دي ، او د ډیرو کورنیو ټول نارینه په کې زنداني شوي دي ، لا یې هم دزندانیانو دخلاصون په برخه کې کوم اقدام نه دی شوی ، او بده یې لا داچې دکرزي حکومت غواړي ددې بې ګناه انسانانو له برخلیک څخه دخپلو سیاسي ګټو لپاره استفاده وکړي .**

**په دې وروستیو کې یو بل زندان چې دبندیانو غږ یې مطبوعاتو ته راوتلی دهلمند دلښکرګاه زندان دی ، چې ویل کیږي ، دمحبوسینو د ژوند شرائط یې خورا سخت او ظالمانه دي .**

**داپریل په لومړۍ نیټه دلښکرګاه په زندان کې دیوشمیر بندي افغانانو خپلوانو مطبوعاتو ته شکایت وکړ ، چې که چیرې ددوی دمحبوسو خپلوانو غږ وانه وریدل شي ، او دژوند انساني ماحول ورته برابر نه شي دوی به په اعتراضیه لاریونونو پیل وکړي .**


**دبندیانو خپلوانو وویل چې دلښکرګاه محبس له زندانیانو سره چارواکي خورا ظالمانه او وحشیانه چلند کوي ، په سنګینو سزاګانو ، شکنجو او دایمي کوټه قلفۍ سربیره یوبله لویه ستونزه داده چې له بندیانو څخه دهرشي په مقابل کې پیسې اخیستل کیږي ، تردې چې داوداسه او ښناک اوبه هم په پیسو پرې خرڅیږي ، او دلمانځه اجازه هم د پیسو په مقابل کې ورکول کیږي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لښکرګاه دزندان محبوسين وايي ، کـه زنـدانيان وغواړي لـه کوټې قلفې څخـه يوه شيبه ازاد شي يا دلمانځه يا بل ضرورت لپاره له يوه ځايه بل ته لاړ شي ، بايد دزندان عسکرو تـه رشوت ورکړي ، دوی وايي دزندانيانو څخه پيسې شکول، اوس دعسکرو عادت ګرځيدلی او همدا دګټې وټې ښه سرچينه ورته ښکاري .**

**د لښکرګاه زندانيان او خپلوان يې له چاروواکو دا نه غواړي چې دوی ازاد کړي ، دوی وايي زندانيانو ته دې يوازې دانساني ژوند فرصت ورکړل شي او داسې شرائط دې نه پرې کيښودل کيږي چې دزندانيانو په وس پـوره نـه وي ، دوی وايـي لږترلـږه لـه زنـدانيانو څخـه بايد داوداسـه ، لمانځـه نـورو دينـي احکـامو او انسـاني اړتيـاوو پـه مقابل کې پيسې وانه خيستل شي .**



**بايد ووايو چې يو مياشت وړاندې هم يوځل دلښکرګاه پـه زنـدان کې بنـديانو دچـارواکو دنـاروا کړنـو لـه املـه اعتـراض پيـل کـړی وو ، او دزندان ساتونکي پوليس او نور عمله يې يرغمل کړي وو چې تر څلور ورځې يرغمل وروسته يې دچارواکو لخوا دژوند دشرايطو دسمون دوعدو ورکولو وروسته ازاد کړل ، خواوس بنـديان شـکايت لـري ، چې چـاروواکي پـه خپلـو وعده پايدار نـه دي پاتـه شـوي او يوځل بيـا يـې دبنديانو په مقابل کې ظالمانه چلند ته ملاتړلې .**

**دانساني عرف له مخې دمظلومو بنديانو سره دښمني او ورسره ظالمانـه چلنـد ترټولـو سـتره نـامردي بلـل کيږي ، له همدې امله خو حتی دنړی ترټولو ظالم او کفري حکومتونـه هم بنديانو تـه پـه انسـاني حقوقو قائل دي ، ښايي تراوسه داسې چيرې نـه وي پيښ شـوي ، چې لـه بنـديانو څخـه دلمانځـه او اوداسـه پـه مقابل کې هم رشوت اخيستل شوی وي .**

**خود کرزي رژيم چې له سره ترپښو په رشوت او فساد کې غرق دی ، له دې نامردانه کړنو يې معلوميږي چې اوس يې رشوت لـه ورځنيو چـارو څخـه عبـاداتو تـه هم سرايت کـړی ، او نـور بـه لـه خلکـو څخـه ددينې احکامو په مقابل کې هم پيسې اخلي .[1]**

---

[1] *www.nunn.asia/index.php/ بـــرخه: مقـــالی او تبصرې، 02 Apr 2013 ليکوال: قاري حبيب کــتنې: 324*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دنورستان ولايت د زندان حالت:**

**سره له دې چې په نورستان ولايت کې د بنديانو شمير ډېر نه دی، خو شته هغه يې په خورا بد حالت کې ساتل کيږي.**

**د نورستان په مرکز پـارون کـې اوس لـه لسو کم زنـدانيان پـه هغـه خونـه کـې پراتـه دي چـې پخـوا پـه کـې څاروي ساتل کېدل.**

**زندانيان خبرې نه کوي خو د بشري حقونو له فعالانو د اشارو په ژبه د زندان د حالت بدلون غواړي.**

**د زندان پر دغه ناوړه اکر سرببېره اوس پو ښتنه دا ده چې دا دومره لوی ولايت او ايله لس بنديان؟**

**د نورستان له والي تميم نورستاني په دې اړه وپوښتل شول، چې جرمونه نه کيږي، کـه ځـايي اداره يـې د رانيولو وس نه لري.**

**ښاغلی تميم وايي، ځکه د بنديانو شمير لږ دی چې د ده په وينـا ډېـرې شـخړې پـه دوديـز ډول د جرګـو لـه لارې حل کيږي خو دا هم وايي چې په ولايت کې څارنوالان نه شته چې دوسيې وڅېړي:**

**"ټولې لويې پيښـې چـې پـه نورسـتان کـې رامـنځ تـه کيږي د قـومي خلکـو او شـوراګانو پـه مرسـته ددينـي عالمانو په شته والي کې هواريږي.**

**"د نورستان والي وايي که يې زندان لرلای، ښايي تر اوسني شمير ډېر کسان د قانون منګولو تـه سـپارل شوي وای."**

**داسې نه ده چې خلک طالبانو ته ورځي او هلته خپلې پرېکړې کـوي، پـه هـر کلـي کـې شـوراګانې شـته او هلته خپلې لويې او ورې شخړې هواروي.**

**د وژنو په څير له پيښو يې يو څه ولايت ته راځي، دلته حل کيږي او محکمې ته ځي.اما يوه ستونزه چې ورسره مخامخ يو دا ده چې دلته ور او مسلکي مستنطقين او نـور څـاروالان چې بايد وای، نـه شـته چـې دوسيې وڅيري او محکمې ته يې وليږي. د استيناف څارنوالی ډېر څارنوالان په کابل کې دي".**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورستان والي وايي که يې زندان لرلای، ښايي تر اوسني شمير ډېر کسان د قانون منګولو ته سپارل شوي وای.

ښاغلی تميم وايي له لسو کالو راهيسې د زندان جوړول غواړي، خو تر اوسه يې پر غوښتني غوږ نه دی ګرول شوی:

"لس کاله کيږي چې په نورستان کې مو د زندان د جوړولو وړانديزونه کړي، له عدليې وزارت نه، هغه وخت چې د زندانونو چارې ور تر غاړه وې او د کورنيو چارو له وزارت نه هم، که تاسو زما دفتر وګورئ له شلو ډېر وړانديزونه مو کړي او غوښتي مو دي چې زندان بايد جوړ شي اوس مې هم مکتوب استولی او راته وويل: شوي چې زندان ته له بېلې شوې ځمکې به دا کال دېوال را تاو کړي".

په نورستان کې د زندان د حالت د ښه والي په اړه مې د افغانستان د زندانو له مشر امير محمد جمشيد نه وپوښتل ولې زندانيان د څاروو په کوټه کې ساتل کيږي؟

"د زندانو مشر امير محمد جمشيد وايي خپله دومره پانګه نه لري چې زندان پرې جوړکړي خو وايي کله چې د بنديانو شمير ډېر شي بيا به يې غم وخوري."

د ښاغلي جمشيد ژبه يوه څه زيږه وه او وويل: يې خپله دومره پانګه نه لري چې زندان پرې جوړکړي خو وايي کله چې د بنديانو شمير ډېر شي بيا به يې غم وخوري:

"موږ يوازې همدا کال بنديان لرو تېر کلونه مو نه لرل. موږ هلته زندانونه جوړوو، چې دوه درې سوه بنديان ولرو، موږ بې غوره نه يو، دولت ته مو وړانديزونه کړي، دولت پيسې نه راکوي، نو زه خو يې له جيبه نه شم جوړولی. که بنديان وو نو زندان به ورته جوړ کړو هغه وخت يې زه پيسې بيا نه شم خوړلی".

اوس په ټول نورستان کې شپږ کسه بنديان دي چې پنځه يې په مرکز پارون او يو بل يې د نورګرام په ولسوالۍ دی، له دغو شپږو کسانو يې دوه د وسله وال مخالفت په تور او پاتې نور هغه دي چې په مرکز پارون کې نيول شوي او هغه هم حکومتي مامورين او يا پوليس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې چې د نورستان والي د ځارنوالانو نه شتون د تورنو د نـه نیولو دلیل بـولي، خو نورستانیان وایي په دغه ولایت کې حکومتي واک دومره پراخ نـه دی چې په جنایي او نورو جرمونـو ککړ کسان دې ونیول شي.

د دغه ولایت د جوړښت پېچلتیا هم تر ډېره د دې مخه نیسي، چې خلک ولایت تـه د لویو او وړو پېښو د څېړنو لپاره ورشي، نو غوره ګڼي چې خپلې شخړې په جرګو او یا هم د طالبانو پر محاکمو چې په نورستان کې یې ډېره خاوره تر ولکې لاندې ده، حلوي.

په نورستان هغه مامورین چې کورونه یې لیرې دي د لارو د نه خوندیتوب له امله ډېر وخت دندو تـه نـه ورځي هسې چې د نورستان والي یې پخلی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په عراق کی د جنګی بندیانو اوسنی حالت



لکه څرنګه چی ټولو ته بهتره معلومه ده د عراق په زندانونو کی هم د افغانستان د زندانونو دحالت په څير وحشت روان دی او شپه تر ورځی پوری پکی بد او وحشيانه عملونه سرته رسيږی چی پدی باره کی دنورو عربی هيوادونو د محابسو سره ورته والی پيدا کړی.
دبحرين سياسي فعال د ال خليفه رژيم زندانونه دعراق ابو غريب زندان ته ورته وبلل[1].

دعراق دبشري حقوقو وزير دامريکا په مشرے ايتلافي قواوو څخه غوښتنه کوي چي دامريکايي ځواکونو په ټولو زندانونو کې عراقي بنديان دې دعراق حکومت ته وسپاري ٠

وروسته له دي چي بغداد ته نژدي دابوغريب په زندان کي له بنديانو سره دناوړه چلند نوي عکسونه خپاره شول دعراق دبشري حقوقو وزير زهير الشلبي پرون داغوښتنه وکړه٠

دغه عکسونه چي دوه کاله پخوا اخيستل شوي ، په وروستيو څوورځو کي داستراليا ديو ټلويزيون لخوا خپاره شول ٠ امريکايي ځواکونو ،دابوغريب زندان په شمول دعراق په بيلابيلو زندانونو کي نژدي څوارلس زره بنديان ساتلي دي اکثر دغه کسان په امريکايي او عراقي ځواکونو باندي دبريدونو په ارتباط نيول شوي دي ٠په عراق کي دامريکايي ځواکونو يولوي افسر تورن جنرال ريک لينچ پرون په بغداد کې خبريالانو ته وويل چي دغه عکسونه يواځي ديوے ځانګړي او جلا پيښي دي ٠ ( مونږ دانه وينو چې ددغو عسکونو دخوريدو په نتيجه کي به دعراقيانو دښمني او خصومت زيات شوي وي ، مو نږ داسي څه نه وينو ، خو ديته ښايي پام وشي چي دغه عکسونه دهغو مجرمانه اعمالو دي

---

(1 رادیو آزادی ***http//de.azadiradio.org/ 28.11.1384***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي څوکاله پخوا دبي باکه او سرکشه عسکرو لخوا پرته لـه دي چي قوماندان ورسره موافق شوي وي دي ، او دغو عسکرو ته سزاورکړل شوي ده ) .[1]**

[1]) راديو آزادى *http//de.azadiradio.org/ 28.11.1384*

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیرنه :



لیکنه : عزیزاحمد خوارمل

# په نړی کې همدا اوس څوک اوکوم هیوادونه دي چې انسانی حقونه ترپښنولاندی کوي اوبیا تردغه سرلیک اوددموکراسی ترنامه لاندی نړی یې دګډوډی پرلور روان کړیدی؟

دانسانی احساس پربنسټ اوبیله کوم تبیعض اوتعصب نه که په دی ووویشتمه پیړی کې ددی پرمخ تللی هیوادونوکړني اوترسره شوی چاري چې دنړی دنوروهیوادونو د دولتونو او دهغوي د اولسونوپه وړاندي ترسره کړي اوکوي یې ترنظراومطالعی لاندی یې تیر کړو،نووبه وینوچې ظالمان اونیواکګرڅوک دي ؟

او انسانی حقونه څوک ترپښنولاندی کوي؟ اوبیا تردغه سرلیک اوددموکراسی ترنامه لاندی نړی یې څرنګه دیوی لوی کړکیچ اوګډوډی پرلور روان کړیدی ؟ اوبیا دغه یرغلګرهیوادونه ځانونه په ظاهره توګه څنګه دنړی اودنړیوالو دسوله ایز ژوند، دهوسایی او د آرامی صادق اورښتینی پلویان او دآزادی ،دموکراسی ،قانونیت ،عدالت ،بشری حقونواونورو وګړني چارو مدافعین بولي؟ چې دا اوس مهال بحث اومباحثه ،ځیرنی اومطالعی پردی موضوعات باندی ډېر اړین اوضروری دی اوهمدارنګه ډېردتعجب،حیرانتیااو دخندا وړهم دی .

خو په اوسنی اوننني پرمختللی نړی کې ددی هیوادونو د دولتونو د واکدارانو، چارواکو ،دمشرانو اونظامی ځواکونو کړني او اوسنی سیاستونه د دریمی نړی یادوروسته پاته اودزیمونه ډک هیوادونو د بی ګناه اوخوارو خلکو، اولسونواو ملتونوپه وړاندی په ډېرواضح اوروښانه ډول سره لیدلای شو چې دغه ځواکمن اوښکیلاکګرهیوادونه په څه ډول،په کومومیتودونو اوپه کوموتاکتیکونوسره غیرانسانی،ظالمانه او اجبارانه اعمال اوکړني دخپلو استراتیژیکوموخواوپلان شوی اهدافودپلی کولواودترسره کولو اودخپلوګټو، دتیلو، ګازو او د انرژیو دلاسته راوړلودپاره څومره فجایعي (ویني تویونی ،وژني ،بربادي او وراني )یې رامنځته کړی او رامنځته کوي یې .

موږعملآ دتلویزنونو اونورو تولیزورسنیوله لاری موهم ولیدل اوهم ولوستل چې دخپلواکو، آزادو اومستقیلو هیوادونو په زرګونی شمیر بی ګناه انسانان ،خلک او اولسونه دیرغلګرو اونیواکګرو په وحشیانه بریدونوکي دالوتکو،تانکونواوتوپونوتربمبونو،مرمیواوګولیولاندی په عراق اوافغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دخپلو کورونو او د اوسیدوپه ځایونوکښې څرنګه په وحشیانه ډول سره تر خښتو اودیوالونـو لانـدی پـه خپلووینـوکې ځنګـه ولمبیـدل اولمبیـږی، ووژل شـول او وژل کیـږی ،شـهیدان شـول اوشـهیدان کیـږی اودغـه ډول ظالمانـه اودتیری نـه ډک یرغلونـه هره ورځ دیرغلګروهیوادونـو دتور تـاریخ پـه پاڼوکښـې انځوریږی اوثبتیږی چې ښه بیلګی یې دانسانی حقونو تامینیدل اوپرځای کول دلتـه دمحکومـو اوتربند لاندی بندیانو اومحبوسونو سره دغه ډول چار چلند ته چې په دی انځورونوکښې لیدل کیږی ښه نمونـه ،اومثال یې دی چې دامپریالستی هیوادونو لخوا ددموکراسی اوټولنیز عدالت تامیندل اودبشری حقونـو او د دموکراتیکواصـولو ،موازینواوپرنسـپونو پیژنـدل پــه څــه ډول اوپــه څــه شــان دی ، لعنــت دی وی دامپریالسـتی اوښکیلاکګروهیوادونوپردغسـی کړنـو بانـدی چې دوروسته پاتـه هیوادونـو دبیوزلـو اوجګړی ځپلو اولسونو اوپرګنوپه وړاندی په ډیرظالمانه ،وحشیانه اوغیر انسانی ډول سره یې ترسره کوي .**

**، کـه ددی امپریالسـتی اوښکیلاکګروهیوادونوترسـره شـوی کړنـی چې دنـړی پـه هرګـوټ کـې یـې پـه نظامیګری اودوسلوپه زوریې ترسره کړی، نو د دوی دغه تورتاریخی کړنی په ښکاره توګه دا راته سل په سلوکښې څرګندوی چې دغه د دموکراسی اودانسـانی حقونـو نارښتینی اودرواغجن پلویـان دوي خپلـه څـومره جنایتونـه یـې کـړی اوهـره ورځ څـومره جنایتونـه ترسـره کـوی ،اوهغـه څـه چې دوی یـې ادعـا کوی هغه یې څومره نقض اوتر پښولاندی کړی دي .**

**مـوږ د یوشـمیر نړیوالوسـازمانونو ګزارشـونه اومسـتند خبـری اوانځورونـه دنړیوالورسنیواویوشـمیر تلویزونونو له طریقه ولیدل چې یـوازی دکیوبـا دګوانتنـامو، دعراق دابوغریب اودافغانستان د بګرام پـه جیلونواوتوقیف ځایونوکښـې دیرغلګرو او نیواکګروچارچلند داسیرانو اوتـر بندلانـدی دیوشـمیر تورنـو کسانوسـره چـې ترسـره شـویدی ترانـدازه زیـات غیرانسـانی اوغیربشـری اوددموکراسـی اودموکراتیکواصولو پرضد دهر ډول حقوقی موازینواوپرنسپونوڅخه خلاف چارچلند او کړنـي دی . کـه لاندنی انځورونو ته یوځل ځیر سو نوترسره سوی کړنی به پـه رښـتینی اوبربنـده توګـه راتـه ښـکاره اوجوتـه سی چې دا نیواکګر،استعمارګر اوښـکیلاکګرهیوادونـه چی په سرکې یې دامریکـا متحــده ایــالاتو امپریــالیزم دمحکومــواوجګړی ځپلوانسـانانوپه وړانـدی یـې څـومره پـه وحشـت او لوټمـاری سره غیر انسانی اوغیر بشری اعمال اوکړنـي یې ترسره کړیدی اوترسره کوی یې.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



داخولا پرځای پرېږدی په ډېر سپین سترګې په ښکاره اوپه بربنډه توګه سره دنورو هیوادونوپه سیاسی چاروکې مداخلی اولاسوهنی کړی دی اوکوی یې دیکتاتوری نظامونه یې دکودتاو د لاری رامنځته کړی ،حتی دنړی دهرګوټ څخه دخلکوکشول په پټوځایونوکښې په بند اواسارت کې ددوی ساتل ،ترشکنجواووهلوټکولو لاندی راوستل چې دغه مسایل ټول هغه منفی پدیدی دی چې نړی یې د ډېرو پرابلمونو اوخطرناکو حوادثو اوکړکیچونوسره مخامخ کړی او خصوصاً ددریمی نړی یا وروسته پاته هیوادو نه یې د ډېرسخت خطر ،ټکراوګواښ سره مخامخ کړی اوستر تشنج یې په نړیواله کچه رامنځته کړی دی چې یوهم دافغانستان دخوارو اومحکوموخلکو د لا زوررونو اوترټلو دپاره په افغانستان کې د متحده ایالاتو دامپریالیزم نیواکګر اوښکیلاکګر میشته ځواکونوپه غیر انسانی کړنو سره د ګوانتنامو د خلیج د بندیخانې پرځای د یوې سیمه ییزې ګوانتناموپه ډول دبل یوی نوی بندیخانی اومحبس جوړه ول دی چې غواړی د کابل ښارشمال ته د بګرام په هوایي ډګر کې جوړ کړی چې ددی خبری په اوریدلوسره دافغانستان ټول شریف ،متدین ،مظلوم اومسلمان خلک ددی نوي محبس د جوړولوله امله ډېر خوابدی اوپه غصه کړی دی .

څومیاشتی مخکې یو امریکایي پوځي ویاند یوشمیر رسنیوته ویلی ووچې : د ګوانتنامو د خلیج د بندیانو د ځای پر ځای کولو دپاره د یوې نوې بندیخاني د جوړه ولو په اړوند دیو دا ډول محبس اودجیلخانی دجـــوړه ولــــوپلان تــــرلاس لانـــــدی هیڅکلــــه هــــم نشــــته .
مګربل امریکایی چاروا‌کی د کابل شمال ته د بګرام په هوایي ډګر کې د ګډ غبرګون د(۱۰۱) دیوسلویوی قطعي ویاندې، ډګروال رومي نیلسن ګرین بیا دخبریالانو د پوښتنوپه ځواب کې وویله : «بلی په بګرام کې جیلخانه اوبندیخانه جوړېږی،مګر دا هسې نه ده، چې دا به دوهمه ګوانتنامو وي.دا بیخي ناسمه ده».

اوپه همدې توګه نیلسن ګرین دافغانستان او د امریکا د بشري حقونو د کمیسونونو هغه ګزارشونه اورپوټونه چې دبګرام دمحبسونواوبندیانوپه هکله دامریکی دپوځونو دچارچلند په اړه یې رپوټ ورکړی وو اوپه همدی ډول سره چې په دی جیلخانی کې دافغان بندیانوپه وړاندی بد چلندترسره شوی دی ،اود بګرام په اوسنی بندیخاني کې د نهو کلونو په عمردرلودلوسره کوچني هلکان ددوي په جیلخانه کښې پـــه بنـــدکي ســـاتل کیـــږي، ده دغـــه تورونـــه یـــې ونـــه منـــل اوردیـــې کـــړل،
هغـی ویلـه وه: «دا بیخـي ناسـمه خبـره ده. د بګـرام پـه (بنـدیخانې) کـې کوچنیـان نـه سـته »
نیلسن ګرین وایی، چې په نوې بندیخانې کې به «په افغانستان کې د ازادی د تداوم د عملیاتود لارې نه د دښمن څه ناڅه تر ۱۶ کالو پورته عمر لرونکي ناقانونه جنګیالي به وساتل شي» .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا دهغه ماشومانو انځورونه دی چې دبګرام په جیل کښې شپې او ورځې سبا کوی د بشری د حقونو دسازمان داستازی په وینا،( ۹ - ۱۳ ) کلنو پوری یی عمرونه دی.

د امریکایی پوځیانود خوا د لسو تنوڅخه زیات ماشومان چې د نهو کلنوڅخه تر ۱۳ کلنوپوری یی عمرونه دی په څو وروستیو کلونو کې په جیل کې ساتل کیږي.

په دی ماشومانو باندی هیڅ ډول تور ندی لګول شوي خودبند ډیر سخت شپې او ورځې لیری دخپلو کورنیو او خپلوانوڅخه په بی ګناهی کې دبګرام په جیل کښې تیره وی.

د افغانستان د بشر د حقونو داداری استازی خبری رسنیوته ویلي وو، دا امکان نلری چې ماشومان دی تروریستي یا امریکایي ضد فعالیتونه وکړي. که په رښتیا سره ماشومان په جرم اوجنایت لاس پوری کوی او وروسته تریوښتنواوګرویژنومجرم اوګناهکارپیژندل کیږی اوپه بند محکومیږی نو په دی صورت کې ماشون و یوی ځانګړی روزنیز ځای ته لیږل کیږی او په واقعی ډول سره باید د جزایی قانون دموادو پر بنسټ یواځی مجرمین جزا وويني، خو بدبختانه ایتلافي ځواکونه د دی قانون څخه سرغړونه کوي او غیرمجرم ماشومان یی هم په جیل کښې اچولی دي .

دامریکا ددفاع وزارت پنتاګون بیاددی نوی ګوانتنامو دجوړه ولوپه اړه دروان کال دمی د میاشتې په نیمایي کې اعلان وکړ چې د بګرام د مخ په ناوړه کیدونکي بندیخانې پرځای به یو بل نوی جیل (محبس) دبګرام دهوایي ډګر په(۴۰) څلویښت هکتاره ځمکه کې د(۶۰) دشپتوملیونو امریکایي ډالرو په لګښت جوړ کړي .

د نیویارك ټایمز د یو رپوټ له مخې په دی نوي محبس کې به تر (۱۱۰۰) یوزروسلوتنوپورې بندیان ساتل کیدای شی او امریکایی نظامی چارواکی په دی هکله وایي چې ددی بندیخانی د ظرفیت د لوړه ولو اړتیا د دې امله رامنځته کیږي، ترڅو د هیواد په سویل کې د طالبانو په وړاندې د مخ په زیاتیدونکې خونړۍ جګړې دبندیانو د ساتلو دپاره ځای پیدا شي.

ددې خبر په اورېدوسره ډېر شمیرافغانان چې خپل هیواد اوخپل خلک اواولسونه وربانڈی ګران دی کلک یې په غصه کړی او خپه شوي دی . د ډېرو خلکو په اند د بګرام بندیخانه د بند، شکنجې دافغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غـــــــرور دمـــــــــاتولو اودانســـــــــانانود ســــــــپكاوى يـــــــــو انځـــــــــور دى .**

**پـه ۲۰۰۲ كـال كـې دوه تنـه بنـديان د بگرام پـه بنديخانـه كـې مـړه شـول. چـې يـو يـې د(لاور) نوميدى او وروسته بيا په پراخه توگه د «ټكسي دتيارې په لور » تر سرليك لاندې مستند خبري موضوع هم ورنـه جـوړ شـو؛ خـداى بخښـلى دلاورد طالبـانو د ملاتـړ پـه تـور نيـول شـوى وو او دگزارشـونو او د رپوټونـو پربنسـټ پــه بنـد كــې لــه دوو وروځــو وروســته د وهلــو، ټكولــو اوبــدنى شــكنجو دكبلــه ووژل شــو. د هغې نـه وروسته پـه سلگونو نـور بنديان د بگرام څخـه د گوانتـامو د خليج بنديخاني تـه وليږل سول دبگرام جيلخانـه د كيوبا لـه بنديخانې نـه ډېر نـاوړه دى؛ يو ځيرونكي، چې د بگرام لـه بنـديخانى څخـه يـې د**



**يو شمير خوشې شوو بنديانو سره مركې كړې وو، هغه ديوشمير ژورنالستانودپوښتنوپه ځواب كې ويلى وو، هغوى ادعا كوله، چې د لومړنيو پلټنو په ترڅ كې يې سپكاوى شوى، وهل شوى، ټكول شوي، لوڅ لغړ شوي او له زينو څخه غورځول شوي دي.**

**حقيقـت خـودا دى، چـې پـه افغانسـتان كـې تـل د بنـديانو سـره غير انساني سلوک سوى دى؛ په بل ډول ، د بنديانو مدني او انساني حقونو ته هيڅكله هم پام نه دى سوى.**

**د افغانستان زندانونـه هيڅ وخت هم د بنديانو د اصلاح كولو دپاره نـه وو جوړسوى ، بلكې بنديان هلتـه د ځپلو او سپكاوي په موخه ساتل كيدل، چې دا مشكل يوازې د افغانستان د زندانونو نه بلكې په ټوله دريمه نړۍ او وروسته پاته هيوادونو لكه (عراق) كښې همدا وضع جاري ده . هلته زندانددې لپاره نـه دى، چــې جنايتكــاران اومجــرمين دى پـــه كښــې كــې اصــلاح ســي، بلكــې د دريمــې نــړۍ جليونــه د شكنجې، كړاوونو، او عذاب وركولو، گواښونو اودروحيى اوبدنى زورونو مركزونه دي .**

**مگر د بگرام د زندان ځانگړنتيا پـه دې كې دى،چې هلتـه افغان بنـديان د امريكـايي عسـكرو تـر ضربې لاندې دي،ټكول كيږي اوسپكاوى يې كيږي .دا په داسې حـال كـې دى،چې بگرام كابـل تـه ډېـر نـږدې هم پروت دى .**

**بلخوا، په بگرام كې اكثره بنديان عادي غله او بد كاره خلک نه دي، بلكې هغوى يا د جنگ په ميدان كې نيول شوي دي او يا امريكايي عسكرو پـه زور او ظلم لـه خپلو كورونـو او كليو څخـه برمتـه كړي دي. دهغوى لوى جرم دا دى، چې پـه افغانستان كـې د امريكـايي قـواو اونظاميـانو د شتون سره موافق نـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، اوهمدارنګه يوشمير يې دخپل منځي قومي بديو او اختلافاتو دکبله دنوروخلکود ناسمه اوغلطو راپورونو پربنسټ د امريکايي عسکرو په منګولو کې را ايسار شوي دي.

همدارنګه په خوست کې يې پر بنديانو باندې جنسي تيرى ترسره سويدى ،د بټي کوټ څخه بګرام ته د يوې ښځې بيول، اود وژل شوو طالبانو جسدونه ته اور اچول ، د ابو غريب ګوانتنامو او دبګرام دزندانو کيسې اوداستانونه خو تيوله نړۍ يې هك پك کړي دي ، او د بشري حقونو پر دعوه ګير رژيمونو باندې تو لعنت وايي ،اوپه نتيجه کښې دغه نيواکګر ځواکونه دداهسي کړنو په کولو سره د ځآن په وړاندې خلك او اولسونه راپاروي .


FARS NEWS AGENCY

که دغه غيرانساني کړنى چې دامريکايي نظاميانو،افسرانواوجنرالانو دخوا په نورو اولسونوترسره کيږى ،اود امريکا د حکومت غوښتنه نه وي نو ولې خپلو عسکرو،صاحب منصبانواونظامى چاروا‌کو ته دسيمي د کلتوري او مذهبي حساسيتونو په هکله نه وايى اويا په دى هکله زده کړه نه ورکوى، او يا د پيښې عاملين سم له لاسه نه مجازات کوي، دا خو هغه پيښې دي چې ددوى خپلو مطبوعاتو رسوا کړي او خلك ورباندې خبردي ،خداى خبر چې دې ته ورته څومره نورجنايتونه به يې پټ ساتلى وي .

په همدى ډول که د کرزي صاحب خبرى اوخواستى دامريکا دهيواد پرچاوراکو باندى نه منل کيږى نوداڅه موده مخکې يې ولې ددوى سره د اوږد مهاله استراتيژيکي همکاري اعلان يې وکړ، که دمحترم کرزى صاحب خبرى پر دوى تاثير نلرى نو کرزى صاحب ته لازمه ده چې ځان ددى مسؤليتونوڅخه کوښه کړى او يا دې د داسې پېښښو د مخنيوي نه خپله عاجزي څرګنده کړي، چې ټول اولس پوه شي، چې زموږ دولتى واک شته او که نه نسته ؟ او زموږ په هيواد اوپه دولت کښې هرڅه چې يرغلګره قواوى وغواړى هغه ترسره کولى سى دېر دشرم اوتاسف ځاى دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عراق په ابو ُغريب زنـدان کـې چې د انسانيت د ذليلولـو کـوم شرمیدلي کارونـه اوچـارې چـې تـر سـره شوې  هغه ننني متمدني اوپرمختللي نړۍ په خپلو سترګو يې وليدل  ،پر زندانيانو  په داسې حـال کـې چې



جـامي يـې ورڅخـه ايستلي دي ظلمونـه اوشـکنجه کيـږي، هغوی يو پر  بل سربيره پرتـه  لـه کـاليو پـه زور غځول شـوي، پـه ځينـو انځورونـو کښـې داسـې ښـکاري چـې د عراقي زنداني پر مخ باندې کڅوړه ور واچول شوې  او ښځينه امريکايي پوځياني ورباندې ظلمونه کوي، په دغو انځورونو کې تر ټو لو زيات هيبت نـاك  تصوير د يوې امريکايي ښځينه پوځي دی؛ چې د يو عراقي زنداني پرغاړه کې رسی اچوي او پرځمکه يې لوڅ راکشوی.

اويوه بله امريکـايي سربازه پـه داسې حـال کـې ليدل کيږي  چې دچړې پـه وسيله ديوعراقی بنـدی پښـه ورڅيرې او دامخامخ کمرې ته خاندی؟؟



پـه دغـه انځـور کښې  همدغـه  ښـځينه امريکـايي پـوځۍ د لوڅـو



عراقـي بنـديانو تـر شـا ولاړه ده او د دوو ګوتـو په اوچتولو سره دبرياو نښه جوړوي او  خپله کاميـابي خلکو تـه ښيي. بل ځـای همدا ښـځينه پوځۍ د  هغه عراقي ترڅنګ ولاړه ده  چـې د دوی د زيـات ظلـم څخـه مـړ شـوی دی، او د دې خونکارې  امريکـايي ميرمينـې ځيره لـه خوشحالۍ څخه سرۀ او سـپينه کيـږي، دا دی د امپريالسـتانو، نظـاميګرو او زبـر ځواکو هيوادونو انسانی حقوق ،عدالت او انسانانوته آزادی اودموکراسی ؟؟......

همدارنګه د يو څه  موده مخکې خبره دی چې يوازې د عراق پـه يو ښار کښې د يـوې  هفتـې پـه اوږدو کښې امريکايي يرغلګرځواکونو تر  څلورسوه ديرش (۴۳۰) تنه زيات انسانان له منځـه يوړل اوشـهيدان يې کړل د بصرې په ښار کې دوه سوه لس (۲۱۰) تنـه بی ګنـاه عراقيـان  لـه منځـه ولاړل اود  شپږسوو (۶۰۰) تنونه زيات ټپيان شول ايتلافي ځواکونـو د بغداد ښـار پـه بمبـاردولو سره  (۴۱۰)څلورسوه لس کسان يې د منځه يوړل....

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې يوه ورځ به نه وي چې په عراق اوګران افغانستان کې په لس هاوو انسانان د امريکايانو د ظلم ښکار نه شي، همدا وجه ده چې تر اوسه په عراق کې د امريکايي وحشت دښکار شويو افرادو شميره تر يوميليون ورواوښتی د دوومیلیونـه او اوه اويا( ۷۷۰۰۰ ۲۰ )زره زيات کسان بې کوره شوي دي، لـه شل( ۲۰ )لکـه زيات کسان لـه زيات شمير ستونزو سره لاس او ګريوان دي او لـه درې( ۳ )لکو زيات کسان د څښلو د پاکو اوبو لـه نشتوالی سره مخ دي، اوپـه زرهاو کسان ګاونډيو هيوادونـو تـه هجرت کولو ته مجبور شوي دي.

پــــدې مانـــــا چـــــې دغــــه تولـــــه اتـــــه میلیونـــــه وګـــــړي دی چـــــې دهغه امريکايانو دظلم او وحشت له امله چې دوی يې د صدام حسين د ظلم اواستبداد څخـه ژغورل ،نن د ژوند د لومړنيو اسانتياوو څخه بې برخې دي . اياد ګوانتنامو انځور ننني متمدني او پرمختللي نړۍ پـه خپلو سترګو ليدلی دی ؟؟ نوولی په دی هکله چوپه خولی دی ؟؟.

ددی مسلی پـه هکلـه يـوازی د امريکـی د نيويـارک تـايمز ورځپـانی دتير کـال دسمبر پـه نولسـمه نيټـه وليکل چې په کيوبا کې د ګوانتنامو په نامه د امريکی د سمندری ځواکونو په اډه کې اتو بنديانو ويلی دی چه د ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۰٤ کال پوری، امريکی په افغانستان کی يو پټ زندان جوړ کړی دی ۰ همدارنګـه پـه افغانستان کـې د امريکـايی ځواکونـو ويانـد د نيويـارک تـايمز ورځپـانی د خبريـالانو سره د مرکی په ترڅ کې د دغی مسئلې په باب هيڅ تبصره و نه کړه.

خو د افغانستان د استخباراتو ارګان د منځنيو او ټيټو رتبو مامورينو په خبره ، اوس پـه افغانستان کـې د امريکی څو پټ زندانونه هم شته ، خو لوړ ربته مامورين دوی منع کوی چې په دې هکله څه ووايي .

د ګوانتنامو په زندان کې بنديانو ويلـی چې پـه افغانستان کـې د امريکـی يو پټ زنـدان شـته د خبرونـو لـه مخې د کيوبا له ګوانتنامو نـه درې تنه بنديان کله چې کابل ته را ورسيدل، وی ويل چې د دغو بنـديانو لـه جملی نه يو هم پنځه اتيا (۸۵) کلن او بل يې د (۱۰۰)سلو کلونو نه اوښتی وو.

دوی دافغانستان د ولس مشر سره هم ليده کاته کړي وه ،او ښاغلي کرزي هر يوه تـه پنځـه ويشت زره افغانۍ ..... ... مرسته وکړ چې دغه افغانی هغه وخت دپنځه سوو(۵۰۰) ډالرو سره برابر وو، تر خپلو کليو پورې د لارې لګښت يې ورکړی وو. اود ولس مشر وياند" د دوی له خولې" ويلی وو چې بنديان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوانتنامو څخه له ښنو خاطرو سره راګرځيدلي او ښي غوږې غوړوپي يې نوش جان کړي، چې د هغې لـه امله ښه چاغ او وزن يې خورا ډېر ښه شوی دی، دا لا نوری ملنډی دی .

که انسان واقعآ د ګوانتنامو اوسپنيزقفسونه او پنجرې انځورونه يې، په سترګو د تلويزون پر پرده بانـدی اوډول ډول تصويرونه اوګزارشونه يې ليدلې وي د هغوی زړونـو تـه بـه پـه ګرانـه د دغو بنديانو د ښـو خـاطرو او چاغښت خبره ورولوېږي، د همدې ځايـه ده چې هرومرو ووايـو تـاريخی واقعيتونـه څرنکـه کتمان ايږی .

دانسانی حقونو دنړيوال سازمان دګزارش پربنسټ چې ليکلی يې دی داسی وايـی: «ساتونکو بنديانو تـه ويلي شوی وو، « تاسو اوس په افغانستان کي نه ياستي ،څه چې زموږ زړه وغواړي هغه پرتاسو بانـدې همدلته عملی اوترسره کوو يي » ،دانسانی حقونونړيوال سازمان استازی په خپل ګزارش کې وايی ټول مرکـــه شـــوي بنـــديان پـــه پـــاي کـــې پـــه کـــوم جـــرم محکـــوم نشـــول .
په همدی ډول د سره صليب نړيوالي کميټه هم په دی هکله (په بګرام کې دبنديانوپه وړاندی دامريکايی ځواکونـو دچار چلندپـه موردکي ) ډېرې ګوتـه ونيونی يې کړی دی اوتـل يې ټينګار کـړی ،چې ولـې د افغانســتان د بشـري حقونــو کميســون تــه د بنــديانو ســره د ليـدنې اجـازه نــه ورکـول کيـږي .
د سږکال دجون د مياشتې په دوهمه نيټه د افغانستان د بشري حقونو کميسون يو ګزارش اورپوټ خپور کړ او په دی ګزارش کښې يي ادعا وکړه، چې د نـهو او ديارلسو کلونـو پـه عمراوسن سال سره لس تنـه افغان کوچنيان په بګرام کې بنديان دي.

اوهمدارنکـه امريکـايی چـارواکو د ملګرو ملتونـو د ماشومانو د حقونـو کميسـون تـه د متحده ايـالاتو د حکومت د ۲۰۰۸ کال د می د مياشتې په يو رپوټ کې دايي منلي چې دلږوعمرلرونکی تنکي ځوانـان پـه بګرام کې بنديان دي.

خو د متحده ايالاتو ښکيلاکګراونيواکګرځواکونه پـه پرلـه پسې توګـه د دې رښتينی اوواقعی غيروکړنـی اوغيرانســـانی اعمالو،کړنواوچـــارو څخـــه يـــې انکـــارکړی نـــه يـــې منـــی اوانکـــار کـــوي.
پـه بګـرام کـې دمحـبس دجوړېدلوپـه برخـه کـې دافغانسـتان د عـدليي چـارودوزارت پـه ګـډون څـه ناڅـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبرګونونه رامنځته کړي دي؛ که څه هم دا کړنه اوعمل د افغانستان د قوانینو له مخې ځمکه چاته نه شي ورکول کېدی. هیڅ هیواد دلته دجیلخانی د جوړولو حق نه لري. یو کس (افغان) مجرم هم بهرنیانو ته په لاس کې نه سي ورکول کېدای ، د بګرام دا محبس نه یوازې دافغانستان د اساسي قانون څخه سرغړونه دي، بلکې د موجوده حکومت قانوني واک اواقتدار هم تر پوښتنې لاندې راوستي دی؛د افغانستان ددولت چــــاروواکو هـــــم پـــــه دی موضـــــوع بانــــدې د تبصـــــرې کولــــو څخـــــه ډډه کړیـــــدی . خبری رسنیی اومطبوعات هم په دی هکله غوږونه کاڼه اچولی دی خولی یی هم تړلی دی په دی هکله یوازی د ارادې ورځپاڼې په دی ډول لیکلی دی : دا زندان د افغانستان او متحده ایالاتو تر منځ به یولوی خنډ رامنځته کړي، د ارادې ورځپاڼې لیکلی : «حکومت به دا په رسمي ډول ونه وایي، خو دا موضوع د افغانستان او د امریکا د متحده ایالاتو د لوړ پوړو چاروواکو تر منځ راپورته شوې دی؛ دې موضوع ددې دواړو هیوادونــــو تــــرمنځ د بـــې بـــــاوری فضــــا رامنځتــــه کــــړې ده . »

ارده لیکی : دا زندان به په عمومي توګه د بهرنیانو او په ځانګړې توګه د امریکا د موجودیت په وړاندې دغـــه رامنځتـــه شـــوی خوابـــدتیا او خپګـــان بـــه لانـــورهم پســـې ژور کـــړي، اودا کـــار به یو منفي تولنیز او رواني اغیز ولري، له یوې خوا دا کار بـه د افغانـانو او حکومت ترمنځ خړې پړې اړیکې لاپسې خرابې کړي، له بلې خوا به مخالفینو ته وسله په لاس کې ورکړي، چې خلکو ته به ووایي، هو کې، ستاسو مقاومت عادلانه دی، امریکاد تل دپاره دلته پاتې دی، افغان دولت یو ګوډاګی حکومت دی،کرکـــه او نفـــرت بـــه لا پســـې زور واخلـــي، چـــې (اوس) د زیاتیـــدو پـــه حـــال کـــې دي .»

په همدی ډول د افغانستان د بشري حقونو دکمیسون مشرتابه هم وایی ، چې په بګرام کې دنوی جیلخانی اودمحبس جوړول دبشري حقونو سره مقابلـه کول دي، د افغان بندیانو لیدلو تـه د افغانستان د بشري حقونو د کارکوونکو اواستازو نه پرېښودلو بې باوري لا پسې زیاتـه کړې ده ، د بګرام څخه د راخوشې شوو بندیانو حالت اندېښنه لا پسې زیاته کړې ده، اوموږ ډاډمن یو چې په دې نوې ګوانتنامو کې بـه موږ دتیروخت په څیر د بندیانو حالت ونه شو څارلای.

د بګرام څخه د راخوشې شوو په سلو کې (٪۹۰) نوي فیصده بندیان رواني ستونزې لـري، یو څو تنو یي د بدن غړي لـه لاسـه ورکړي، موږ نـه یـوازې دا بندیخانـه، بلکې د افغانستان پـه ټولـو ځـایونو کې بنـــــدیخاني او د امریکایـــــانو پـــــه لاس جـــــوړ شـــــوي توقـــــف ځایونـــــه غنـــــدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوي محبس د جوړولو په اړه عام غبرګون هم منفي دی ، خلک وایی روسان هم په افغانستان کې و، خو شخصي زندانونه يي نه لرل، هغوی کوچنيان نه بنديانول او له بنديانو سره يي دا راز نارواچلند نه کاوه، چې امريکايان يي ورسره کوي.

زما په اندهرومرو ضروری اواړین به وی چې دهرشخص، دهر واکدار، دهرهیواد دځواکمنانوپرغیر انسانی اوغیر بشری کړنی دی په تاریخي لحاظ دی څیړنی وسوی ،او محترم تاریخی لیکوونکی دحق اوعدالت رښتینی پلویان اوهغه کسان چې په خپل تولنه کښې وتولنیزمسؤولیتونو ته درناوی لری اوخپله انسانی دنده یې بولی نودغه دول حقیقتونه اوریالستتیک تاریخی واقعیتونه یوپه بل پسی راڅرګنده او رابربنډه یې کړی اوخپل ایمانی اووجدانی ټولنیز او اولسی مسؤولیتونه اوستری دندی دخپلومحکومواوتر ظلم اوستم لاندی شریفواومتدینو خلکوپه وړاندی په زړه ورتوب اومیړانی سره په عملی توګه سپارل شوی ټولنیز اوهیوادنی وظایف بیان کړی وی ولیکلی او ترسره کړی. [1]

---

1) **Www. Ariaye.com** *عزيز احمد يارمل.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پــایلـــه

له دې لیکنې نه مونږ دا پایله یانتیجه اخیستلی شو چې د بشریت په ټول تاریخ کې د انسانانو تر منځ همیشه شخړې او جګړې واقع شوي او واقع کیږی چې په ترڅ کې همیشه انسانان وژل شوي او بندیان شوي اوداسې نوروډول ډول حالاتوسره مخ کیږی په پخوا وختونو کې د هغه کسانو سره چې په جګړه کې به د خپل دښمن لخوانیول کیدل بده رویه کیده او هغوی ته د خطرناکومجریمینو په سترګه کتل کیدل.

خو نږی ته د اسلام د مبارک دین په راتګ سره ددې ډول بندیانو په حالت کې تغیر راغی هغوی ته په زیاتره مواردو کې د مجازاتو ورکول لغوه شول اوځانګړي حقوق یې ورته وټاکل همدارنګه د اسلام د مبارک دین د اصولوپه آساس دا افراد یعني جنګي بندیان د مجریمینواو نوروعادي وګړونه تفکیک شول.

خو په غیر اسلامي ټولنو کې تر ډیره وخته لکه څرنګه چې په مجموع کې د حقوق جزا وضعه خرابه وه د جنګي بندیانو وضعه او حالت هم د نو رو عادي بندیانو او مجریمینو په شان ښه نه وً، چې تل به د خپلو دښمنانو له خوا د سختو مجازاتو سره مخ کیدل خو په معاصرو پیړیو کې د ځینو روښن فکرانو په هڅه او کوشش د جنګي بندیانو د وضعي دښه والی لپاره یو شمیر سازمانونه او ټولنې رامنځته شوي چې بلآخره ددې ټولو هلو ځلو په نتیجه کې د نړی د یو شمیر هیوادونو تر منځ خاصتاً له دوهمې نړیوالې جګړې نه وروسته ځینې تړونونه لاس لیک شول او په هغه کې د جنګي بندیانو لپاره خاص شرائط او حقوق وټاکل شول، همدارنګه دهغو جنایت کارانو دمحاکمې لپاره چې جنګي بندیان یې وژلي او له هغوی سره یې بد چلند کړی وو نړیوالې جنائي محکمې تشکیل شوي چې د هغوله جملې نه د توکیو او نورمبرګ محکمې چې د جاپان او آلمان جنګي جنایتکاران پکې محاکمه شول اوبل د(رواندا اوپخوانی یوګوسلاویا) محکمې چې دهمدې هیوادونو یوشمیر جنګی جنایتکاران یې محاکمه کړل اوبل د(عدالت نړیواله) محکمه چې دامهال هم فعاله ده او مقر یې دهالند په پلازمینه هاګ کې قرار لري رامنځته شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولکه ځرنګه چې پوهېږو په نړیواله سطحه داسې یو باصلاحیته اجرایوي ارګان یا مرجع نـه شته چې واک او صلاحیت یي له دولتونو نـه زیات وي (مافوق الدول وي) تر څو نړیوال قوانین او تړونونـه پـه دولتونو په زور تطبیق کړي ځکه هر څوک چې اوس په نړۍ کې د جنګي بندیانو حقوق نـه ورکوي او نړیوال قوانین تر پښو لاندې کوي هغه د یو شمیر دولتونو رهبران دي او تر څو چه هغه په واک کې وي نو دعدالت نړیواله محکمه هم دومره توان نـه لري او یا خو نـه غواړي چې دا جنایتکاران محکمې تـه راکش کړي .البته دایادونه باید وکړو چې هغه جنګي جنایتکاران چې تر اوسه دې محکمو محاکمـه کړي لکه: د جاپان، آلمان او یوګوسلاویا جنګي جنایتکاران هغه پـه حقیقت کې هغه څوک وو چې د نړۍ د زبرځواکو هیوادونو مخالفین او له قدرت نه راپرځول شوي وو، خو د نړۍ یو شمیر قوي هیوادونه لکه: روسیه ،امریکا او اسرایل اوس هم هغه نړیوال قوانین او تړونونـه چې په خپله یې لاسلیک کړي تـر پښـو لاندې کوي.جنګي بندیانو تـه هیڅ حقوق نه ورکوي او لـه هغوی سره خپل ظالمانـه او بد چلند تـه ادامـه ورکوي خو د نړۍ د بشري حقوقو علمبرداران او د عدالت دنړیوالی محکمې (هاګ محکمې) چـارواکي ورتـه رنـه رنه ګوري .

ومن الله التوفیق
نقیب الله (وردګ))
۱۳۹۲/۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځليکونه

1. قرآنکريم .
2. ابراهيمی، محمد، اسلام و حقوق بين الملل عمومی، چاپ اول، تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت)، ۱۳۷۷ هـ ش.
3. ارفعی، عاليه، ومحمود مسائلی. جنګ وصلح ازديګاه حقوق و روابط بين الملل، چاپ دوم، تهران: وزارت امورخارجه مؤسسه چاپ و انتشارات، ۱۳۷۳هـ ش.
4. انوری ، حميد رضاملک محمد. مفاهيم تعليق مخاصمات و حالت نه جنګ نه صلح در حقوق بين الملل، چاپ اول، تهران: مطبعه انتشارات، ۱۳۷۰هـ ش.
5. بروجردی، محمد رضاګودرزی ، ترجمه اوتحقيق تاريخچه زندان، جمعی از پژوهشګران ليکنه : نشرميزان۲۰۸ تهران کتابخانه ملی آيران.
6. خمينی، عباس هدايتی. شوری امنيت وجنګ تحميلی عراق عليه جمهوری اسلامی ايران، چاپ اول، تهران : وزارت امور خارجه، ۱۳۷۹هـ ش.
7. عبدالباقی، مصباح الله، افغانستان پس از يازدهم سپتامبر، مترجم – عبدالقيوم فخری، چاپ اول، کابل: مرکز پخش وپروش انتشارات رسالت، ۱۳۸۵هـ ش.
8. قرار دادهای بين المللی ژنو مورخ ۱۲، سال ۱۹۴۹م، چاپ اول، کابل: کميټه بين المللی صليب سورخ، ۱۳۸۴هـ ش.
9. قندهاری، محمد نادر ايوبی. حقوق، چاپ اول، لاهور: اکرم پريس لاهور، ۱۴۲۷هـ ش.
10. ګوتمن، روی. اناکاتالدی او جيلس پريس. جنګی جرمونه، ژباړونکي: نظام الدين کتوازی او جلات خان حکمتی، دوهم چاپ، کابل: کليد ګروپ ۲۰۰۷م.
11. مبارکپوری، صفی الرحمن، الرحيق المختوم (سپيڅلی نبوی سيرت)، ژباړونکی: جانباز سرفراز، دريم چاپ، پيبنور: محله جنګی پشاور، ۲۰۰۸م.
12. مهال خبری ويبپانه ، د افغانستان لپاره د مطبوعاتی اواری او ملاتړ اداره . کابل ـ افغانستان

(1 Www. Ariaye.com.

(2 Www.Larawbar.com.

(3 Www. Ariaye.com.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**